إن الحكم إلا لله

# اسلام
# او
# سیاست

استاد سیاف

اسلام او سیاست
استاد سیاف

إِن الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ

# اســـلام

# او

# سیاســت

اســتاد ســیاف

## د کتاب مشخصات :

دکتاب نـــوم : اسلام او سیاست

لیــکـــوال : استاد عبدرب الرسول «سیاف»

دچــاپ نیتیه : د ۱۳۸۰ لمریز کال ، وږی

د چاپ شمیر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ ځــل : لومړی

د چاپ حق محفوظ دی

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

## د مطالبو فهرست


| عنوانونه | د صفحې نمبر |
| --- | --- |
| مقدمه | الف |
| د اسلام تعریف | ۱ |
| عامه او تامه او منطقي تسلیمي | ۱۱ |
| تاریخي شواهد | ۱۸ |
| نقلي دلایل | ۲۳ |
| اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی | ۲۸ |
| د اسلام عمومیت | ۳۷ |
| یوازې اسلام غوره دین او یوازې الله برحق معبود دی | ۴۶ |
| د پیغمبرانو دعوت | ۴۹ |
| د جن او انس د خلقت هدف | ۵۴ |
| د دین او سیاست پر بېلتون د (اعتقاد) عوامل | ۶۶ |
| سیاست د دین یوه برخه ده | ۷۷ |
| له سیاسته د دین پر جلاوالي د اعتقاد حکم | ۱۰۱ |
| د بشریت د خوښې سیاسي نظام څو مهم ټکي | ۱۰۶ |
| د جماعت لمونځ | ۱۱۰ |
| د جماعت نظام، او دامت د سیاسي نظام تر څنګه د هغه مطالعه | ۱۱۶ |

بسم الله الرّحمن الرّحیم

## مقدمه

**الحمدُ لله ربّ العالمیْن والصّلاةُ والسلامُ علی سیّدِ الأنْبیآء وخاتمُ الْمُرْسلین أما بعْد:**

دین اوسیاست د بشری تیولنی په اوږده تاریخ کی د خپل اهمیت او اغیز له نظره پخپلو کی سره تینګ پیوند لری او هیڅ یو نشی کولای په یوازی ځان په دی خاورینه کره کی لوړ اوستر انسانی هدفونه او هیلی ترسره کړی او لالهانده او بی وسی بشریت ته د نجات د ساحل په لور لاره وښیی.

دین او سیاست د تاریخ په اوږدو کی د بشری قومونو او قبیلو تر منځ د ډیری مهمی موضوع په حیث ګڼله شوی او بحث ورباندی شوی دی ، یو شمیر یی د دین او سیسست په جلاوالی ټینګار کړی او یوی برخی هم د دواړو په نژدیوالی تأکید کړی دی ، او دغه ټول انقلابونه او بدلونونه چی د بشر په تاریخ کی رامنځ ته شوی دی په مستقیم او نا مستقیم ډول یی په دی موضوع کی له اختلاف نه سرچینه اخستی ده ، چی په نتیجه کی یی اولسونه له منځه تللی ،

تمدنونه رنګ شوی او نوی تولنی رامنځ ته شوی دی ، کوم بدلونونه چی د یهودو او نصاراو په تمدن کی رامنځ ته شوی یا کوم انقلابونه چی په نژدی وختونو کی په اروپا کی راڅرګند شوی یا کوم تمدن او نوی تولنه چی اسلام د خپل ظهور پر وخت بشر ته ډالی کړی او یا کوم انحطاط چی مسلمانان دا اوس په کی اوسیږی ، دا ټول د دین او سیاست په باب د فکر زیږنده ده ، چی کفار هغه ته په کوم نظر ګوری او مسلمانان یی په کوم نظر ګوری.

په دی کی شک نشته چی د نړی استکباری ځواکونو د دین او سیاست مسأله د ځان په ګټه د بهترینی وسیلی په توګه توجیه او تفسیر کړی ده او له هغی نه یی د اولسونو په ځپلو او تمدنونو په ړنګولو او هیوادونو په استعمار کی ګټه اخستی ده.

اسلامی نړی چی په یو وخت کی یی تولنی ته د خیر رسونی او سوکالی په لار کی د بشر د سیادت ویاړ خپل کړی و او پخپل وار سره د هغوتر شدید فکری او تبلیغاتی تهاجم او حملی لاندی ورغله، او د هغو د ناروا توجیهاتو او حقایقو په سرچپه ښودلو سره د اسلام یوزیات شمیر بچیان د هغوی د باطلو او ناسمو عقایدو او خبرو تر اغیز لاندی راغلل او له دین نه د سیاست د جلاوالی مسألی په پراخه اندازه د اسلامی تولنی په ذهنیت کی داسی ځای ونیو چی ګویا اسلام د تولنی په ښه او بد پوری کار نه لری او دین د جومات د کونج او سیاست د هغه وینی څښونکی او بی رحمه سیاستوال په برخه رسیدلی چی څه ډول یی زړه غواړی هغسی حکومت دی وکړی او څه ډول یی چی زړه غوښتی وی خلک دی خپلی بندګی او عبادت ته راوبولی ، په داسی حال کی چی اسلام یو داسی کامل او هر اړخیز دین دی چی د انسانی ژوندانه پر ټولو اړخونو محیط دی او سیاست د خپل زیربنا یو ضروری رکن ګڼی ، چی اسلامی تولنه نشی کولای له هغه پرته خپل هدف ته ورسیږی او خپلو پیروانو

ته یې په دې لار کې لازمې لارښوونې کړې او ګټور او روښانه فرمانونه یې ورته رااستولي دي.

دغه کتاب چې اوس د لوستونکو په لاس کې دی د هغو بیانیو مجموعه ده چې د محترم ورور نامتو عالم مجاهد شخصیت پوهاند سیاف له خوا په مختلفو مناسبتونو مجاهدینو او مسلمانانو ته اورول شوي او په هغې کې سیاست د اسلام له نظره د نقلي او عقلي دلایلو، د مثالونو په ښودلو او دعقلي او عملي واقعیتونو د بیان په مرسته څیړل شوي او دا یې جوته کړې ده چې دین او سیاست دوه داسې سره نښتي اجزاء دي چې یو د بل له سرشتې پرته خپل هدف ته نه شي رسیدای، هیله ده لوستونکي دا کتاب په غور سره ولولي او د مسلمانانو ذهنونه د پوچو او زهرجنو تبلیغاتو په باب روښانه کړي او ددین او سیاست د جلاوالي غلط فکر یې له سره وباسي او یو ځل بیا مسلمانان خپل له لاسه ورکړي مجد او پرتم ومومي او د ځمکې پر مخ نوي اسلامي ټولنه رامنځ ته کړي.

(وما ذلک علی الله بعزیز)

* * *

بِسْمِ اللّٰه الرَّحْمٰنِ الرَّحيم

**اَلْحَمْدُ لِلّٰه الَّذِيْ هَدانا لِهٰذا وما كُنّا لِنَهْتَدِي لَوْلا اَنْ هَدانا اللّٰهُ والصَّلاةُ والسَّلامُ على خَيْرِ خَلْقِ اللّٰه مُحمَّدٍ عَبْدِهٖ ورَسُوْلِهٖ، وَمَنْ والاهُ، امّا بَعْدُ:**

# داسلام تعریف

**داسلام لغوی مفهوم:** اسلام په لغت کی د تسلیمیدو، تسلیمولو، مخ راگرځولو، انقیاد او غاړی اینبودلو په معنا دی.

**تسلیمیدل او تسلیمول:** د تسلیمیدو او تسلیمولو مفهوم د صٰفٰت سورت په دی آیت کی راغلی دی:

**﴿فَلَمَّا أَسْلَمَا وَتَلَّهُ لِلْجَبِينِ ﴿١٠٣﴾﴾** [الصافات ۱۰۳]

ترجمه: پس کله چی غاړه کینبوده (دواړو حکم د الله ته) او وائی چاوه دغه (اسماعیل) پر تنبی اړخ د ده.

**مخ راگرځول:** د مخ راگرځولو په معنا دلقمان سورت په دی

آیت کی راغلی دی:

﴿ومن يسلم وجهه إلى الله وهو محسن ﴿٢٢﴾﴾ [لقمان: ٢٢]

ترجمه: او هر څوک چی وسپاری مخ (ځان) خپل الله ته (او پری تفویض او توکل وکړی) حال دا چی دی نیکو کار وی.

او همدا معنا د آل عمران سورت په یوه آیت کی راغلی ده:

﴿فإن حاجوك فقل أسلمت وجهي لله ﴿٢٠﴾﴾ [آل عمران: ٢٠]

ترجمه: پس که بیا جګړه کوی دا (کفران) له تا سره (له دغو دلائلو وروسته هم) پس ووایه (ای محمده! دوی ته چی) ما خالص تابع کړی دی مخ خپل (یعنی ځان خپل احکامو د) الله ته.

**انقیاد او غاړه ایښودل:** د انقیاد مفهوم د نمل سورت په دی آیت کی راغلی دی:

﴿قالت رب إني ظلمت نفسي وأسلمت مع سليمان لله رب العالمين ﴿٤٤﴾﴾ [النمل: ٤٤]

ترجمه: وویل (بلقیس) ای ربه ځما بیشکه ما ظلم کړی دی پر ځان خپل، او اسلام می راوړی دی سره له سلیمانه خاص (هغه) الله ته چی رب (پالونکی) د عالمیانو دی.

په قرآن کریم کی د اسلام کلمی د لغت له پلوه همدا او تر دی پراخ مفاهیم احتوا کړی دی.

**د اسلام اصطلاحی مفهوم:** اسلام زیات تعریفونه لری چی تر ټولو مهم یی همغه تعریف دی چی پیغمبر صلی الله علیه وسلم د جبرئیل علیه السلام د پوښتنی په ځواب کی وړاندی کړی دی:

۱- عَنْ عُمَرَ بْنِ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: بَيْنَمَا نَحْنُ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ يَومٍ إِذْ طَلَعَ عَلَيْنَا رَجُلٌ شَدِيْدُ بَيَاضِ الثِّيَابِ ... وَأَخبِرْنِي عَنِ الإِسْلاَمِ: « قَالَ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لا إِلَـهَ إِلا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللَّهِ وَتُقِيْمَ الصَّلاَةَ، وَتُؤْتِيَ الزَّكَاةَ،وَتَصُوْمَ رَمَضَانَ، وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيْلاً » . (۱)

ترجمه: له حضرت عمربن الخطاب رضی الله عنه نه (په یوه اوږده حدیث کې) روایت دی چې ویې ویل: کله چې مونږ د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې حضور درلود ، ناڅاپه یو سړی راښکاره شو (زمونږ مجلس ته داخل شو) چې جامې یې تکې سپینې وې .... جبرئیل علیه السلام وویل: ما ته د اسلام په باب معلومات راکړه ، چې (اسلام له څه نه عبارت دی؟) ویې فرمایل: (اسلام هغه دی چې) شهادت ورکړې چې نشته هیڅ معبود (برحق) مګر الله او دا چې محمد د الله رسول دی او لمونځ وکړې، او زکات ورکړې، او د رمضان د میاشتې روژه ونیسې او د بیت الله حج وکړې که د ورتګ وس یې ولرې.

او لکه د مخه مو چې ورته اشاره وکړه دا تعریف، د اسلام په ټولو تعریفونو کې له خاص اهمیت نه برخمن دی ، د دې مطلب توضیح به وروسته راشي او اوس د دې لپاره چې د اسلام تعریف او پېژندنه د لوستونکي ذهن ته نښه لار وکړي څو نور تعریفونه به هم وړاندې کړو چې پورتنی تعریف هم په خپله غېږه کې رانغاړي.

۲ـ اسلام له هغه نظام، قانون، مقرراتو او د ژوندانه له لاروچارو نه عبارت دی چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله له لورې د هغه

(۱) صحیح مسلم ج: ۱ ص:۳۷ .

بندګانو ته راوړی او د هغه التزام او پر هغه پابندي د دنيوي او اخروي نيکمرغی په خاطر پر انسانانو لازمه کړای شوی ده، او انسانانو ته د دی اجازه نشته چی په دنيا او آخرت پوری د اړوندو چارو د تنظيم لپاره له ځانه قوانين وضع کړی او هر نظام او قانون چی له الله جل جلاله نه پرته د بل چا له لوری د انسان لپاره وضع کيږی، مردود او بی ارزښته دی، لکه چی الله تعالی فرمايی:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٨٥﴾﴾ [آل عمران: ٨٥]

ترجمه: او هر څوک چی غواړی غير له اسلامه (چی توحيد او د الله احکامو ته انقياد دی) بل دين؛ نو له سره به و نه منل شی له ده نه، حال دا چی وی به دی په آخرت کی له زيانکارانو څخه (چی د اسلام د پرينبودلو په سبب به تل په دوزخ کی پاتی کيږی).

٣- اسلام له ټولو هغو تعليماتو او لارښوونو نه عبارت دی چی الله جل جلاله پر پيغمبر صلی الله عليه وسلم نازل کړی دی او د هغو پر تبليغ او خلکو ته په رسونه يی مکلف کړی دی، لکه چی فرمايی:

﴿يا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ ﴿٦٧﴾﴾ [المائدة: ٦٧]

ترجمه: ای رسوله (زما) ورسوه (ته ټول) هغه شی چی نازل کړی شوی دی تا ته له (جانبه د) ربه ستا او که دی و نه رساوه (ټول) نو نه دی رسولی تا هيڅ پيغام د ده او الله ساتی تا له (شره د) خلکو.

په دی توګه اسلام د عقيدی پر احکامو، عباداتو، اخلاقو، معاملاتو،

قصصو، اخبارو او ټولو هغه څه چې د الله جل جلاله له لوري يې د جلي يا خفي وحې په توگه له ځانه سره راوړي مشتمليږي.

۴- اسلام وروستنی آسماني رسالت دی، چې د کامل نعمت او د الله جل جلاله د غوره کړي دين او تر ټولو لوړ نظام په توگه د الله جل جلاله له خوا د انسانانو له پاره د هغه پر وروستي پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم نازل شوی دی او په ده سره د آسماني دين ماڼۍ بشپړه او خپله کامله ښکلا يې سر ته ورسوله او دا دين د قيامت تر قيامه پورې په ډېره ښه او اکمله توگه د انسانانو د چارو د تنظيم صلاحيت او استعداد لري لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلامَ دِيناً ﴿٣﴾﴾ [المائدة: ٣]

ترجمه: نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسې ته دين ستاسې (اصولاً او فروعاً) او تمام (پوره مې کړ پر تاسې اې مؤمنانو!) نعمت خپل (د دين په اکمال) او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهته د دين (ډېر پاکيزه په ټولو اديانو کې).

او همدا راز يې فرمايلي دي:

﴿كَذَلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾﴾ [النحل: ٨١]

ترجمه: هم داسې (چې تير نعمتونه يې تمام کړي دي) پوره کوي نعمت (احسان) خپل پر تاسې د پاره د دې چې تاسې اسلام راوړئ (د الله حکم و منئ).

۵- اسلام د هغه آسماني دين نوم دی چې له نورو سماوي اديانو سره په پرتله کې په يوه قوم يا زمان پورې منحصر نه دی؛ بلکې د الله جل جلاله له

لوری پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم باندی د درست بشریت ، د ټولو انسانانو او ټولو زمانو لپاره نازل شوی دی.

لکه چې الله تعالی فرمایلی دی:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً ﴿٢٨﴾﴾ [سبأ: ٢٨]

ترجمه: او نه ئې لیږلی مونږ ته مګر په دې حال کې چې جامع ئې خلکو ته زیری ورکوونکی (د جنت مؤمنانو ته) او ویروونکی (له دوزخه کفارو ته).

٤ـ خو هغه تعریف چې د اسلام مفهوم یې ښه واضح کړی او له لغوی مفاهیمو سره یې اړیکې په ښه ډول ورښودلی داسې دی:

اسلام د نیا او آخرت پورې اړوندو چارو کې په وګړنیز او ټولنیز ژوندانه کې په ذهني او قلبي توګه د خپلې خوښې له مخې بې له قید او شرطه د عالمیانو پالونکي ته چې د عبادت یوازنی وړ ذات دی له غاړې اېښودلو نه عبارت دی.

غواړم په دې مناسبت له پورتنې آیت سره په ارتباط کې څو آیته لوستونکو ته وړاندې کړم:

الله تعالی د حضرت ابراهیم علیه السلام په شان کې فرمایلی دی:

﴿إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٣١﴾﴾ [البقرة: ١٣١]

ترجمه: او (یاد کړه) کله چې وویل ابراهیم ته رب د ده چې غاړه کېږده (زما احکامو ته) نو وویل (ابراهیم) غاړه مې اېښې ده رب د عالمیانو ته.

دا مبارک آیت د حضرت ابراهیم علیه السلام د قصې تربیان او د بلنې په اړه له قوم سره د هغه تر جدال او د حق په باب یې تر هلو ځلو او د کامل ډاډ لاس ته راوړنې نه وروسته چې په قرآن کریم کې له هغه نه په لنډو الفاظو په «حنیف»

سره تعبیر شوی پخپله پردی دلالت کوی چی د « أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ » جمله او تعبیر ددی وروستی تعریف افاده ده.

لکه چی الله جل جلاله په بل ځای کی فرمایلی دی:

﴿قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَىٰ وَأُمِرْنَا لِنُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٧١﴾﴾ [الأنعام: ٧١]

ترجمه: ووایه (ای محمده! دوی ته) چی بیشکه هدایت د الله (اسلام) هم دا دی هدایت (نه نور)، او امر (حکم) کړی شوی دی مونږ ته چی اسلام راوړو (غاړه کیږدو) رب د تمامو عالمیانو ته.

او همداراز یی فرمایلی دی:

﴿وَأُمِرْتُ أَنْ أُسْلِمَ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٦٦﴾﴾ [غافر: ٦٦]

ترجمه: او امر کړی شوی دی پر ما چی غاړه کیږدم (تابع شم) رب (پالونکی) د (تمامو) عالمیانو ته.

د یونس په سورت کی د نوح علیه السلام د قول نه په حکایت کی فرمایی:

﴿وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾﴾ [یونس: ٧٢]

ترجمه: او امر (حکم) شوی دی ما ته په دی چی اوسم زه له مسلمانانو (راسخو غاړه ایښودونکو څخه الله ته).

ددی تعریف مفهوم او محتوی، خدای تعالی ته د هغه د بی قید او شرطه او مطلقی تسلیمی په ماموریت کی په ډیر څرګند ډول لیدل کیږی.

لکه چی الله جل جلاله د قرآن کریم په بل ځای کی فرمایلی دی:

﴿كَذَلِكَ يُتِمُّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تُسْلِمُونَ ﴿٨١﴾﴾ [النحل: ٨١]

ترجـمـه: هم داسي (چي تيـر نعـمتـونه يې تمام كړي دي) پوره كـوي نعـمت (احسـان) خـپل پر تاسي دپاره ددې چي تاسي اسـلام راوړئ (د الله حكم ومنئ).

د نعمت اتمام او د هغې كمال، د كاملې او شاملې تسليمي باعث كيږي او دا آيت پخپل وار سره، د وروستي تعريف مفهوم رسوي.

او الله جلت عظمتـه د انعام په سورت كي خپل محبوب پيغمبر ته په خطاب كي فرمايي:

﴿قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٦٢﴾ لَا شَرِيكَ لَهُ وَبِذَلِكَ أُمِرْتُ وَأَنَا أَوَّلُ الْمُسْلِمِينَ ﴿١٦٣﴾﴾ [الأنعام: ١٦٢ - ١٦٣]

ترجـمـه: ووايه (اى مـحـمـده! دوى ته) بيـشـكه لمونځ زمـا، (حج) او قرباني زما او (طاعـتونه د) ژوندون زما او مرگ زما خاص الله لره دي چي پالونكي د ټولو عالميانو (د جهان) دى نشته هيڅ شريك ده لره (په دغو ټولو عبادتونو كي) او په هم دي (توحيد) امر (حكم) كړى شوى دى ما ته او زه اول د مسلمانانو (الله ته غاړې ايښودونكو) شخه يم.

او په دې توگـه اسلام د انسـان د ټولو اعمـالو او كړو وړو سره ددنيـا او آخرت په اړونـدو چارو كي الله جل جـلاله ته د مطلقي تسليـمي په مـعنا دى، گويا لكه چي دغه وروستي تعريف له همدې مبارك آيته اخستل شوى وي.

كه چيري پروردگار جل جلاله ته د انسـان تسليمي په خپله خوښه نه وي بلكي د اكراه او مجبوريت له مخي وي، هغـه ته مـسلمان او اهل اسـلام نه شـو ويلاى لكه په قلزم درياب كي د ډوبيدو پر وخت د فرعون تسليمي.

الله جل جلاله له هغه نه په حکايت کی فرمايلی دی:

﴿قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لا إِلَهَ إِلاَّ الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٩٠﴾﴾ [يونس: ٩٠]

ترجمه: نو و ويل (فرعون) چی ايمان راوړ ما په دی چی بيشکه نشته هيڅ بر حق معبود مگر يواځی هغه ذات دی چی ايمان راوړی دی پر هغه بنی اسرائيلو او زه يم له مسلمانانو (غاړه ايښودونکو حکم د الله ته).

او الله تعالی د قرآن کريم په بل ځای کی فرمايلی دی:

﴿فَإِلَهُكُمْ إِلَهٌ وَاحِدٌ فَلَهُ أَسْلِمُوا وَبَشِّرِ الْمُخْبِتِينَ ﴿٣٤﴾﴾ [الحج: ٣٤]

ترجمه: پس حق معبود ستاسی (او د پخوانيو امتونو) الله حق معبود يو دی پس خاص هم ده ته غاړه کيږدئ! او زيری ورکړه عاجزی کوونکو ته.

په دی مبارک آيت کی د ( أَسْلِمُوا ) کلمه يوه او لا شريک خدای جل جلاله ته يی له قيد او شرطه د غاړی ايښودلو په معنا ده او ( الْمُخْبِتِينَ ) کلمه له تواضع او غاړی ايښودلو سره يو ځای د اطاعت په معنا ده.

او د احزاب په سورت کی فرمايی:

﴿وَلَمَّا رَأَى الْمُؤْمِنُونَ الأَحْزَابَ قَالُوا هَذَا مَا وَعَدَنَا اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَصَدَقَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ وَمَا زَادَهُمْ إِلاَّ إِيمَانًا وَتَسْلِيمًا ﴿٢٢﴾﴾ [الأحزاب: ٢٢]

ترجمه: او کله چی وليدلی مؤمنانو لښکری (د کفارو) نو و ويل (مؤمنانو) دا هغه دی چی وعده کړی ده له موږ سره الله او رسول د دغه (الله د نصرت) او رښتيا ويلی و والله او رسول د دغه ( الله په وعده کی) او زيات نه کړ دغو (لښکرو د کفارو) مؤمنانو ته مگر ايمان او تسليم (احکامو د الله ته).

او همدا راز يی فرمايلی دی:

﴿فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُوا فِي أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُوا تَسْلِيمًا ﴿٦٥﴾﴾ [النساء: ٦٥]

ترجمه: پس قسم دی په رب ستا چی نه مؤمنان کیږی دوی تر هغه پوری چی حَکَم (منصف) کړی دوی تا په هغه جګړه کی چی پیښه شوی ده په منځ د دوی کی بیا ونه مومی دوی په نفسونو (زړونو) خپلو کی خپګان (تنګی، ناراضی) له هغه شی چی حکم (فیصله) کړی وه تا او (ویی) منی دوی په منلو سره «بی له جګړی په خوښی سره».

دا آیت مونږ ته راښیی چی دا تسلیمی کاملاً په خپله خوښه او بی قید او شرطه وی، د دی لپاره چی د: ﴿ لا يجدوا في أنفسهم حرجا مما قضيت ﴾ جملی معنا قلبی رضا او رغبت او «تَسْلِيْمًا» چی مطلق مفعول واقع وی دی په سلوکی د سلو او په عام او تامه معنا د تسلیمی پر مفهوم د تأکید افاده کوی.

* * *

# عـــامه اوتـــامه او منطقی تسلیمی

عقل او منطق هم دا ایجابوی چی بنده باید بی له قید او شرطه د الله تعالی امر ته تسلیم شی او په کوم څه چی الله جل جلاله حکم کړی دی پرته له ځنډ او پرته له تعلل او پلمو د هغه په عملی کولو اقدام وشی ، که مو لیدلی وی کله چی یو عسکر د جنګ په جبهه کی د غلیم په لاس اسیر شی ، که څه هم چی له زړه نه په دی تسلیمی خوښ نه دی او په دی هم پوهیږی چی مرګ او ژوند یی د الله په لاس او اراده کی دی او دښمن هغه ته څه زیان نه شی رسولای؛ خو بیا هم هغه د اسبابو په دنیا کی له مرګه ویریږی ، کله چی ورته وویل شی چی وسله دی پر ځمکه کښیږده! سمدلاسه او پرته له هغه دغه یی پر ځمکه ږدی ، او که ورته وویل شی چی لاس ونه دی پورته کړه! د حکم پیروی کوی ، او که ورته وویل شی چی کښینه! کښینی او که ورته وویل شی ځه! ځی او دهیڅ یوه کار په اجرا کی هم چی د دښمن له خوا ورته حکم کیږی ، ځنډ نه کوی ، لوی الله جل جلاله د ځمکی او آسمانونو او ټولی هستی خالق دی ، مرګ او ژوند ، عزت او ذلت ټول د هغه په لاس کی دی ، نو کله چی انسان هغه ته خپله

تسليمي اعلانوي ، عقل او منطق ايجابوي چي الله جل جلاله ته دا تسليمي بي له قيد او شرطه ، عامه تامه او په خوښه وي ، رسول الله صلى الله عليه وسلم په دي باب فرمايلي دي:

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لا إِلَهَ إِلا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّداً رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ. فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ، عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلا بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ » . (۱)

ترجمه: او له ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دي چي د خداي پيغمبر صلى الله عليه وسلم وفرمايل: مامور شوي يم ( د الله له لوري ) پر دي چي د خلکو (کافرانو) پر خلاف وجنگيږم ، تر هغي چي شاهدي ورکړي پر دي چي نشته هيڅ بر حق معبود مگر الله او دا چي محمد د خداي استازي دي او لمونځونه وکړي او زکات ورکړي، کله يي چي دا سي وکړل ويې ساتل له ما نه ويني خپلي او مالونه خپل مگر د اسلام په حق (يعني کوم حق چي اسلام وربا ندي وضع کړي دي د هغو په باب عملي کيږي ) او حساب ( د ضميرونو يي ) پر الله تعالى دي .

د دي الهي اوامرو په اړه دلوستونکي پام جاري عرف او دخلکو د ژوندانه ورځني تعامل او د عقل او منطق غوښتنو ته را اړوم او وايم چي: کله چي بازار ته ولاړ شي او څه شي په بيه واخلي نو هغه لاندي باندي کوي چي پوه شي دا مال په کوم شرکت يا هيواد کي جوړ شوي دي؛ د بيلگي په توگه کله چي د ميوي د اوبو ايستلو ماشين واخلي او هغه له ځانه سره کورته راوړي د هغه د

---

(۱) متفق عليه .

استعمال د طریقي په باب له خلکو نه پوښتنه کوي چي دا څه ډول استعماليږي او احتمالي خطرونه په کي کوم دي ؟ او په دي توگه د هغه په ټولو جزئياتو او اشارو ځان بلدوي او يا کـه وغـواړي چي د جامـو د پريمنځلو مـاشـين پـه بيـه واخلي نو له دکاندار ه يي د استعمال طريقه ،د بريښنا اندازه چي په هغي کي استعماليږي او يا يي د ټولو مـشخصـاتو پـه بـاره کي پوښتنه کوي او د مغازي خاوند له مـاشـين سره يو ځاى لارښوده كتـابچـه دركوي او دا دربښيي چي په هغي کي ټولي لازمي لارښووني شته او د ماشين په باب اړوندو پوښتنو ته ځواب ويل شـوي دي چي كـولاى شي له هغي نـه پـه استـفـادى سـره لـه نومـوړي ماشينه مطلوبه گټه واخلئ.

ښكاره ده چي دا كتـابچـه د دوكاندار يا د مـغازي خاوند نه ده جوړه كړي او نه يي وس لري چي له ځانه يي جوړه كړي بلكي كتابچه د هغه چا په وسيله چي دا مـاشـين يي جوړ كړي دي او له ټولو جزئـيـاتو نـه يي خبر دي ، جوړيږي . كه څوك ووايي چي ولي دكاندار يا هغـه څوک چي دا متاع يي اخستي ده دا كـتـلاک نـه جـوړوي ؟ سـاده ځـواب بـه يي همـدا وي چي هغـه ددي مـاشـين پـه مشخصاتو ، ظرفيت ، مقاومت او نورو خصوصياتو نه پوهيږي، چي لارښوده كتابچـه ورتـه جوړه كړي، بنا ءً دد غسي يو كار پـه ترسره كـولو كي معذور دي او د ماشين پيرونكي يوازي د هغي لارښودي كتـابچي په مرسته چي د ماشين د مـختـرع پـه واسطـه جوړه شـوي ده ځـان د مـاشـين د اسـتـعـمـال او لـه هغـه نـه د استفادي په لارو چارو پوهوي او گټه تري اخلي.

په همـدي توگـه كـه چيـري يـو انجنيـر يوه ودانـي يا يو پل طرح او ډيزاين كوي د ودانـي يا پله د ستنو ( پايو ) مقاومت چي څومره وزن پورتـه كـولاى شي سنجوي او د جوړي كړي نقشي سره سم يي جوړوي، يا كه د موټر جوړولو يوه فـابريكه پـه پـام كي ونيسـو د هغي انجنير يي ټول مـشخصـات لـكـه دچيكتـيـا

(سرعت) اعظمي حد، د ماشين گرميدل، دوزن پورته کولو اندازه او نوري اړوندي چاري يي په پام کي نيسـي او موټر جوړوي چي بازار ته د عرضه کولو پر وخت له موټر سره کتلاک او لارښوده کتابچه هم ورکوي چي اخستونکي د هغي له مخي کار تري واخلي .

په دي توگه هر انسان په خپل ورځني ژوند کي د خپل چاپيريال د وسايلو په باب له څلورو اساسي پوښتنو سره مخامخ کيږي او دا څلور پوښتني له عقل او منطق سره سمي او ضروري دي:

**لومړي دا چي:** دا وسايل حتماً چا جوړ کړي دي .

**دويم دا چي:** دا وسايل بايد کتلاک او لارښوده کتابچه ولري چي له هغي پرته به تري گټه اخستنه گرانه او ښايي د هغي د خرابي لامل (باعث) شي او کيداي شي ډير ځله د وژلو خطر ولري.

**دريم دا چي:** دا کتلاک يا لارښوده کتابچه د هغه چا په وسيله جوړه شوي ده چي د همغه څيز مخترع دي او له ټولو مشخصاتو سره يي پوره بلد دي، دا چي نور يي له خصوصياتو سره بلد نه دي ؛ ځکه خو نشي کولاي چي کتلاک جوړ کړي .

**څلورم دا چي:** استعمالوونکي بايد د ماشين د لارښودي کتابچي سره سم ، دقيق عمل وکړي؛ ځکه پرته له هغي به د ماشين د خرابي لامل شي؛ د بيلگي په توگه کـه چيري د برېښنا وسايل، په ځانگړي توگه د برېښنا د مزي ترميم په پام کي ونيول شي ، د ترميم پر وخت يي لومړني ورکړي لارښووني دا دي چي د برېښنا بهير (جريان) بايد تم کړاي شي ، او که نه د ترميموونکي د مرگ باعث به شي په همدي توگه هر يو په ورځني ژوندانه کي د ډيرو بيلگو او پيښو عيني شاهدان يو ، چي د څلورمي برخي د نه رعايت له امله پيښيږي .

اوس په داسي حال کي چي د ټولني هر غړی د خپل چاپيريال د شيزونو په باب پورتني شلور خبري ضروري گڼي ، او دی ته چمتو نه دی چي يوه شيبه په کي تردد وښيي چي دا شيزونه به پخپله پيدا شوي وي او د کوم صانع يا توليدوونکي لاس به په کي اغيز نه لري او که شوک د غسي خبره وکړي پر ته له دي چي شان مسخره کړي آيا بل شواب به ولري ؟ کله چي انسان ددغه عقل او درک له مخي چي لري يي د خپل چاپيريال د شيزونو په باب شلور پورتني خبري تاييد وي ، او د يوي متاع د اخستني پر وخت هغه ښکته او پورته کوي چي پوه شي دا مال کومي کمپني يا کوم هيواد جوړ کړی دی؛ نو آيا يوه شيبه يي هم فکر کړی دی چي د هستـی دا لويه دنيا ، دا وريشي ، باد او باران ، سپوږمۍ او ستوري د کال فصلونه ، يخني او گرمي او د نړۍ ټولي ښکارندي (پديدی) چا پيدا کړي دي او ايا ددي عجيبو مخلوقاتو او ددي عجيب او دقيق نظام تر شا کوم صانع او خالق موجود دی او که نه ؟

هو! د انسان عقل يي نه مني چي ډير وړوکي او بي اهميته شيز دی هم پرته له کوم صانع نه منځ ته راشي ، او باور لري چي د ژرندي پل له اوبو پرته نه گرشي؛ نو اوس بي عقل چير ته دي چي د هستي ددي پراخ او دقيق نظام په باب فکر وکړي ، او په آسمانو او شمکه کي د الهي خلقت عجيبي پديدي وگوري ، او بيا د هستي پر خالق ايمان راوړي! آيا د هغه عقل د هغو شيزونو په ليدلو چي پخپله يي جوړ کړي فعاليږي ؟او په هغه شه کي چي الله تعالی پيدا کړي له کاره لويږي ؟ عجيبه ده زما په فکر کـه چيری لـه خره نه چي په بي شعورۍ شهرت لري ( او شيني خلک د غوسي په وخت کي کم عقلو انسانانو ته هم وايي چي: خر يي نه پوهيږي) پوښتنه شوي وای چي دا وسايل او دا ماشينونه چي د بيلگي په توگه مو د هغو نومونه واخستل بايد جوړوونکي او توليدوونکي ولري او انسانان ، لمر او سپوږمۍ يي ونه لري؛د ژرندي شرخ بايد

د اوبو په وسیله وګرځي او شپه او ورځ باید پخپله وګرځي، بنایي کم شعوره خره هم که یې ژبه درلودای خندلي وای او پرنجیدلای وای او ددې خبرې کوونکی باندې یې د احمق ګومان کړی وای او د هغه حماقت یې د سر په پورته کولو او هنګیدولو سره اعلان کړی وای!

اوس ددې لنډو دلایلو له مخې، عقل او منطق ته په خطاب او د ژوندانه د ورځنیو چارو په پام کې نیولو سره که هر کافر او له خدایه منکر ته ووایې چې راځه انسان او د ژوندانه وسایل سره څنګ په څنګ کښېږدو او څلور پورتنی مطالب د هغوی په باب مطرح او د پوښتنو په بڼه یې ولیکو چې:

١ – آیا ماشین پخپله منځ ته راغلی او که چا جوړ کړی دی؟

٢ – آیا دا ماشین پخپله فعالیږي او که بل څوک یې فعالوي؟

٣ – آیا د استعمال طریقه یې سوداګر ترتیبوي که مخترع؟

٤ – آیا د ماشین د کارولو او استعمال تعلیم او زده کړه ضرور ده که نه؟

که چیرې د منکر سړي ضمیر له دې پوښتنو سره مخ شي او عادلانه قضاوت وکړي او تعنت او عناد یوې خواته کښېږدي؛ نو خامخا پر دې اعتراف کوي چې د ژوندانه دغه وسایل چې ډېره ساده بڼه لري بې صانع او بې مخترع نه دي او د استعمال لپاره یې کتلاک او لارښود ته اړتیا ده، که چیرې دغه له خدایه منکر سړی له انصاف نه کار واخلي، باید اعتراف وکړي چې هغه خالق او پیدا کوونکی لري، او د ژوندانه لپاره باید هغه ته یوه نقشه وضع شي چې له هغې سره سم عمل پرې وکړي او خپل ژوند له هغې سره سم عیار کړي؛ ځکه چې خالق او پیداکوونکی د هغه پر طبیعت او خصوصیت او د هغه په خیر او شر ښه پوهیږي او ددې برنامې او پلان رعایت ډېر ضروري دی او که نه د ژوندانه وضع به یې ګډه وډه او زیانمنه شي.

همدا علت دی چی د عقل، منطق، تجربی او د ژوندانه د ورځنیو پیښو پر استناد ویلای شو چی انسان دخدای جل جلاله مخلوق دی او د هغه لار ښوونو ته اړتیا لری او ددی لایحی په پام کی نیول ورته ضرور او حیاتی دی. دغه برنامه چی الله تعالی د انسان لپاره ټاکلی ده او ددین په بڼه یی د اسلام په نامه د خپل استازی په وسیله ورلیږلی او د هغه پیروی د ژوندانه په ټولو برخو کی واجب او لازم ده او بل هر نظام او پلان چی له الله تعالی پرته د بل چا له خوا د انسان د نیکمرغی لپاره وضع شی بی مفهومه او ناکامه ده او نه شی کولای بشر هغی مطلوبی نیکمرغی ته چی دی ورپسی روان دی، ورسوی؛ بلکی د عقل، منطق او تجربی په حکم به یی ژوند له اختلال او هرج و مرج او بدبختی سره مخ شی او پای به یی تباهی او بربادی وی.

که څوک په دی عقیده وی چی د هغه دهم نوع قانون او لایحه هغه خپل هدف ته رسولی شی د هغه دا فکر دی ته پاتی کیږی چی دیوه ماشین کتلاک، واردوونکی یا دوکاندار چی د هغه په باب هیڅ معلومات نه لری جوړ کړی.

* * *

# تاریخي شواهد

د «دعوت» د تاریخ په اوږدو کې کله چې له خدایه د منکرو او مشرکینو ضمیر له پوښتنې سره مخ شوی دی چې دا دنیا او دا هستي چا پیدا کړې ده؟ نو د فطرت، طبیعت او ضمیر ځواب یې دا دی چې الله جل جلاله پیدا کړې ده او نشي کولای د طبیعت او فطرت له حکم نه غاړه وغړوي او انکار ترې وکړي.

کله چې یې له هغوی نه پوښتنه شوې چې دا ځمکه، آسمان، لمر او سپوږمۍ چا پیدا کړي دي؟ او د باران اوروونکی څوک دی؟ نو بې له ځنډه یې ویلي دي چې الله پیدا کړي دي، په همدې اړه څو آیتونه چې له خدایه د منکرو او مشرکو اعتراف بیانوي دلته راوړو:

الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَسَخَّرَ الشَّمْسَ وَالْقَمَرَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّىٰ يُؤْفَكُونَ ﴿٦١﴾﴾ [العنكبوت: ٦١]

ترجمه: او قسم دی که سوال وکړې ته له دوی نه (ای محمده! داسې)

چی چا پیدا کړی دی آسمانونه او ځمکه؟ او مسخر کړی (په کار ئی اچولی) دی لمر او سپوږمۍ نو خامخا وائی هرومرو (دمکی کفارچی) الله (پیدا کړی دی له دغه اقراره سره سره) پس څرنگه دوی گرځولی شی (له توحید څخه).

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ ﴿٢٥﴾﴾ [لقمان: ۲۵]

ترجمه: او قسم دی که وپوښتی ته دغه (کفار) چی چا پیدا کړی دی دغه آسمانونه او ځمکه نو خامخا وبه وائی دوی هرومرو چی الله.

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ لَيَقُولُنَّ خَلَقَهُنَّ الْعَزِيزُ الْعَلِيمُ ﴿٩﴾﴾ [الزخرف: ۹]

ترجمه: او قسم دی خامخا که چیری پوښتنه وکړی ته له دغو کفارو چی څوک دی هغه ذات چی پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه؟ نو خامخا وبه وائی دغه کفار هرومرو چی پیدا کړی دی (تول هغه الله چی) ښه غالب قوی دی (په انفاذ د احکامو) ښه عالم دی.

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ ﴿٨٧﴾﴾ [الزخرف: ۸۷]

ترجمه: او قسم دی که وپوښتی ته دوی چی چا پیدا کړی دی دغه (عابدان او معبودان) نو خامخا وبه وایی هرومرو دوی چی الله (پیدا کړی دی) پس کوم طرف ته گرځول کیږی دغه (مشرکان له عبادت د الله).

او دا اوریښت دا وریدنی او ځمکی د راژوندی کولو په باب یی فرمایلی دی:

﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ السَّمَاءِ مَاءً فَأَحْيَا بِهِ الأَرْضَ مِن بَعْدِ

مَوْتِهَا لَيَقُوْلُنَّ اللّٰهُ ﴿٦٣﴾ [العنكبوت: ٦٣]

ترجمه: او بیا قسم دی چی که سوال وکړی ته له دوی نه (ای محمده! داسی) چی چا نازلی کړی دی (له طرفه د آسمان) څخه اوبه پس ژوندی کړی ئی ده په دی اوبو سره ځمکه پس له مرگه (او وچوالی) ددی نو خامخا وائی دوی هرومرو چی الله (نازلی کړی دی! نو له دغه اقرار سره سره ولی شریک ورته پیدا کوی).

دا ټول قرآنی آیتونه د الله جلت عظمته په باب د منکرینو او مشرکینو د اعتراف څرګندوی دی چی د خپل ضمیر په حکم بی په پټولو او انکار نه دی بریالی شوی؛ خو عناد، سرکشی، طغیان او بی لاری هغوی له ایمان راوړلو نه منع کړی دی او که نه نو هیڅ پوهیدل چی دغه بتان چی پخپل لاس یی تراشلی دی او عبادت یی کوی هیڅ هم نشی کولای او پر دی نه دی قادر چی د یوه مچ د وزر په اندازه گټه ورورسوی او یا کوم ضرر تری دفع کړی الله تعالی په دی باب فرمایلی دی:

﴿إِنَّ الَّذِيْنَ تَدْعُوْنَ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ لَنْ يَّخْلُقُوْا ذُبَابًا وَّلَوِ اجْتَمَعُوْا لَهُ وَ إِنْ يَّسْلُبْهُمُ الذُّبَابُ شَيْئًا لا يَسْتَنْقِذُوْهُ مِنْهُ ضَعُفَ الطَّالِبُ وَالْمَطْلُوْبُ ﴿٧٣﴾﴾ [الحج: ٧٣]

ترجمه: بیشکه هغه بتان چی تاسی (د هغو) عبادت کوئ غیر له الله نه نشی پیدا کولی یو مچ هم او که راټول شی (دا ټول معبودان ستاسی پیدا کول د) هغه مچ ته (نو پیدا به ئی نه کړی شی) او که چیری وتښتوی له دوی څخه مچ یو شی نو نشی خلاصولی دوی هغه شی له هغه مچ څخه؛ نو کمزوری دی دا طالب (چی د باطلو معبودانو عابددی) او دا مطلوب (هم چی باطل معبود یا مچ دی).

او فرمایلي یې دي:

﴿وَلَا تَدْعُ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِن فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِّنَ الظَّالِمِينَ ﴿١٠٦﴾﴾ [ یونس: ۱۰٦ ]

ترجمه: او مه بوله (په عبادت سره) پرته (سیوا) له الله چې نفع نه رسوي تا ته (بلنه د هغه) او نه ضرر رسولی شي تا ته (بلنه د هغه)، نوکه بالفرض دې وکړ عبادت د غیر الله نو بیشکه ته هم په دغه وخت کې ئې له ظالمانو.

او د بتانو په باب د حضرت ابراهیم علیه السلام په قصه کې، قرآن کریم یو حکایت لري، کله چې حضرت ابراهیم علیه السلام ټول بتان مات کړل، بیا یې خلکو ته وویل چې دا کار لوی بت کړی دی، ددې خبرې په اوریدو سره د ټولو سرونه له شرمه ځوړند شول؛ ځکه پخپل ضمیر کې پر دې پوهیدل چې دا کار د بتانو له لاسه پوره نه دی؛ نو همغه و چې د دښمنۍ له امله یې حضرت ابراهیم علیه السلام په اور کې واچاوه.

او س که له هغوی نه وپوښتل شي کله مو چې ضمیر پردې خبره قانع شي، چې پرته له الله تعالی نه بل خدای نشته، باید ددې ځلورو مطلبونو سره سم پردې قانع شي چې د ژوندانه نظام له الله تعالی نه پرته بل څوک طرح او مقررولای نشي او د الله تعالی نظام واجب الانقیاد او حتمي الاتباع دی، او باید پیروي یې وشي او له هغه نه سر غړونه له الله تعالی نه د سرغړونې حکم لري او له هغـــه پرته د ژوندانه نظام گـــډوډ او لـه منځــــه ځي او ددې ژوند بخښونکي نظام او ژوندانه جوړوونکي برنامې نوم اسلام دی چې له همدې امله یې پابندي ضرور او لازم ده؛ خو بې دینه او کافر عناصر او خود پرسته او تور زړي انسانان د خپلې هوی او هوس پیروي کوي ولو که دغه لاره چې دوی پرې روان دي د هغوی د فطرت او طبیعت پر خلاف وي، ددې لپاره چې خپلو شیطاني اهدافو ته د رسیدو په لاره کې کوم خنډ و نه گوري نو همغه ده

چې له دین نه د انکار لاره غوره کوي او د دې دین له یخ سیوري نه د کفر او الحاد د سوزوونکې اور لمبو ته چې ظاهر یې غولوونکې دی، مخ کوي؛ خو اسلام نه غواړي چې هغوی پر خپل حال پرېږدي او په دې توګه دوی د ځان او ټولنې د تباهۍ او بدبختۍ باعث شي؛ بلکې غواړي د هغوی لاس ونیسي او نېغې لارې ته یې سم کړي.

* * *

# نقلی دلایل

پر پورتنیو دلایلو سربیره ، لاندنی دلیلونه هم د عقل ، نقل او منطق له مخی د اسلام دحتمیت غوښتنه او تأکید کوی الله تعالی فرمایی :

﴿أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾﴾ [آل عمران : ۸۳]

ترجمه: آیا غیر له دین د الله څنې غواړی (دا کافران بل دین) حال دا چې (خاص) الله ته غاړه اېښې ده هر هغه څه چې په آسمانونو کې دی له (علویاتو) او په ځمکه کې دی ( له سفلیاتو سره له آسمانونو او ځمکې) په خوښه یا په زوره او بیا (خاص) هم ده ته بیرته بیولی کیږی (دا ټول خلق د مجازاتو له پاره نو ښائی چې ټول ، هدایت او اسلام ځانته غوره کړی ) .

په داسې حال کې چې ټول آسمانونه او ځمکه او د هغې اهل لوی خدای ته تسلیم دی؛ نو انسان څوک دی چې له دی عام او هر اړخیز نظام نه غاړه وغړوی، او دا سرغړونه یې د ځان او نورو لپاره دفساد او عذاب باعث شی ؟

الله تعالی فرمایلی دی:

﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ ﴿٤١﴾﴾ [الروم: ٤١]

ترجمه: ظاهر شو (آثار د) فساد په بر او بحر (په وچه او لمده) کې په سبب د هغې (گناه او شرک) چې کړې دي لاسونو د خلکو.

او فرمایلي یې دي:

﴿قُلْ أَفَغَيْرَ اللَّهِ تَأْمُرُونِّي أَعْبُدُ أَيُّهَا الْجَاهِلُونَ ﴿٦٤﴾﴾ [الزمر: ٦٤]

ترجمه: ووایه (ای محمده!) آیا پس بې له الله امر کوئ تاسې ما ته چې عبادت ئې وکړم ای جاهلانو ناپوهانو!

او همدارازفرمایي:

﴿أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِّقَوْمٍ يُوقِنُونَ ﴿٥٠﴾﴾ [المائدة: ٥٠]

ترجمه: آیا پس حکم د جاهلیت غواړي دوی؟ (او د الله له حکمونو څنگ کوي) او څوک دی ښه دی له الله څخه له جهته د حکم هغه قوم ته چې یقین لري (په الله یعنی هیڅوک نه دی).

په دې توگه هغوی چې له اسلامه مخ گرځوي او نه یې مني په حقیقت کې د ځنگله د قانون، بې بندوباري او وحشت چې په جاهلیت کې حاکم و غوښتونکي دي حال دا چې اسلام د خدای تعالی د لوی نعمت په توگه د هغې د له منځه وړلو لپاره د مظلوم بشریت مرستې ته رادانگلی دی.

او قرآن کریم په بل ځای کې فرمایي:

﴿أَلا لَهُ الْخَلْقُ وَالأَمْرُ تَبَارَكَ اللَّهُ رَبُّ الْعَالَمِينَ ﴿٥٤﴾﴾ [الأعراف: ٥٤]

ترجـمـه: خبـردار شئ چې «خاص» الله لره دي پيداكول او امـر (حكم فـرمــايل) لوى بركت والا دى الله چې رب «پالونكى» د گــردو (ټولو) عالميانو دي.

كله چې خلقت، امر او دستور د الله تعالى وى نور څوک حق نه لرى چې د انسان لپاره د ځان له خوا نظام او قانون جوړ كړى او د هغه رعايت واجب العمل وگرځوى.

او د قرآن كريم په ډيرو ځايونو كې راغلى دي:

﴿يُـدَبِّــرُالأَمْــرَ يُفَـصِّلُ الآيَـاتِ لَعَـلَّكُم بِلِقَاءِ رَبِّكُمْ تُوقِنُـونَ ﴿٢﴾﴾ [الرعد: ٢]

ترجمه: تدبير كوى د هر امر (كار د ملكوت او سلطنت خپل) بيانوى (ظاهروى) په تفصيل سره دلائل (د توحيد او قدرت خپل) د پاره د دې چې تاسې په ملاقات د رب خپل يقين وكړئ.

﴿يُدَبِّرُ الأَمْرَ مِنَ السَّمَاءِ إِلَى الأَرْضِ ﴿٥﴾﴾ [السجدة: ٥]

ترجمه: تدبير كوى (او نازلوى) امر كار له آسمانه ځمكى ته (تر ورځى د قيامت پورى).

كله چې انسان په تكوينى چارو كې لكه آب وهوا، د زړه حركت او د بدن ټول غړى، ژوند او مرگ، په خوښه يا ناخوښه د الهى نظام او سنتو تابع دى او دا واک نه لرى چې د يوه ويښته په اندازه له هغه نه تجاوز وكړى: نو بيا ولى په اختيارى چارو كې د الله جلت عظمته د نظام او قانون نه تابع كيږى او ځان ورته نه سپارى؟ كه چيرى د بشر په او سنى وضع كې ښه فكر وكړى، پوهيږى

چې د ځـمکې پر مخ ددې ټولو مـوجـودو ناخـوالو ، وژنو او فـســادونو لامل (علت) ، د خـدای د قـانون شـاته غـورځـول او پـه ژوندانه کې د هغـه له احکامو نه لرې کېدل دي په هر هيواد کې تر ځانګړو شرايطو لاندې پر کمزورو خلکو د جبابره و د نفوذ په نتيجه کې د خلکو له غوښتنو سره متضاد او په ټکر کې نظامونه منځ ته راغلي دي، چې د ډيرو لږو کسانو مصلحتونه يې پاللي دي او د انسان طبيعت او غوښتنې پايمالوي . که ټولو پر خالق او رازق خدای ايمان راوړی وای او نظام او قانون ته يې غاړه ايښې وای ، په باور سره دغه ټولې بدبختې چې د انسان په برخه شوې دي ، منځ ته به نه راتلې او انسانيت به د خير او فلاح په لور ګام اخستی او له بې لارې کيدو نه ژغورل کيده .

الله تعالی فرمايي:

﴿وَقُل لِّلَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ وَالْأُمِّيِّينَ أَأَسْلَمْتُمْ فَإِنْ أَسْلَمُوا فَقَدِ اهْتَدَوا ﴿٢٠﴾﴾ [آل عمران: ٢٠]

ترجمه: او ووايه (ای محمده!) هغو کسانو ته چې ورکړی شوې دی دوی ته کتاب (يعنې يهودانو او نصرانيانو ته) او ناپوهانو (مشرکانو د عربو) ته آيا اسلام راوړئ تاسې ؟ (يعنې اسلام راوړئ!) پس که اسلام راوړ دوی پس په تحقيق چې ومونده دوی سمه صافه لاره .

او د قرآن کريم په بل ځای کې فرمايي:

﴿فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولَٰئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾﴾ [الجن: ١٤]

ترجمه: نو هر هغه څوک چې (الله ته) غاړه کيږدي (او ايمان راوړي) نو دوی قصد کړی دی لاره (سمه صافه).

او په دې توګه ويلای شو چې د بشر خير په دې کې دی چې حق دين ته غاړه کښيږدي او د دنيا او آخرت د نيکمرغۍ له نعمت نه برخمن شي.

﴿ وَلَوْ آمَنَ أَهْلُ الْكِتَابِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُم ﴿١١٠﴾ ﴾ [آل عمران: ١١٠]

ترجمه: او که ایمان راوړي وای اهل د کتابو (په قرآن او محمد نو) خامخا به و (دا ایمان بهتر) خیر دوی لره.

او همداراز یې فرمایلي دي:

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ فَعَلُوا مَا يُوعَظُونَ بِهِ لَكَانَ خَيْراً لَّهُمْ وَأَشَدَّ تَثْبِيتاً ﴿٦٦﴾ ﴾ [النساء: ٦٦]

ترجمه: او که په تحقیق دوی کړي وای هغه چې پند ورکاوه شي دوی ته په هغه سره نو خامخا به و دا کار خیر (ډیر غوره) دوی ته او ډیر به کلک و له جهته د محکموالي (د ایمان).

او همداراز یې فرمایلي دي:

﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ قَدْ جَاءَكُمُ الرَّسُولُ بِالْحَقِّ مِن رَّبِّكُمْ فَآمِنُوا خَيْراً لَّكُمْ ﴿١٧٠﴾ ﴾ [النساء: ١٧٠]

ترجمه: ای خلکو! په تحقیق راغلی دی تاسي ته رسول (محمد) په حق (قرآن یا اسلام) سره له (طرفه د) رب ستاسي نو ایمان راوړئ (او قصد وکړئ! د هغه شي چې) خیر دی تاسي ته.

د پخوانیو خبرو په دوام یو ځل بیا وایم چې د اسلام منل او بې له قید او شرطه الله جل جلاله ته غاړه ایښودل او په وروستني آسماني دین التزام چې له اسلام نه عبارت دی د انساني ژوندانه د ټولو ستونزو د حلولو او اوارولو کلي ده.

* * *

# اسلام د ټولو پیغمبرانو دین دی

د هغه تعریف پر بنا چې د اسلام په باب مو وکړ او د هغو ښکاره او روښانه دلایلو له مخې چې د خدای جلت عظمته په کلام کې بیان شوي دي ، ویلای شو چې اسلام د ټولو امتونو او ملتونو دین دی او انبیاء علیهم السلام ټول د یوه دین تابع وو او د یوه هدف لپاره یې خلک رابلل چې هغه د اسلام او توحید نه عبارت دی او ټول یې له قید او شرطه خدای تعالی ته تسلیم وو لکه چې د غه مطلب مو د عقلي او نقلي دلایلو په بیانولو سره په تیر بحث کې بیان کړ چې ټول خلک یې د الله تعالی عبادت او رب الجلیل ته د سرایښودنې پر لور بللي او هغوی یې د خلاصون لور ته دعوت کول، اوس د بیلگې په توگه د ځینو پیغمبرانو علیهم السلام چې د ټولو یو دین و ، یادونه کوو:

**آدم علیه السلام:**

حضرت آدم علیه السلام د لومړني انسان او د الله تعالی د خلیفه په توگه په ځمکه کې د خدای د دین او الهي نظام په پلې کولو چې په ټولو چارو کې خدای تعالی ته له تسلیمیدو نه عبارت دی مکلف شو او کله چې ور ته

لاربښوونه وشوه چې له جنت نه ځمکې ته راکوز شی ، تر راکښته کيدو د مخه ورته لاربښوونه وشوه:

﴿قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَالَّذِينَ كَفَرُوا وَكَذَّبُوا بِآيَاتِنَا أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٣٩﴾﴾ [ البقرة: ٣٨ ، ٣٩ ]

ترجمه: (بيا) وويل مونږ چې کوز شئ له جنته ټول پس که راغی تاسی ته له ما ځنی کوم هدايت پس هر څوک چې پيروی وکړی د هدايت زما پس نه به وی هيڅ قسم ويره پر دوی باندی او نه به وی دوی (هيڅيری) چې خپه کيږی (او جنت ته به ځی) او هغه کسان چې کافران شوی دی او دروغ ګڼی آياتونه زمونږ هم دغه کسان صاحبان د اور (دوزخ) دی هم دوی به په هغه (اور د دوزخ) کې هميشه وی .

**نوح عليه السلام:**

الله تعالى له حضرت نوح عليه السلام نه په حکايت سره فرمايی:

﴿فَإِن تَوَلَّيْتُمْ فَمَا سَأَلْتُكُم مِّنْ أَجْرٍ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَى اللَّهِ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٧٢﴾﴾ [ يونس: ٧٢ ]

ترجمه: نو که وګرځيدی تاسی (له پنده او ونه منی) پس نه ده غوښتې ما له تاسو څخه هيڅ اجر (مزدوری) نه دی اجر ځما (په دی چې بولم تاسو ايمان ته) مګر پر الله دی او امر (حکم) شوی دی ما ته په دی چې اوسم زه له مسلمانانو (راسخوغاړه ايښودونکو څخه الله ته) .

**ابراهيم ، اسماعيل او يعقوب عليهم السلام:**

په همدی توګه الله تعالى په دی باب داسی فرمايی:

﴿ووَصَّىٰ بِهَا إِبْرَاهِيمُ بَنِيهِ وَيَعْقُوبُ يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾ أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِن بَعْدِي قَالُوا نَعْبُدُ إِلَٰهَكَ وَإِلَٰهَ آبَائِكَ إِبْرَاهِيمَ وَإِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَاقَ إِلَٰهًا وَاحِدًا وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٣﴾﴾ [البقرة: ١٣٢ - ١٣٣]

ترجمه: او وصیت کړی و په دی دین خپل سره ابراهیم زامنو خپلو ته او یعقوب (هم) چې ای زامنو زما بیشکه چې الله غوره کړی دی تاسی ته دین د (اسلام) نو له سره مه مرئ تاسی مګر په هغه حال کی چې مسلمانان یئ (پر اسلام تر نزعی ثابت اوسئ!)؛ آیا وی تاسی حاضران په هغه وخت کی چې راغی یعقوب ته (اسباب د) مرګ کله چې وویل (یعقوب) زامنو خپلو ته چې د څه شی عبادت به کوی پس له (مرګه) زما؛ نو وویل دوی چې عبادت به کوو د معبود ستا او د معبود د پلرونو ستا چې ابراهیم او اسماعیل او اسحاق دی هغه الله ته چې یو دی (شریک نه لری) او مونږ ټول هغه ته غاړه ایښودونکی یو.

په همدی توګه الله تعالی د ابراهیم علیه السلام په باب فرمایلی دی:

﴿إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٣١﴾﴾ [البقرة: ١٣١]

ترجمه: او (یاد کړه) کله چې وویل ابراهیم ته رب دده چې غاړه کیږده (زما احکاموته) نو وویل (ابراهیم) غاړه می ایښی ده رب د عالمیانو ته.

او همداراز یی له شرک نه د ابراهیم علیه السلام د برائت او د هغه د مسلمانی په باب فرمایلی دی:

﴿مَا كَانَ إِبْرَاهِيمُ يَهُودِيًّا وَلَا نَصْرَانِيًّا وَلَٰكِن كَانَ حَنِيفًا

مُسْلِمًا وَما كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿٦٧﴾ ﴾ [آل عمران: ٦٧]

ترجمه: نه و ابراهيم يهودي او نه نصراني، وليكن و دى حنيف (مائل له ټولو باطلو مذاهبو څخه حق دين ته) مسلمان (حكم منونكى د الله)، او نه و (ابراهيم) له مشركانو نه.

او فرمايلي يې دي:

﴿رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِن ذُرِّيَّتِنَا أُمَّةً مُسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾ ﴾ [البقرة: ١٢٨]

ترجمه: اى ربه زمونږه وګرځوه مونږه (دواړه) حكم منونكي ستا او (وګرځوه) له اولادي زمونږ يوه ډله حكم منونكي ستا او وښيه مونږ ته احكام د حج زمونږ او قبوله كړه توبه زمونږ، بيشكه ته هم دا ته چي ئي ښه توبه قبلوونكى ښه مهربان ئي.

**لوط عليه السلام:**

الله تعالى له لوط عليه السلام نه په حكايت كي فرمايي:

﴿فَمَا وَجَدْنَا فِيهَا غَيْرَ بَيْتٍ مِّنَ الْمُسْلِمِينَ ﴿٣٦﴾ ﴾ [الذاريات: ٣٦]

ترجمه: پس بيا ونه مونده مونږ په دغو كليو كي پرته (علاوه) له يوه كوره د مسلمانانو (دلوط او كورني ده).

**يوسف عليه السلام:**

الله تعالى د يوسف په سورت كي د يوسف عليه السلام له دعا نه په حكايت كي فرمايلي دي:

﴿رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الأَحَادِيثِ

فاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِمًا وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿١٠١﴾ ﴾ [ یوسف: ۱۰۱ ]

ترجمه: ای ربه زما په تحقیق راکړی دی ده ما ته له باچاهی ( او تصرف د مصر ) او ښوولی دی دی ماته له ګرځولو د خبرو (لکه تعبیر د خوبونو بیان د کتابونو ) ، ای پیدا کوونکیه د آسمانونو او د ځمکی (بی له نمونی) هم ته یی ولی (دوست واکدار ،کار جوړوونکی ) زما په دنیا او په آخرت کی ، وفات کړه ما په دی حال کی چی مسلمان یم او یو ځای می کړه (په مرتبه او کرامت کی) د صالحانو سره .

او د اهل کتابو د هغی ډلی په باب چی پر پیغمبر صلی الله علیه وسلم بی ایمان راوړ فرمایی:

﴿وَإِذَا يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ قَالُوا آمَنَّا بِهِ إِنَّهُ الْحَقُّ مِن رَّبِّنَا إِنَّا كُنَّا مِن قَبْلِهِ مُسْلِمِينَ ﴿٥٣﴾ ﴾ [ القصص: ۵۳ ]

ترجمه: او کله چی ولوستل شی (دا قرآن) پر دوی بانـدی نو وایی دوی چی ایمان راوړی دی مـونږ په دغـه (قـرآن چی) حق دی (راغلی دی) لـه (طرفـه د) رب زمـونږ بیشکه مونږ چی وو پخـوا لـه نزوله د دغـه (قـرآن) مسلمانان (په دغه قرآن باندی) .

**موسی علیه السلام:**

الله تعالی د یونس په سورت کی د موسی علیه السلام له قول نه په حکایت کی فرمایلی دی:

﴿وَقَالَ مُوسَىٰ يَا قَوْمِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِن كُنتُم مُّسْلِمِينَ ﴿٨٤﴾ ﴾ [ یونس: ۸۴ ]

ترجمـه: او وویل موسی (مؤمنانو دخپل قـوم ته کله چې آثار د خـوف ښکاره شول) ای قومه څما که یئ تاسی چې ایمان مو راوړی وی پر الله (چې خیر او شر او نور هر شی د ده په قدرت کی دی) نو خاص پر هم ده توکل وکړئ که یئ تاسی مسلمانان (حکم منونکی د الله) .

او د فرعون له ساحرانو نه په حکایت کی چې د موسی علیه السلام بلنی ته یې لبیک ویلی او مسلمانان شوی دی فرمایلی دی:

﴿وَمَا تَنقِمُ مِنَّا إِلاَّ أَنْ آمَنَّا بِآيَاتِ رَبِّنَا لَمَّا جَاءَتْنَا رَبَّنَا أَفْرِغْ عَلَيْنَا صَبْراً وَتَوَفَّنَا مُسْلِمِينَ ﴿١٢٦﴾﴾ [الأعراف: ١٢٦]

ترجمـه: او عـیب نه گـڼې « ته ای فرعـونـه! » له مونږه مگر دغـه کار چې ایمـان راوړی دی مـونږ په آیتـونو د رب خـپل کله چې راغـله مـونږ ته، ای ربه زمونږ راتوی کړه پر مونږ صبر او مړه کړه مونږ په داسی حال کی چې مسلمانان یو « یعنی خاتمه مو په اسلام کړه » .

**سلیمان علیه السلام:**

الله جلت عظمته د نمل په سورت کی د بلقیس له قول نه په حکایت کی د حضرت سلیمان علیه السلام د لیک په اړه فرمایلی دی:

﴿إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلاَّ تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾﴾ [النمل: ٣٠ ـ ٣١]

ترجمه: بیشکه دغه لیک د سلیمان (له طرفه راغلی) دی، او بیشکه (مضمون ددی لیک دا دی چې شروع) په نامه د الله چې خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی (مقصد څما دا دی) چې لوئی (او کبر) مه کوئ تاسی پر ما او راشئ تاسی ما ته مسلمانان (غاړه ایښودونکی الله ته).

**عيسى عليه السلام:**

الله جلت عظمته د عيسى عليه السلام حواريونو ته له خپل خطاب نه په حكايت كې فرمايلي دي:

﴿وَإِذْ أَوْحَيْتُ إِلَى الْحَوَارِيِّينَ أَنْ آمِنُوا بِي وَبِرَسُولِي قَالُوا آمَنَّا وَاشْهَدْ بِأَنَّنَا مُسْلِمُونَ ﴿١١١﴾﴾ [ المائدة: ١١١ ]

**ترجمه:** او كله چې په زړونو كې مې ورواچول (او امر مې وكړ د عيسى په ژبه قوم د عيسى) حواريونو ته چې ايمان راوړئ تاسې په ما (چې ستاسې الله يم) او په رسول زما (چې عيسى دى، نو) وويل حواريونو چې ايمان مو راوړى دى (په الله او عيسى) او شاهد اوسه (اى عيسى) په دې چې بيشكه موږ مسلمانان يو (غاړه ايښودونكي حكم د الله ته).

دا ټول آيتونه پر دې ښكاره دليل دى چې اسلام د ټولو پيغمبرانو دين دى او پيروان يې په مسلمان او مؤمن سره ستايل شوي دي، همداراز د ټولو سماوي دينونو مبادي او اساس يو دى او دالله تعالى د بالغه حكمت له مخې يوازې په فروعاتو كې د اوضاع او ظروفو پر اساس په كې څه توپيرونه شته.

**د آخر الزمان پيغمبر( حضرت محمد صلى الله عليه وسلم) اسلام:**

د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم په بعثت سره نوره د نبوت لړۍ پاى ته ورسيده، خپله د ټولو پيغمبرانو وروستى او دين يې د رسالتونو وروستى رسالت دى لكه په هغه حديث كې چې حضرت جابر ابن عبد الله رضى الله عنهما له پيغمبر صلى الله عليه وسلم نه روايت كړى دى، راغلي دي چې:

عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى

اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَثَلِي وَمَثَلُ الأَنْبِيَاءِ كَرَجُلٍ بَنَى دَاراً فَأَكْمَلَهَا وَأَحْسَنَهَا إِلا مَوْضِعَ لَبِنَةٍ فَجَعَلَ النَّاسُ يَدْخُلُونَهَا وَيَتَعَجَّبُونَ وَيَقُولُونَ: لَوْلا مَوْضِعُ اللَّبِنَةِ » . (۱)

وفي رِوايَةٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّٰهُ عَنهُ زِيَادَةً: (... إلامَوْضِعَ لَبِنَةٍ مِنْ زَاوِيَةٍ ...) وَقَالَ فِي آخِرِهِ ( ...فَأَنَا اللَّبِنَةُ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ» . (۲)

ترجمه: له حضرت جابربن عبدالله رضی الله عنهما نه روايت دی چی رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی دی: زما مثال له مخکنيو پيغمبرانو سره په پرتله د هغه سړی په څير دی چی يو ښکلی کور يی بنا کړی او هغه يی سرته رسولی وی او ښکلی کړی يی وی؛ خو د يوی خښتی ځای يی ناتمام پريښی وی او خلک په هغه کور کی ننوځی او له ښکلا نه يی حيران شی او کله چی د دی يوی خښتی ځای نا تمام وګوری وايی: کاشکی د دی خښتی ځای هم ښکلی وای او ښکلا يی د اکمال درجی ته رسيدلی .

او دابو هريره رضی الله عنه په روايت کی پر پورتنی حديث سربيره داسی راغلی دی : مګر د کور په يوه کونج کی د يوی خښتی ځای چی نا تمام پاتی دی ... او د خپل حديث په پای کی يی زياته کړی ده: زه يم هغه خښته (چی د ا بنا پری خپل کمال ته رسيږی) او زه يم خاتم د پيغمبرانو.

په دی توګه ګورو چی د انبياو سردارحضرت محمد صلی الله عليه وسلم په تشريف راوړلو سره ټول پخوانی شريعتونه منسوخ او ټول خلک د هغه د دين په انقياد او منلو مکلف او د بل هيڅ پيغمبر د دعوت په منلو مکلف

(۱) صحيح البخاری ج: ۳ ص: ۱۳۰۰ .

(۲) صحيح البخاری ج: ۳ ص: ۱۳۰۰ .

نه دی : بلکې ټول بايد د اسلام او حضرت محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم پيروی وکړی او دا دين به تر قيامته پوری په همدی نامه باقی پاتی شی او کله چی د اسلام نوم واخستل شی ، د هغه سم او څرګند مفهوم همدغه دين دی چی پيغمبر صلی الله عليه وسلم د الله تعالی له لوری له ځانه سره راوړی دی.

* * *

# د اسلام عمومیت

پر دې سربېره چې اسلام د ټولو بشري طبقاتو او انساني ټولنو دین دی د يو بل مخلوق دين هم دی چې د انسان په څېر اختيار لري او د جنياتو د عالم په نامه يادېږي.

جنيات هم د دين او عبادت په اړه د انسانانو په څېر مکلف دي او د ايمان راوړلو او نه راوړلو په اړه واک ورکړل شوی دی، د هغوی يوه برخه لکه انسانان مسلمان او بله برخه يې کافر دي او ټول شوون يې د اسلام په اړه له انسان سره هيڅ توپير نه لري، هغوی هم داعيان لري او انسانان هم، قرآن کريم په دې باب داسې حکايت کوي:

﴿وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَىٰ قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ﴿٢٩﴾ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَىٰ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَىٰ طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٣٠﴾ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ

وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ﴿٣١﴾ وَمَن لاَّ يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِن دُونِهِ أَوْلِيَاءُ أُوْلَئِكَ فِي ضَلالٍ مُّبِينٍ ﴿٣٢﴾ أَوَ لَمْ يَرَوْا أَنَّ اللَّهَ الَّذِي خَلَقَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ وَلَمْ يَعْيَ بِخَلْقِهِنَّ بِقَادِرٍ عَلَىٰ أَن يُحْيِيَ الْمَوْتَىٰ بَلَىٰ إِنَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿٣٣﴾﴾ [الأحقاف: ۲۹ ۳۳]

ترجمه: او یاد کړه (هغه وخت ای محمده!) کله چې وګرځول مونږ تا ته یو ټولی له پیریانو څخه چې غوږ به ئی ایښوده قرآن ته پس کله چې حاضر شول دوی (دی قرآن ته) وویل دوی په منځ خپل کی چپ شئ تاسی ای پیریانو بیا کله چې تمام شو (د قرآن تلاوت) بیرته وګرځیدل قوم خپل ته ویروونکی (له عذابه چې هم هغسی کافران پاتی نشی) وویل دوی ای قومه زمونږ بیشکه مونږ واموریده داسی یو کتاب چې نازل کړی شوی دی وروسته له موسی په داسی حال کی چې تصدیق کوونکی موافق دی له هغو (کتابونو) سره چې پخوا له دی نه وو، لیاره ښیی حق دین ته او سمی ته، ای قومه زمونږ! قبول کړئ د بلونکی د الله او ایمان راوړئ په ده چې مغفرت کړی (الله) تاسی ته له ګناهونو ستاسی او خلاص به کړی (الله) تاسی له عذاب دردناک څخه او هغه څوک چې ونه منی (بلنه د) بلونکی د الله پس نه به وی عاجز کوونکی (د الله، په تیښته سره) په ځمکه کی (بلکی هیچیری) او نه به وی ده ته بی له هغه (الله) څخه دوستان مدد ګاران دغه کسان په ښکاره ګمراهی کی دی، آیا نه وینی فکر نه کوی (منکران د بعث) چې بیشکه الله هغه (ذات) دی چې پیدا کړی ئی دی آسمانونه او ځمکه حال دا چې نه دی ستړی شوی په پیدا کولو د هغوی کی، قادر دی په دی باندی چې ژوندی کړی مړه؛ بلکی قادر دی بیشکه دغه (الله) پر هر څیز باندی (چې اراده وفرمایی) ښه قادر دی (چې ځینی یی بعث بعد الموت دی).

لکه څرنګه چې په بل ځای کې یې روښانه کړې ده چې د هغوی یوه برخه مسلمانه او یوه برخه یې کافره ده:

﴿وَأَنَّا مِنَّا الْمُسْلِمُونَ وَمِنَّا الْقَاسِطُونَ فَمَنْ أَسْلَمَ فَأُولَئِكَ تَحَرَّوْا رَشَدًا ﴿١٤﴾﴾ [الجن: ١٤]

ترجمه: او بیشکه مونږ چې یو ځینې له مونږه مسلمانان دي او ځینې له مونږه ظالمان کاږه دي (د کفر په غوره کولو سره د حق له لارې ګرځیدلي دي) نو هر هغه چې (الله ته) غاړه کیږدي (او ایمان راوړي) نو دوی قصد کړی دی د سمې صافې لارې.

پر جنیاتو سربیره ټول هغه موجودات چې د هستې په دنیا کې موجود دي، د ټولو دین اسلام دی او د الله جلت عظمته له امر او اطاعت نه سر نه غړوي او یوازې انسانان او پیریان دي چې په ځینو چارو کې واک ورکړای شوی دی او د واک تر څنګه د هدایت او لارښوونې وسایل هم ورکړل شوي دي تر څو د هغه پر اساس خپل ثواب او عذاب ومومي.

**پرښتې د الله تعالی د اوامرو پیروي کوي:**

الله تعالی د پرښتو په باب فرمایي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا قُوا أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ عَلَيْهَا مَلَائِكَةٌ غِلَاظٌ شِدَادٌ لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ﴿٦﴾﴾ [التحريم: ٦]

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنې ای مؤمنانو) وساتئ تاسې ځانونه خپل او کور کهول خپل (په اطاعت د الله) له اور څخه چې خس اور لګوني د هغه سړي او تیږې دي، په دې اور باندې مقرري دي پرښتې سخت زړي قوتناکې زبردستې، نه کوي نافرماني د غه (پرښتې) له

الله د هغه څه چې امر يې کړی دی دوی ته او کوي دوی هغه کار چې پرې ماموري وي (من جانب الله).

او د قرآن کريم په بل ځای کې يې فرمايلي دي:

﴿لا يَسْبِقُونَهُ بِالْقَوْلِ وَهُم بِأَمْرِهِ يَعْمَلُونَ ﴿٢٧﴾﴾ [الأنبياء: ٢٧]

ترجمه: چې نشي رومبی کيدی دوی له د غه (الله) څخه په خبره سره او دوی خاص په حکم د الله عمل کوي.

**د الله تعالی له حکمه د آسمانو او ځمکې اطاعت:**

الله جلت عظمته د آسمان او ځمکې د غاړې ايښودنې او انقياد په باب فرمايلي دي:

﴿ثُمَّ اسْتَوَىٰ إِلَى السَّمَاءِ وَهِيَ دُخَانٌ فَقَالَ لَهَا وَلِلْأَرْضِ ائْتِيَا طَوْعًا أَوْ كَرْهًا قَالَتَا أَتَيْنَا طَائِعِينَ ﴿١١﴾﴾ [فصلت: ١١]

ترجمه: بيا يې اراده وفرمايله (پيدا کولو د) آسمان ته حال دا چې دغه آسمان يو لوگی و (ولاړ) پس وفرمايل (الله) دغه (آسمان) ته او (دغې) ځمکې ته چې راشئ دواړه پخپلې خوښې سره يا په زور سره، وويل آسمان او ځمکې راغلو مونږ (فرمان ستا ته) په خوښې سره.

**د لمر او سپوږمۍ اطاعت:**

الله تعالی د لمر او سپوږمۍ په باب فرمايلي دي:

﴿وَالشَّمْسُ تَجْرِي لِمُسْتَقَرٍّ لَّهَا ذَٰلِكَ تَقْدِيرُ الْعَزِيزِ الْعَلِيمِ ﴿٣٨﴾ وَالْقَمَرَ قَدَّرْنَاهُ مَنَازِلَ حَتَّىٰ عَادَ كَالْعُرْجُونِ الْقَدِيمِ ﴿٣٩﴾ لَا الشَّمْسُ يَنبَغِي لَهَا أَن تُدْرِكَ الْقَمَرَ وَلَا اللَّيْلُ سَابِقُ النَّهَارِ وَكُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ ﴿٤٠﴾﴾ [يس: ٣٨ - ٤٠]

ترجمه: او (بل دلیل د قدرت د الله دوی ته) لمر (دی چی) ځی پخپلی ټاکلی (مقرری) لاری باندی (یا خپل ځای ته). دغه (مخصوص حرکت د لمر حکم) اندازه ده د ښه غالب قوی (په انفاذ د احکامو) ښه دانا (پر هر ځیز). او سپوږمی ته اندازه کړی (او ویشلی) دی مونږ منزلونه تر هغه پوری چی وګرځی (په نظر کی) لکه وچه ځانګه د خرما (چی کلکه کړه، او نرئ شی)، نه دی لمر لائق دغه لره (او له وسه یی پوره نه ده) چی لاندی کړی سپوږمی (په زمان مکان او اوصافو کی) او نه شپه رومبی کیدونکی ده له ورځی، او دغه ټول (فلکی اجرام) په آسمان کی چورلیدونکی دی (لامبو په کی وهی فراخ په کی روان دی).

په همدی توګه په قرآن کریم کی ډیر داسی آیتونه موجود دی چی پر دی دلالت کوی چی ټول مخلوقات او موجودات د الله جل جلاله په عبادت لګیا دی او هغه ته بی غاړه ایښی او تسلیم دی.

**دالله تعالی له حکمه د شاتو د مچیو اطاعت:**

الله تبارک و تعالی د نحل په سورت کی فرمایلی دی:

﴿وأَوْحَىٰ رَبُّكَ إِلَى النَّحْلِ أَنِ اتَّخِذِي مِنَ الْجِبَالِ بُيُوتًا وَمِنَ الشَّجَرِ وَمِمَّا يَعْرِشُونَ ﴿٦٨﴾ ثُمَّ كُلِي مِن كُلِّ الثَّمَرَاتِ فَاسْلُكِي سُبُلَ رَبِّكِ ذُلُلًا يَخْرُجُ مِن بُطُونِهَا شَرَابٌ مُّخْتَلِفٌ أَلْوَانُهُ فِيهِ شِفَاءٌ لِّلنَّاسِ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَةً لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ ﴿٦٩﴾﴾ [النحل: ٦٨ ٦٩]

ترجمه: او په زړه کی واچوله رب ستا مچیو د شاتو ته (دا خبره) چی ونیسئ (او جوړوئ) تاسی په غرونو کی کورونه او له ونو څخه او له هغه څخه چی خلق ئی لوړ جوړوی. بیا نو خورئ (ای مچیو!) له هر قسمه میوو څخه نو

ځئ (الوځئ) په لمارو د رب خپل په دغه حال کې چې آسانه ده (صافه او خلاصه دربنکاری) راوځی له ګیډو د دوی دڅښلو (شی یعنی شات) چې مختلف دی رنګونه ددی (شاتو) په دغو (شاتو) کی شفاء ده د پاره د خلکو بیشکه په دغو (مچیو او شاتو کی) خامخا ډیر لوی دلیل دی (پر قدرت او حکمت د الله) د پاره د هغه قوم چی فکر کوی (او په غرائبو کی عقل چلوی).

**دالله تعالی له امرنه دهغه څه اطاعت چی دځمکی او آسمانوترمنځ دی:**

الله تعالی د اسراء په سورت کی فرمایلی دی:

﴿تُسَبِّحُ لَهُ السَّمَوَاتُ السَّبْعُ وَالأَرْضُ وَمَن فِيهِنَّ وَإِن مِّن شَيْءٍ إِلاَّ يُسَبِّحُ بِحَمْدِهِ وَلَكِن لاَّ تَفْقَهُونَ تَسْبِيحَهُمْ إِنَّهُ كَانَ حَلِيماً غَفُوراً ﴿٤٤﴾﴾ [الإسراء: ٤٤]

ترجمه: تسبیح وایی ده ته آسمانونه اووه واړه او ځمکه او هغه څوک چی په دوی کی دی او نشته هیڅ شی (له مخلوقاتو) مګر چی تسبیح وایی سره له ثناء د دغه (الله) مګر نه پوهیږی تاسی په تسبیح د هغوی، بیشکه دغه (الله) دی ښه تحمل والا (په تاخیر د عقوبت دپاره د انابت) ښه بخښونکی (په انعام د اجراو ثواب سره).

او فرمایلی یی دی:

﴿أَلَمْ تَرَ أَنَّ اللَّهَ يُسَبِّحُ لَهُ مَن فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ وَالطَّيْرُ صَافَّاتٍ كُلٌّ قَدْ عَلِمَ صَلاَتَهُ وَتَسْبِيحَهُ وَاللَّهُ عَلِيمٌ بِمَا يَفْعَلُونَ ﴿٤١﴾﴾ [النور: ٤١]

ترجمه: آیا نه وینی ته ای مخاطبه! بیشکه الله چی دی تسبیح وایی ده ته هر هغه چی په آسمانونو کی دی (او هر هغه) چی په ځمکه کی دی (سره له آسمانونو او ځمکی) او مرغان هم (تسبیح وایی) په دغه حال کی چی خواره

کوونکي وي د وزرو خپلو (په هوا کي ). هر یو (له دغو مذکورینو چي دي ) په تحقیق معلوم دي (الله) ته لمونځ (دعا ) د هغه او تسبیح د هغه او الله ته ښه معلوم دي هغه (اعمال هم ) چي کوي یې دوي .

همدا راز د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په احادیثو او له برکتونو ډک ژوندانه او د اصحابو د ژوند او دعوت په پیښو کي داسي حالات منځ ته راغلي دي چي د الهي اوامرو نه د نورو مخلوقاتو د اطاعت او د اسلام د ربښتیني پیغمبر د رسالت او دعوت د ربښتینتوب ثرگندوي دي.

**دهوسي کیسه:**

حافظ ابو نعیم اصفهاني په خپل کتاب « دلائل النبوة » کي له انس ابن مالک نه روایت کړی دی چي: رسول الله صلی الله علیه وسلم پر یوه قوم چي یوه غرڅه یې ښکار کړې او د خیمي په ستني پوري یې تړلې وه ، تیریده ، غرڅي وویل یا رسول الله زه یې ښکار کړې یم په داسي حال کي چي دوه تي خوره بچي لرم ، ما ته تري اجازه وغواړه چي ولاړه شم خپلو بچو ته شیدي ورکړم او بیرته راستنه شم ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل د دي غرڅي خاوند چیرته دی ؟ خلکو وویل یا رسول الله مونږ د دي غرڅي خاوندان یو ویې فرمایل: دي غرڅي ته اجازه ورکړی چي ولاړه شي او خپلو بچو ته شیدي ورکړي او بیرته تاسي ته راستنه شي هغوی وویل څوک ضمانت کوي چي دا غرڅه به بیرته مونږ ته راستنه شي ؟ ویې فرمایل زه ضمانت کوم بیا یې غرڅه پریښوده چي ولاړه خپلو بچو ته یې شیدي ورکړي او بیرته راستنه شوه وروسته بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم پر دي لار تیریده ویې پوښتل د دي غرڅي خاوند څوک دی ؟ ویې ویل مونږ یو ای رسول الله ویې فرمایل دا غرڅه پر ما نه پلورئ ؟ هغوی وویل دا غرڅه دي ستا وي یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ویې فرمایل هغه خوشي کړی! هغه و چي غرڅه یې پریښوده او پخپله مخه ولاړه .

او په بل روایت کې راغلي دي کله چې غرڅه ازاده شوه دا کلمه يې وويله:
« أَشْهَدُ أَنْ لا إِلَـهَ إِلا اللَّهُ وَأَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ » . (١)

**د زمرې کیسه:**

په يوه بله پېښه کې دا سامه بن زيد په روايت له محمد بن منکدر نه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم له آزاد شوي مريي سفينه نه روايت دی چې هغه پر بيړۍ سپور د يوه ځای نيت يې وکړ ، د سفر په دوران کې يې بيړۍ ماته شوه ، او بحر هغه په يوه ساحل کې وغورځاوه ، ناڅاپه له زمرې سره مخامخ شو هغه زمرې ته په خطاب کې وويل: زه د رسول الله مريي (سفينه) يم ، د دې خبرې په اوريدو سره زمرې ورته لار وښوده ، راوي وايي: وروسته زمرې وغړمبيد او ما ګومان وکړ چې هدف يې دا و چې پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته مې سلام ورسوه . (٢)

او تر دې هم روښانه دليل د الله جل جلاله دا قول دی:

﴿أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾﴾ [ آل عمران : ٨٣ ]

ترجمه: آيا نو غير له دين د الله ځنې غواړي (کافران بل دين) حال دا چې (خاص) الله ته غاړه اېښې ده هر هغه چې په آسمانونو کې دی (له علوياتو) او په ځمکه کې دی له (سفلياتو سره له آسمانونو او ځمکې) په خوښه يا په زوره او بيا (خاص) هم ده ته بېرته بيولی کېږي (دا ټول خلق د

(١) البداية والنهاية ج: ٦ص: ١٤٧.

(٢) دا حديث طبراني تر ٦٤٣٢ ګڼې لاندې او عبدالرزاق په خپل مصنف کې تر ٢٠٥٤٤ ګڼې لاندې د معمر له لارې له سعيد بن عبدالرحمن بن جحش له ابن منکدر نه روايت کړی دی ، او د هغه رجال يې باوري ښودلي دي مګر دا چې د منکدر سماع په خپله له سفينه نه حوته نه ده او په هغه روايت کې چې طبراني کړی دی اسامه بن زيد راغلي دی ، دا پېښه هم په مختلفو رواياتو راغلې ده .

مجازاتو له پاره نو بنایی چی تول، هدایت او اسلام ځانته غوره کړی) .

له دی آیت نه دا جوتیږی چی نه یوازی دا چی ځینی انسانان مسلمانان دی بلکی دالله تعالی نور مخلوقات او موجودات هم مسلمانان دی، او د هغه حکم ته یی غاړه ایښی ده ، په دی توګه پر هر انسان لازمه ده چی عناد او سرغړونه یوی خواته پریږدی او د الله جلت عظمته دین ته تسلیم شی د دی لپاره چی انسانی تولنه له هغو بدیو او فسادونو نه چی د بی دینی له وجی ورته پیښیږی ،خوندی پاتی شی.

* * *

# یوازی اسلام غوره دین او یوازی الله برحق معبود دی

اسلام د وروستنی او تر ټولو د کامل دین په توګه چی د انسانانو د ستونزو د حل صلاحیت لری ، د الله جل جلاله له لوری بندګانو ته نازل شوی دی د هغه ذات له لوری چی د هستی نظام یی په لاس کی دی، د بشری طبیعت د اړتیاو او غوښتنو رازونه ورته څرګند دی او د هغه سالمه او د خیر لاره یی پیداکوونکی ته ښه معلومه ده ؛ نو ځکه خو دا دی وړ دی چی انسان د کایناتو د خالق او پیدا کوونکی پیروی او اطاعت وکړی او د هغه نظام د خپل ژوندانه یوازنی نظام وګنی.

**دبشریت نجات د اسلام په سیوری کی دی:**

خدای تعالی پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر دی مکلف کړی دی چی پیغام یی ټول بشریت ته ورسوی او انسان د خپل همنوع له بندګی او د وضعی نظامونو له ظلم او تیری نه یی وژغوری او د اسلام د ژوند بخښونکی سیوری په لور ،لار وروښیی.

الله جل جلاله فرمايلي دي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ كَافَّةً لِّلنَّاسِ بَشِيراً وَنَذِيراً وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ﴿٢٨﴾﴾ [سبأ: ٢٨]

ترجمه: او نه يي ليږلي مونږ ته مگر په دي حال کي چي جامع يي خلکو ته زيري ورکوونکي د (جنت مؤمنانو ته) او ويروونکي (له دوزخه کفارو ته) وليکن اکثر خلک (له کفارو) نه پوهيږي (په فضائلو ستا او په رذائلو خپلو).

## جهاد د خداي د کلمي د لوړولو له پاره:

الله تعالى د خپلي کلمي او دين د لوړوالي له پاره جهاد فرض کړي دي او مسلمانان مکلف دي چي د الله د کلمي د لوړوالي له پاره جهاد وکړي او حق جهاد هغه جهاد ته وايي چي هيڅ ډول د تيري غرضونه په کي دخيل نه وي او يوازي د الله تعالى رضا، د هغه د نامه لوړاوي او د الهي عدل د نظام تشکيل يي هدف وي او بل هيڅ نظام له اسلامي نظام سره په څنگ کي کښينږدي الله تعالى فرمايلي دي:

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ فَإِنِ انتَهَوْا فَإِنَّ اللَّهَ بِمَا يَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿٣٩﴾﴾ [الأنفال: ٣٩]

ترجمه: او وجنگيږي (اي مؤمنانو!) له دغو «کفارو» سره تر هغه پوري چي نشي پاتي فتنه «فساد په ځمکه کي» او شي دين «حکم» ټول خاص الله لره (او نور ټول باطله اديان ورک شي) نو که واوړي دوي «له کفره او اسلام راوړي» نو بيشکه الله پر هغو عملونو چي دوي يي کوي ښه ليدونکي (بينا دانا) دی.

په پوره ته اَیت کی د (كُلُّهُ) کلمه دا مفهوم لری چی درست نظام د ژوندانه په ټولو برخو او سیاست کی ، په ټوله ځمکه کی، د اسلام وی، ددی لپاره چی څوک ونکړای شی چی مسلمان له خپل دین نه بل دین ته واړوی او ټولو خلکو ته په کار دی چی یا د اسلام د دین پیروی او اطاعت وکړی او یا دا چی هغه د یوازنی ځواکمن دین په توګه ومنی او نظام ته یې غاړه کښیږدی او د غاړی ایښودنی په توګه جزیه ورکړی.

* * *

# د پیغمبرانو دعوت

زه د خپلې دې حقې ادعا د ثبوت لپاره چې اسلام باید د یوازنی دین او قانون او الله تعالى د ځمکې په ټوله کره کې د یوازنی معبود په توګه و پیژندل شي معقول، منقول، منطقي او مستند دلایل چې پر تجربو او عیني شواهدو بنا دي درنو لوستونکو ته وړاندې کوم:

١ - ټولو انبیاوو علیهم السلام خپل امتونه دې خبرې ته رابللي دي چې د یوه خدای عبادت وکړي او هیڅوک ورسره شریک نه کړي.

لکه چې الله تعالى فرمایلي دي:

﴿يا أَيُّها النَّاسُ اعْبُدُوا رَبَّكُمُ الَّذِي خَلَقَكُمْ وَالَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿٢١﴾﴾ [البقرة: ٢١]

ترجمه: ای خلکو! عبادت وکړئ د رب خپل هغه (رب چې) پیدا کړي یې تاسې او (پیدا کړي یې دي) هغه کسان چې وو پخوا له تاسې څخه د پاره د دې چې تاسې ځان وساتئ (له عذابه د الله).

او په بل ځای کی فرمایی:

﴿يـا عـبـادي الـذين آمـنـوا إنَّ أرْضـي واسـعةٌ فـإيَّـاي فـاعْـبُـدُون ﴿٥٦﴾﴾ [العنكبوت: ٥٦]

ترجـمـه: ای بندګـانو زمـا هغـو چی ایمـان یی راوړی دی (یعنی ای مـؤمنانو!) بیـشکـه ځـمکه زمـا ارته ده (نو دویری له ځـای نه د امن ځـای ته هجـرت وکـړئ!) پس خـاص مـا لره عـبادت کـوئ تاسی (په هر ځـای کی چی مامون اوسئ!).

او د یوسف په سورت کی یی فرمایلی دی:

﴿ إنِ الْحُكْمُ إلاَّ للَّه أَمَرَ أَلاَّ تَعْبُدُوا إلاَّ إيَّاهُ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾﴾ [یوسف: ٤٠]

ترجمـه: نه دی حکومت (د هیچا) مګر خاص د الله دی، امر یی کړی دی په دی چی عبادت مه کوئ تاسی مګر د هم ده، دا (عبادت د ده) دین دی سم (او حق دی ښکاره) ولیکن زیات د خلکو نه پوهیږی (په حقه لاره).

**دنـوح علیه السـلام دعـوت:**

الله تعالی د نوح علیه السلام د بلنی په باب فرمایلی دی:

﴿لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إلَىٰ قَوْمِه فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إلَٰهٍ غَيْرُهُ إنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿٥٩﴾﴾ [الأعراف: ٥٩]

ترجمه: قسم دی په تحقیق لیږلی و مونږ نوح په لوری د قوم دده نو وویل «نوح» ای قومه زما عبادت کوی تاسی د الله نشته تاسی ته هیڅ معبود بی له دغـه «الله» بیـشکـه زه ویریږم په تاسی باندی له عـذاب د ورځی لویی «طوفان» یا د «قیامت».

**د هــود عليه الســلام دعــوت:**

الله تعالى د هود عليـه السلام په باب فرمايلي دي:

﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ إِن أَنتُمْ إِلاَّ مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾﴾ [ هود : ٥٠ ]

ترجمه: او ليږلی و مونږ قوم د عـاد ته (قـومی) ورور د دوی هود ، وويل (هود ) ای قـومـه زما عـبـادت کوئ (يوائحی) د الله (ځکه چی) نشتـه تاسی ته هيڅ بـرحق مـعـبـود غـيـر لـه الله نه ، نه يی تاسی مگر دروغ تړونکی (پر الله پوری په دعوی د شرک کی ) .

الله جلت عظمته بل ځای د هــود عليه السلام د بلنی په باب فرمايلي دي:

﴿فَأَرْسَلْنَا فِيهِمْ رَسُولاً مِّنْهُمْ أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ أَفَلا تَتَّقُونَ ﴿٣٢﴾﴾ [ المؤمنون : ٣٢ ]

ترجـمـه: پس وليـږه مونږ په هغـو کی يو رسول (هود يا صـالح) له دوی څـخه (وويل مونږ په ژبه د هغه رسول دوی ته داسی) چی عـبـادت کـوی تاسی (يوائحی) د الله نشـتــه تاسی ته بل هيڅ بر حق مـعـبـود بی لـه الله آيا پس نه ويريږی (له عذابه د الله) .

**د صــالح عليه الســلام دعــوت:**

الله تعالى د صالح عليـه السلام د بلنی (دعوت) په باب فرمايلي دي:

﴿وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَالِحًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ الأَرْضِ وَاسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَاسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوا إِلَيْهِ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾﴾ [ هود : ٦١ ]

ترجمه: او (ليږلی و مونږ ) ثموديانو ته (قومی) ورور د دوی صالح ،

وی ویل ای قومه زما عبادت کوئ (یواځې) د الله نشته تاسی ته هیڅ برحق معبود غیر له ده ، هم دغه (الله) پیدا کړی یې تاسی له ځمکې (چې آدم یا ماده د نطفې ده) او استوګن کړی یې تاسې په دغې (ځمکې) کې نو مغفرت وغواړئ له ده څخه (او په وحدانیت یې ومنئ) بیا رجوع وکړئ ده ته (له عبادتونو د نورو) بیشکه رب زما ډیر نژدې دی (په رحمت او په فضل خپل سره) ښه قبلوونکی د دعا دی.

**دشعیب علیه السلام دعوت:**

الله تعالی د شعیب علیه السلام له ټلنې نه په حکایت کې فرمایلي دي:

﴿وَإِلَىٰ مَدْيَنَ أَخَاهُمْ شُعَيْبًا قَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ وَلَا تَنقُصُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ إِنِّي أَرَاكُم بِخَيْرٍ وَإِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ مُّحِيطٍ ﴿٨٤﴾﴾ [هود: ٨٤]

ترجمه: او (لیږلی و مونږ ښار یا اولاد د ) مدین ته (قومی) ورور د دوی شعیب ، وویل (شعیب) ای قومه زما عبادت کوئ (یواځې) د الله نشته تاسی لره هیڅ (برحق) معبود بې له دغه (الله) ، او مه کموئ پیمانه او تله بیشکه چې زه وینمه تاسی په خیر (خوشاله ښاره په شتو) او بیشکه زه ویریږم پر تاسی (په سبب د دې خیانت) له عذابه د ورځې چاپیریدونکی (په تاسی پوری په سختې او عذاب سره).

**دعیسی علیه السلام دعوت:**

الله تعالی د عیسی علیه السلام د بلنې په باب فرمایلي دي

﴿لَقَدْ كَفَرَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ هُوَ الْمَسِيحُ ابْنُ مَرْيَمَ وَقَالَ الْمَسِيحُ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ اعْبُدُوا اللَّهَ رَبِّي وَرَبَّكُمْ إِنَّهُ مَن يُشْرِكْ بِاللَّهِ فَقَدْ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ الْجَنَّةَ وَمَأْوَاهُ النَّارُ وَمَا لِلظَّالِمِينَ مِنْ أَنصَارٍ ﴿٧٢﴾﴾ [المائدة: ٧٢]

ترجمه: خامخا په تحقیق کافران شوي دي هغه کسان چي وايي دوي (له ډيره جهله) چي بيشکه الله هم دغه مسيح زوي د مريمي دي او ويل به مسيح چي اي بني اسرائيلو، (اولادي د يعقوبه!) عبادت کوئ تاسي د (يوائي هغه) الله چي رب زما او رب ستاسي دي، بيشکه شان دا دي هر چا چي شريک ونيوه له الله سره (په عبادت کي بل شي) نو په تحقيق حرام کړي دي الله په دغه (مشرک) باندي جنت او ځاي دده اور (د دوزخ) دي او نشته ظالمانو ته هيڅ مدد کوونکي (چي عذاب تري دفعه کړي).

او په دي توګه ګورو چي د ټولو پيغمبرانو دعوت او بلنه پر يوه اصل بنا ده او هغه دا چي الله تعالى د نمانځني او عبادت وړ يوازني ذات دي او هيڅ شريک نه لري.

* * *

# دجــن اوانــس د خلـقت هـــدف

الله تعـالی جـن اوانس د عـبـادت لپـاره پیـدا کـړی دی لکه چی فرمایلی یی دی:

﴿وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ ﴿٥٦﴾﴾ [ الذاریات : ٥٦ ]

ترجـمـه: او نه دی پیـدا کړی مـا پیریان او انسـانان مګر لپـاره ددی چی عبادت وکړی څما .

عبادت یوازی لمانځه، ذکر او روژی نیونی ته نه وایی؛ بلکی د عبادت ستر مفهوم په اطاعت کی نغښتی دی، او په اسلام کی د عبادت مفهوم دا نه دی چی انسانان د خپل ژوندانه ټولی چاری پریږدی ؛ واده ونه کړی، سواد ګری ونه کړی، کار روزګار ونه لری او شپه او ورځ په ذکر او لمانځه مشغول وی؛ بلکی په اسلام کی د عبادت اساسی مفهوم دا دی چی که هر مباح کار د خدای تعالی د رضا په خاطر تر سره شی؛نو د عبادت ثواب مومی او دا خبره جوتوی چی پر جن او انس باید یو ډول نظام او قانون حاکم وی ، او دا نظام او قانون طبعاً د الله له لوری مقرر شوی دی او هیڅوک حق نه لری ددی نظام له چوکاټ بهر ګام کښیږدی؛ ځکه چی په پورتنی آیت کی د عربی ژبی د قواعدو له مخی

د نفي او اســـتـــثنا توري (اداة) دواړه راغلي دي او د «حـــصــــر» يعني ځانګړيتوب مفهوم لري يعني د ژوندانه ټولي چاري مو بايد يوازي او يوازي د دين په چوکاټ کي نافذي او اجرا شي، له دي امله اسلام د تطبيق، تنفيذ او عـمل يوازيني دين دي کـه څوک پـه دي فکر وي چي سجده الله جل جلاله ته کوم؛ خـو حلال او حـرام، روا او نـاروا مي پخـپل لاس کي دي، داسـي کس د سجدي په مفهوم نه دي پوه شوي او د عبادت په مفهوم يي سر نه دي خلاص شوي په داسي حال کي چي سړي الله تعالى ته سجده (چي د عبادت تر ټولو لوي مظهر دي) وکړي بيا څنګه کيداي شي چي په دوو امرونو يا احکامو کي چي يو يي دخداي جل جلال او بل يي د انسان له لوري وي، د انسان امر ته غاړه کښيږدي او ويي مني او يا د الله تعالى د دين تر څنګ بل دين هم ومني.

**ددوو خـدايانـو د وجـود مـمـتـنع والـي:**

الله تعالى د آلهه و د تعدد د رد لپاره مونږ ته د منطقي او قانع کوونکي دليل ښوونه کړي ده چي د هر منصف وګړي عقل يي مني:

﴿لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلاَّ اللَّهُ لَفَسَدَتَا فَسُبْحَانَ اللَّهِ رَبِّ الْعَرْشِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿٢٢﴾﴾ [الأنبياء: ٢٢]

ترجمـه: کـه چيـري واي په دغـه آسمـان او ځـمکه کي نور مـعـبـودان (حـاکمـان) بي له الله څخه نو خامخا وران شوي به وو دواړه (عادتاً ددوي د اختلاف په سبب) نو پاک دي الله چي رب د عرش دي له هغو (ناکارو خبرو او شيانو) چي دوي يي منسوبوي ور ته.

کله چي ګورو د هستي د جهان دا نظام بي له ځنډه او په ډيره دقيقه تو ګه خپله لاره وهي، دا جوتوي چي نظام يو او د نظام واجب الوجود او د عبادت وړ خاوند يو دي که چيري دوه خدايان واي يوه به لمر ته امر کاوه چي خپل حرکت ته دوام ورکړه! او بل به ويل چي حرکت مه کوه! تاسي پخپله ووايي چي نتيجه به

څه کیده ؟که دوه نظامه وای په یوه کی به شپه او ورځ ۲٤ ساعته وای او په بل کی به ٦ ساعته آیا دا دی دوو نظامونو تر منځ جمع ممکنه ده؟ په همدی توګه په دنیوی کوچنیو نظامونو کی ، که په یوی کورنی کی دوه مشران وی د کور وضع به څه ډول شی په یوه هیـواد کی دوه باچایان ممکن نه دی، دیوه ډرایور سیټ له یو کس نه د زیاتو کسانو ظرفیت نه لری، د هستی نظام هم په همدی توګه دی ، نظام یو او خاوند یی یو دی، که په یوه ښوونځی کی دوه مدیران او دوه نظامه وی، په یوه کی د بریالیتوب نومری ٤ او په بل کی ٦ وی یا په یوه نظام کی درسی ساعت ۸ بجی او په بل کی ۹ بجی پیل شی تاسی د هغه چا په باب چی ۵ نومری یی اخستی څه پریکړه کولای شی بریالی دی که پاتی؟ او څوک چی په ۳۰ : ۸ بجو درس ته راځی ، حاضر یی بولی یاغیر حاضر؟ پرته له دی چی د ښوونځی نظام ګډوډ او د ښوونځی ور وتړل شی آیا بله نتیجه به ولری؟

## د خلقت په نظام کی بدلون:

که خدای تعالی پر مخلوقاتو حاکم نظام بدل کړی، څوک به یی مخه ونیولای شی؟ کله چی د څمکی پر مخ عمر پای ته ورسیږی ، څوک یی اوږدولای شی؟ دا خدای چی د ټولو مخلوقاتو خالق دی او د هستی نظام د هغه د عام او شامل قانون پراساس ټینګ دی، آسمانونه یی پرته له ستنو او سماوی اجرام یی پرته له دی چی په یوه سره تړل شوی وی هر یو د هغو نوامیسو ، اسرارو او رموزو پر اساس چی پخپله یی ټاکلی دی او نه پریږدی چی آسمان راولویږی او یا دا اجرام سره وجنګیږی او ټکر وکړی ، پخپل مدار کی ثابت ساتلی دی، که چیری الله تعالی یی نظم او تدبیر ته تغییر ورکړی څوک دا وس لری چی نظم یی بیرته اعاده کړی ؟ الله تعالی په دی اړه فرمایی:

﴿إِنَّ اللَّهَ يُمْسِكُ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضَ أَن تَزُولا وَلَئِن زَالَتَا إِنْ أَمْسَكَهُمَا مِنْ أَحَدٍ مِنْ بَعْدِهِ إِنَّهُ كَانَ حَلِيمًا غَفُورًا ﴿٤١﴾﴾ [ فاطر: ٤١ ]

ترجمه: بیشکه الله ساتی (دغه) آسمانونه او ځمکه له دی نه چی زائل شی (او له خپله محوره بیځایه شی) او (قسم دی) که (بالفرض) مخ په زوال شی دا دواړه نو ویه نه ساتی (له زواله) دغه دواړه بل هیڅوک ماسواء له دغه (الله) نه، بیشکه دغه (الله) دی ښه تحمل والا (چی تعجیل نه کوی په تعذیب د منکرینو) ښه ښونکی (د تائبانو).

**دشپی او ورځی په پرله پسی توب کی دالله دقدرت نښی:**

الله تعالی په دی باب چی که شپه همیشه وای څه به کیدل فرمایلی دی:

﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ اللَّيْلَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِضِيَاءٍ أَفَلا تَسْمَعُونَ ﴿٧١﴾﴾ [ القصص: ٧١ ]

ترجمه: ووایه (ای محمده دوی ته) آیا وینئ (یعنی څرنګه در ښکاری) که چیری وګرځوی الله پر تاسی دغه شپه اوږده همیشه تر ورځی د قیامت پوری نو څوک دی هغه (معبود) بی له الله چی راوړی تاسی ته رڼا (چی په کی طلب د معاش کوی) آیا پس نه اورئ تاسی (دغه خبره د زړه په غوږو سره؟).

او په دی باب یی چی که همیشه ورځ وای څه به کیدل فرمایلی دی:

﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِن جَعَلَ اللَّهُ عَلَيْكُمُ النَّهَارَ سَرْمَدًا إِلَىٰ يَوْمِ الْقِيَامَةِ مَنْ إِلَهٌ غَيْرُ اللَّهِ يَأْتِيكُم بِلَيْلٍ تَسْكُنُونَ فِيهِ أَفَلا تُبْصِرُونَ ﴿٧٢﴾﴾ [ القصص: ٧٢ ]

ترجمه: ووایه (ای محمده! دوی ته) آیا وینی تاسی (یعنی څرنګه در

ښکاري) کـه چيـري وګـرځـوي الله پرتاسي ورځ اوږده هميشـه تر ورځي د قيامت پوري (چي هيڅ غروب الشمس ونشي) نو څوک دی (هغه معبود) بی له الله چي راوړي تاسي ته شپـه چي آرام وکـړي تاسي په هغي کي آيا پس نه ويني تاسي (آثار د قدرت).

## که اوبه نه وي څوک یی پيدا کولای شي ؟!

الله تعالى داوبو د وجود د اهميت په باب فرمايلي دي:

﴿قُلْ أَرَأَيْتُمْ إِنْ أَصْبَحَ مَاؤُكُمْ غَوْرًا فَمَن يَأْتِيكُم بِمَاءٍ مَّعِينٍ ﴿٣٠﴾﴾ [الملك: ٣٠]

ترجـمـه: ووايه (ای محمده! دغو منکرانو ته) آيا ويني خبر راکړئ تاسي ما ته که چيري ګهيځ (سحر) وګرځي اوبه ستاسي ښکته (په ځمکه کي ننوتلي ورکي) نو څـوک دي هغـه چي راولي تاسي ته اوبه رواني شفافي پاکي صافي.

کله چي دا نظام، پخپل دي دومره لويوالي سره خدای جل جلاله ته تسليم دی، او پرته له الله يی بل څوک نشي سمبالولای او که څوک وغواړي څه بدلون په کي راولي، نه يی شي کولای او که ټول دنياوال لاسونه سره يو کړي چي د لمراو سپوږمۍ په حرکت کي بدلون راولي يا د يوی شپي ورځي ټاکل شوي وخت کم يا زيات کړي، نه يی شي کولای يا وغواړي د شيانو په طبيعت کي بدلون راولي، داسي چي لمراوبه کنګل کړي او اوره لرګي وسوځوي، ايا داسي کار يی په وس کي دی؟ هيڅکله به داسي ونه کړای شي، په داسي حال کي چي الله تعالى پر حضرت ابراهيم عليه السلام اور سوړ کر او ددي پر ځای چي ويی سوځوي هغه يی ورته سوړ او په زړه پوری کړ، مفسرين وايي چي که

الله تعالی په دی حکم کی:

﴿قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ ﴿٦٩﴾﴾ [الأنبياء: ٦٩]

ترجمه: وویل مونږ ای اوره! شه یخ او خاوند د سلامتیا پرابراهیم باندی.

که له ( بَرْدًا ) وروسته یی( سَلَامًا ) نه وای ویلی ښایی د اور سړښت ابراهیم علیه السلام کنګل کړی وای په داسی حال کی چی د انسان ژوند د اسبابو په دنیا کی اوبو ، اکسیجن او ... ته اړتیا لری، او له هغی پرته ژوند ممکن نه دی، ایا انسانان کولای شی، چی له هغی پرته کوم بدیل او عوض ورته پیدا کړی؟ په داسی حال کی چی د مړو ژوندی کول د خدای تعالی کار دی، ایا انسانان کولای شی مړی ژوندی کړی؛ پرته له عیسی علیه السلامه چی مړی یی د معجزی په توګه د الله جل جلاله په حکم ژوندی کول.

**د اختـــیـار نـظام:**

په داسی حال کی چی په ټول نظام کی یوازی د خدای دین ، قانون او نظام نافذ او حاکم دی او انسان او ژوند یی د دی لویو مخلوقاتو د جسامت او دی پراخی هستی او کایناتو چی له الله پرته یی بل څوک په پای نه دی خبر په وړاندی دیوی وړی ذری په اندازه ښکاری، خدای تعالی ورته حکم کړی دی چی دهغه عام، کامل او شامل نظام ته غاړه کښیږدی او دا واک یی هم ورکړی چی ددی چارو په خپلولو کی د اختیار خاوند دی ، منتها هغه ازمایی چی تر کومی اندازی پوری له خپل عقل او بصیرت نه کار اخلی، او که نه خدای تعالی کولای شوای چی لکه لمر، سپوږمی او نور موجودات دا اختیار یی تری اخستی او په تکوینی حکم یی پر خپل اطاعت مکلف کړی وای چی له دی محدودی نه بهر نه شی؛ نو په هغه صورت کی یی نه شوای کولای چی د الله له حکم نه دیوی ذری په اندازه غاړه وغړوی، اوس وګوری چی د هغه د عقل،

منطق ، سالم طبیعت او ضمیر حکم څه دی؟ آیا ځان په عام او شامل نظام کی ودروی یا تری سرغړوی؟

د بیلګی په توګه په یوه ښوونځی کی د هغه د قوانینو رعایت هر شاګرد ته لازم او حتمی دی، د درسی ساعت پیل او پای، د ټولګیو ترتیب، د بریالیتوب نومری او نور شاګردانو ته ویل کیږی، او میز، کرسی او نوری درسی اړتیاوی د شاګرد په واک کی ورکول کیږی، او په وار وار ورته نصیحت کیږی چی که څوک میزونه او څوکی ماتی نه کړی، او تر پایه په درسی چارو کی تری کار واخلی، فوق العاده جایزه هم ورکول کیږی او د تهذیب نومری یی هم لس پر لسو دی او که چا د هغی پر خلاف عمل وکړ، مجازات کیږی او که سرغړونه یی له حده زیاته شی، د تهذیب نومری یی هم کمیږی او که تر دی هم زیات بی پروا و ، له مدرسی نه ایستل کیږی وګوری چی په هغه صورت کی د ښوونو پیروی ورته څومره ګټوره تمامیږی؛ نو که ددی سره سره بیا هم یو شاګرد د اصولو څخه سرغړاوی کوی او ددی سرغړونی په نتیجه کی له مدرسی څخه اخراج کیږی ملامتی به د چا پر غاړه وی؟

## دمـوجـوداتـو په مـنځ کی د هـماهنګی اړتـیا :

د تیرو دلایلو پر دوام، چی لږ د مخه مو له مخی تیر شول، باید دا ټکی روښانه کړو چی دیوه نظام یا کارګاه د موجوداتو په منځ کی چی چاری په ګډه سره پر مخ بیایی تنسیق او هماهنګی یوه ضروری خبره ده او کله چی دا هماهنګی له منځه ولاړه ، په فساد ، تباهی او خرابی سره پای ته رسیږی؟

د بیلګی په توګه په انګلستان او هغو هیوادو کی چی پخوا یی مستعمره وو، د ترافیکو نظام داسی دی چی عراده جات باید پر کیڼ لاس وچلیږی او س که څوک له افغانستانه هلته ولاړ شی، پخوا تر دی چی ځان د دی هیواد له نظام سره اشنا کړی، او د موټر اشترنګ ته کښینی او دریوری وکړی، او

عـمومي جادو ته ورتنوځې نو دا چې د هغـه د ډېروړي سيستم د دې هيواد له نظام سره هماهنګ نه دي، بنايي لوېې لاري ته په داخليدو سره د ځان او خپلو ملګرو د مرګ باعث شي، ځکه چې د هغه هيواد له رايج عمومي نظام سره يې مخالفت او ټکر کړی دی او يا دا چې په ټولو نړۍ کې د ترافيکو د اشارو قانون داسې دی چې کله اشاره سره شي، ټول عراده جات ودريږي، که څوک د هغه مخالفت وکړي حتماً ټکر کوي ځان او نورو ته زيان رسوي، او دده دا ټکر په دې خاطر دی چې له عام او منل شوي قانون سره يې مخالفت کړی او ځان يې ورسره هماهنګ کړی نه دی، د خدای له نظام او قانون سره هم د انسان چلند همداسې دی، که چېرې انسان ځان له دې عام، کامل او شامل نظام سره هماهنګ کړي؛ نو له خطرونو او مصيبتونو نه خوندي پاتې کيږي او د دې هماهنګۍ له نعمت نه برخمن کيږي او که خپلې اړيکې يې د خدای له عام او شامل نظام سره، چې د عالم ټولو موجوداتو ورته غاړه ايښې ده، هماهنګي نه کړي ژوند يې له جدي خطر سره مخ کيږي، او د خدای عذاب ورسيږي او په دې توګه د ځان او خپلو ملګرو د بدبختۍ باعث کيږي.

### د موجوداتو له نظام سره د ټکرضرر:

خدای تعالی همدا مطلب چې د الله تعالی له نظام او عام قانون سره هماهنګي پر خدای تعالی د ايمان او پر دين د پابندۍ له لارې د برکتونو د راجلبولو باعث کيږي او سرکشي تری د عذاب او تباهۍ او بربادۍ باعث کيږي د اعراف سورت په څلورو آيتونو کې داسې بيانوي:

﴿وَلَوْ أَنَّ أَهْلَ الْقُرَىٰ آمَنُوا وَاتَّقَوْا لَفَتَحْنَا عَلَيْهِم بَرَكَاتٍ مِّنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَلَٰكِن كَذَّبُوا فَأَخَذْنَاهُم بِمَا كَانُوا يَكْسِبُونَ ﴿٩٦﴾ أَفَأَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَن يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا بَيَاتًا وَهُمْ نَائِمُونَ ﴿٩٧﴾ أَوَ أَمِنَ أَهْلُ الْقُرَىٰ أَن

يَأْتِيَهُم بَأْسُنَا ضُحًى وَهُمْ يَلْعَبُونَ ﴿٩٨﴾ أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللَّهِ فَلا يَأْمَنُ مَكْرَ اللَّهِ إِلاَّ الْقَوْمُ الْخَاسِرُونَ ﴿٩٩﴾ ﴾ [الأعراف: ٩٦ ـ ٩٩]

ترجمه: او که خلکو ددی کلیو (ښارونو) ایمان راوړی وای او تقوی یی (غوره) کړی وای نو خامخا پرانیستلی به وی مونږ پردوی باندی (دروازی د) برکتونو له لوری د آسمانه (دباران په اورولو) او له «لوری» د ځمکی «په زرغونولو د محصولاتو» ولیکن نسبت د دروغو چی وکړ دوی (انبیاؤ ته) نو ونیول مونږ هغوی په سبب د هغو چی وو دوی چی کول به یی «د کفر او معاصیو څخه» آیا نو پر امن کی دی (بلکی مأمون نه دی) اهل د قریو «ښارونو» له دی نه چی راشی دوی ته عذاب زمونږ د شپی حال دا چی دوی ویده (غافل) وی. آیا په امن کی دی اهل د قریو (ښارونو) له دی نه چی راشی دوی ته عذاب زمونږ په څاښت کی حال دا چی دوی په لوبو مشغول وی، آیا نو په امن کی دی دوی «بلکه نه دی» له مکره «ناڅاپه نیولو» د الله؛ نو نه په امن کیږی له مکره د الله مګر قوم زیان کاران «په کفر او نفاق سره».

د الله تعالی له قانونه دخلکو سرغړونه نه یوازی دا چی د خدای د عذاب باعث کیږی؛ بلکی د تکوینی نوامیسو او قوانینو پر اساس چی مالک یی الله تعالی دی، د اسبابو په نړی کی هم انسانان له زیاتو ستونزو سره مخ کیږی آیا په ایډز، پیس، سفلیس او دی ته ورته ناروغتیاو اخته کیدل د خدای تعالی له قانونه د سرغړونی له جزا پرته بل دلیل لری؟ او ایا قتل یا وژنه، فساد او دښمنی چی مصیبتونه زیږوی د خدای له عام نظام سره له نه هماهنگی پرته بله طبیعی نتیجه لرلای شی؟ ایا عقلی او عصبی ناروغی او په هیرویینو د معتادو کسانو کړاوونه د خدای تعالی له عام نظام سره ترټکر ور اخوا بل څه کیدای شی؟دا حقیقت دومره روښانه دی چی دخدای او الهی نظام منکران هم کله د هغه له نتایجو خبر شول، په دی لټه کی شول چی ددی انحرافاتو مخه

ونيسي، که څه هم چې هغوی پر اصل ایمان نه لري؛ خو د انحرافاتو د نتايجو له مخې يې د ځان ساتنې په چارو کې کوچنې اصلاحات رامنځ ته کړل ، د بیلګې په توګه، اوس د شرابو له څښلو نه د ځان ساتنې توصيه کوي، د هیرويينو د مخنيوی مسأله يې راپېنګه کړې ده ، او ان چې کله وغواړي څوک پر یوه کار وګوماري، ددندې یا کار دځرنګوالي په پام کې نيولو سره، په نشه ئي موادو د معتاد نه اوسيدلو شرط پرې ږدي.

اوس باید د سلیم عقل او بیدار ضمیر خاوندان په خپل بې پرې قضاوت سره ووايي چې آیا همدا مطلب چې مونږ په دې بحث کې پرې وغږيدو چې ربښتيا هم اسلام د یوازنی نظام او الله د یوازنی معبود په توګه وی، یو مسلم حقیقت دی؟ او که څنګه! د دې مطلب د توضيح لپاره څو نوري بيلګې هم وړاندې کوو:

لومړۍ بیلګه: که تاسې په یوه داسې هوټل کې و اوسیږئ چې د میلمنو د خوب وخت معمولاً د شپې لس بجې وی ، او د هنرمندانو او سازیانو یوه ډله خپله مستي د شپې له یوولسو بجو نه پیل کړي او دهوټل د تنظیفاتو ګروپ د شپې دوه بجې دکوټو د پاکولو کار شروع کړي، او دکوټې دروازه مو وټکوي چې کوټه مو پاکوي ، اوس که د هوټل اداره د یوه کس ، او دهنري اوامانوري ډلې اداره د بل چا او د تنظیف چارې دد ریم کس په لاس کې وی، او دا ټولې چارې د یوه کس او یوه رئیس له خوا اداره نشي، آیا د هوټل میلمانه کولای شي هلته د څو شپو لپاره پاتې شي؟ ښکاره خبره ده چې دا ډول هوټل به پریږدی او بل هوټل ته به ځي او یا به یې غږ سره پورته کیږي او خبره به رسوايي ته رسيږي.

دويمه بيلګه: په همدې توګه هر ماشين چې ګوري پرزې یې پخپلو کې سره هماهنګي لري او د جوړولو پر وخت یې داهماهنګي په پام کې نیول شوي

ده ، که چيری ډير لږ مخالفت هم وشي د ګډوډۍ او ځنډ باعث کيږي . که چيری د کرولا موټر ټاير پنچر شي ، آيا کولای شو د لوبي لاري (شانزده بيست) ټاير ورواچوو چي تاسي له يوي دښتي نه کومي آبادي ته ورسوي ښکاره ده چي دا کار ناشوني دی او په همدی توګه ديوه ماشين ټولي پرزی قياسولای شي. که چيری ديوه ماشين قوه په ۲۲۰ ولټو برابره شوي وی که ٤٠٠ ولټه برېښنا پري جاری کړی د ماشين د خرابوالي او سوځيدو باعث کيږي . دغه ټول عقلي او عملي شواهد او دليلونه چي ديوه ماشين په پرزو کي د هماهنګی تاکيد کوی ، ددی ثبوت دی چي انسان هم په لويه ئږيواله کورنۍ کي له نظامه پرته ژوند نشي کولای ، څرنګه چي ټول کاينات دخپل اصل او مبدا په موجوديت کي ، دخدای تعالي عام او شامل نظام ته تسليم دی ؛ نو انسان هم بايد د خدای تعالي عام او شامل نظام ته تسليم وی او دا مطلب د نقل ، عقل او منطق له مخي حتمي دی؛ نو په قاطعيت سره ويلای شو چي يوازی اسلام ديوازني نظام ، او يوازی الله د يوازني معبود او ددی نظام د مدبر په حيث حتميت لری کومي خرابۍ چي نن بشری نړۍ په کي راګير ده اساسي علت يي يا ددغه دين له حقيقت نه غفلت او بي خبری ده او ياخو له دين سره دښمنی ، عناد او سرغړونه ده .

دريمه بيلګه: بياهم د خپلو تيرو خبرو په تاکيد سره وايم چي حق او عدالت ، عدل او انصاف او سالم عقل تل دا پريکړه تاييد وی چي بايد له دی حکمه سرغړونه ونه کړی چا چي ماشين جوړ کړ ، بايد کتلاک يي هم هغه جوړ کړی ، څوک چي دوا جوړوی بايد خصوصيات يي هم هغه وليکی ، او د استعمال لاری چاری يي هم هغه وښيي او څوک چي الوتکه جوړوی بايد د الوتني خصوصيات او دهوا په وړاندی يي مقاومت ، چټکتيا ، د ارتفاع نيولو اندازه او ټول ضرورتونه د مخترع او اړوندی کمپني له لوری ترتيب شي.

د بيلګي په توګه آيا د اف ١٦ (F-16) الوتکي د استعمال لپاره د هغه

له خپل کتلاک پرته د بلې الوتکې له کتلاک نه کار اخستل کیدای شي ؟ ښکاره ده چې دغسې کار ناممکن دی؛ ځکه چې یوازې تولیدوونکې کمپنې يې له خصوصیاتو سره بلده ده او نوریې د کار او فعالیت په باب بې خبره دي مونږ چې دخدای مخلوق یو، او د هستې او کایناتو په لویه کورنۍ کې ژوند کوو او غړي يې یو ، که څه هم د الله تعالی له خوا ددې مخلوقاتو هر یوه ته د هغه د طبیعت او وس په اندازه تعلیمات خاص شوي دي؛ خو د هستې په عام او شامل نظام کې ټول د یوه نظام تابع دي، تر کومه وخته چې مسلمانانو ددې عام او تام نظام پیروي کوله ، مثبته نتیجه یې هغه ځای ته رسیدلې وه چې د انسانانو او نورو موجوداتو تر منځ د تفاهم زمینه برابره شوې وه ، تاسې یې مثالونه د اسلام په لومړیو وختونو کې موندلای شې لکه چې په خبر کې راغلي دي کله چې د اسلام لښکر د یوې سیمې د فتحې پخاطر د سیند غاړې ته ورسید له هغې نه تیریدل اسانه نه و د هغوی په دعا سره الله تعالی ورته تیریدل داسې آسانه کړل چې پښې يې هم لمدې نه شوې.

په یوه بله پیښه کې ، د اسلام لښکر د شپې یو ځنګله ته ورسید چې له هر ډول حیواناتو او نورو حشراتو نه ډک و ، کله يې چې قوماندان لاس آسمان ته پورته کړ ، او د ځنګله حیواناتو او خزندو ته يې په خطاب کې وویل: له دې ځایه کډه شئ چې د اسلام لښکر دلته دشپې د تیرولو نیت لري ! همغه وه چې ټول حیوانات او ټول حشرات له خپلو بچو سره له هغه ځنګله نه ووتل ، دا ټول مثالونه د الله تعالی د عام او شامل نظام د هماهنګۍ ښکاره دلایل دي.

* * *

# د دین اوسیاست پربیلتون د (اعتقاد) عوامل

په تیر بحث کی مو د اسلام مفهوم توضیح کړ، او دی ژوند رغوونکی دین ته مو د بشریت اړتیا تر څیرنی لاندی ونیوله، په دی ځای کی غواړو هغه عوامل وڅیړو چی، یو نیم یی له سیاست نه د دین پر بیلتون معتقد کړی دی.

۱ د دین او سیاست پر بیلتون د اعتقاد لومړنی عامل، له مسلمانانو سره د اسلام د دین د دښمنانو مخالفت دی؛ ځکه هغوی پوهیږی چی که چیری اسلام په کامله توگه پر تولنی تطبیق شی، د هغوی د نظام او هستی اعتبار له خطر سره مخ کیږی، او په ځمکه کی د پاینبت امکان له لاسه ورکوی، د اسلام زرینه دوره د کفارو او د اسلام د دښمنانو لپاره ډیره ښه تجربه ده، او دهغوی چی څومره وس وی، هڅه کوی چی مسلمانان په شک کی واچوی؛ کله له ویرولو او تطمیع نه کار اخلی او کله هم ورسره خونړی جگړی پیل کوی چی هغوی له خپل دین نه مخ واړوی لکه چی الله تعالی د هغوی په باب فرمایلی دی:

﴿وَلاَ يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىَ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا ﴿٢١٧﴾﴾ [البقرة: ٢١٧]

ترجمه: او همیشه به وی دوی (یعنی کافران) چی جنګ به کوی دوی له تاسي سره تر هغه پوری چی بیرته وګرځوی دوی تاسي له دینه ستاسي که یی لاس ورسیږی (او موقع ومومی).

د هغوی دغه دښمنی او رخه کله د وسله والی جګړی او کله هم د مسلمانانو په عقایدو او اذهانو کی د شک او تردد پیداکولو په خاطر د ساړه او تبلیغاتی جنګ په بڼه پیل کیږی او احیاناً د مسلمانانو پام دی ته رااړوی چی که اسلام حکومتی چارو او د هیواد د اداری خواته راکاږی دا یی د بنسټپالنی ښکارندوی دی، د عصر له نویو نظامونو سره تطابق نه لری او نني نړۍ دی ته چمتو نه ده چی له دا ډول خلکو سره تعامل وکړی؛ نو ځکه ټینګار کوی چی باید ځان له کفری نړۍ سره هم رنګه کړی او اسلام ته په سیاسی او وطنی چارو کی لاره ورنکړی، له هغی پرته به ټوله نړۍ لاس یو کړی او نوغی به یی راوباسی او په دی توګه باید د نړۍ لوی هیوادونه له ځانه خوښ کړی، او دهغوی په مشورو عمل وکړی.

همدلته ده چی یو شمیر پر واک مین ساده او له حقیقته بی خبره خلک، کرار کرار پر خدای توکل پریږدی او د اسلام له دښمنانو سره هم غږی کیږی د هغوی نظر تاییدوی او ځان د واک د خاوندانو له خوښی سره سم عیاروی، هڅه کوی د هغوی له کفری نظریاتو سره سم کار وکړی خو له دی نه، خبر نه دی چی د اسلامی ژوند بخښونکو نظریاتو په ساتنی سره د کفارو د خوښی تر لاسه کول ناممکن دی، دهغوی خوښه هغه مهال تر لاسه کیدای شی چی له خپل دینه لاس په سر شی، چی په دی حالت کی یی ددنیا او آخرت له زیانه پرته نور څه نه په برخه کیږی، الله تعالی په دی باب فرمایی:

﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ الْيَهُودُ وَلَا النَّصَارَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ﴿١٢٠﴾﴾ [البقرة: ١٢٠]

ترجمه: او هيڅ کله به راضي نه شي له تا نه (اى محمده!) يهودان او نه نصرانيان تر هغه پورې چې متابعت وکړې ته د دين ددوى .

د الله تعالى ددى مستقيمي وينا مفهوم دا دى چې کله د هغوى خوښه ترلاسه کړو ، بايد پوه شو چې په مونږ کې د دين هسې بوى قدرې هم نه دى پاتې او مونږ په بې خبرې کې د هغوى د دين او ملت پيروى غوره کړې ده .

د عظيم الشان قرآن په بل ځاى کې فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا فَرِيقًا مِّنَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ يَرُدُّوكُم بَعْدَ إِيمَانِكُمْ كَافِرِينَ ﴿١٠٠﴾﴾ [آل عمران: ١٠٠]

ترجمه: اى هغو کسانو چې ايمان يې راوړى دى (اى مؤمنانو!) که تاسي حکم ومنى د يوه فريق له هغو کسانو چې ورکړې شوى دى دوى ته کتاب نو بيرته به وګرځوي تاسي وروسته له ايمانه ستاسو کافران .

همدا چې کفارو مسلمانان له سياسته د دين په بيلوالي معتقد کړل، خپل هدف ته ورسيدل، او دا د هغوى د دين د پيروى معنالرى؛ ځکه د هغوى په هيواد کې ، دين عملاً له سياسته جلا دى .

٢ـ د دين او سياست پر بيلتبت د اعتقاد دويم عامل په منځنيو پيړيو کې له مسيحيت سره د اسلام همغه غير عادلانه او مع الفارق (ناانډوله) قياس او د پاپانو غلطه تګلاره او معامله ده چې پاپانو مسيحيت تحريف کړى و او پر خلکو يې جنت ته د ننوتلو او له دوزخه د بچ کيدو کارتونه پلورل او د خلکو پر عقلونو يې د ناپوهي مهرونه وهلي وو ، تر دى چې خلک د هغوى له اعمالو په تنګ شول ، د پاپانو په وړاندې يې پاڅون وکړ ، او د دين په وړاندې يې چې پاپان يې نماينده ګان وو عقده واخسته ، پر دې اساس يې د دين لاسونه

او پښتې وتړلې او په کليســا کې يې ايسـار کړ او اجـازه يې ورنکړه چې نور د خلکو په ژوندنيو چارو کې مداخله ولري او مسيـحي دين تر اوسـه پورې په مسيـحي ټولنو کې په کليسـا کې زنداني دی او که څوک غواړي ديني مراسم ترسره کړي، او له خپل دين نه خبر شي، بايد ديوه بندي د پايواز په توګه دد ين د ليدلو لپاره کليسا ته ولاړ شي، دا قياس له دوو پلوو، غير عادلانه دی:

**الف** پاپانو د مسيح دين تحريف کړ او د خپلو هوی او هوسونو سره سم يې پر خلکو، دهغوی پر ژوند او دهغـوی د تفکر په طرز حکومت کـاوه، په داسې حال کې چې پـه اسلام کې بيا خبـره داسې نه ده، څـوک پر چا د جنت د ننوتلو کـارت نه شي پلورلای، نه څوک له ځانه پر دين څه ورزياتولی او نه يې ترې کمولای شي؛ بلکې قرآني لارښوونې او د پيغمبر صلی الله عليه وسلم هدايتونه له هر ډول تحريف او تغيير نه خوندي دي.

الله جل جلاله فرمايي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ ﴿٩﴾﴾ [الحجر: ٩]

ترجمه: بيشکه مونږ پخپله نازل کړی دی ذکر (پند قرآن) او بيشکه چې مونږ د ده خامخا ساتونکي يو (له تزئيده، تنقيصه او نورو).

**ب** ـ د وروستني پيغمبر په تشريف راوړني او د کاملترين دين (اسلام) په راتګ سره نور د مسـيـحيت د پاينت لپـاره شرعاً څـه مجال نه دی پاتې؛ ځکه چې اسلام ټول پخـواني سـماوي اديان منسـوخ کـړي دي، که څه هم چې اسماني دينونه ټول ديوه اصل تابع دي، چې هغه د توحيد پلي کول او دځمکې له مخ نه د شرک او بت پرستې د آثارو ټولول دي؛ خو په فروعو، جزئياتو او د ژوندانه د چارو د تنظيم په څرنګوالي او د شريعت د چارو په تفصيل کې سره توپير لري، لکه د مخـه مـو چې وويل د اسلام په راتګ سره د نورو اديانو د

عمل او دوام لری ختمه شوه ؛ نور د هیچا لپاره شرعاً روانه ده چی د اسلام په موجودیت کی بل دین ته رجوع وکړی. په فروعو او د شریعت په تفصیلی جزئیاتو کی او همدارنګه د ژوندانه دچارو په تنظیم کی نور د مسیحیت پالیی اوښتی دی او د قرآن کریم په حکم، الله تعالی له ټولو پیغمبرانو نه ژمنه (تعهد) اخستی چی کله هم وروستنی پیغمبر راورسیږی د هغه اطاعت وکړی لکه چی الله تعالی فرمایی:

﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ النَّبِيِّينَ لَمَا آتَيْتُكُم مِّن كِتَابٍ وَحِكْمَةٍ ثُمَّ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مُّصَدِّقٌ لِّمَا مَعَكُمْ لَتُؤْمِنُنَّ بِهِ وَلَتَنصُرُنَّهُ قَالَ أَأَقْرَرْتُمْ وَأَخَذْتُمْ عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ إِصْرِي قَالُوا أَقْرَرْنَا قَالَ فَاشْهَدُوا وَأَنَا مَعَكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ ﴿٨١﴾﴾ [آل عمران: ۸۱]

ترجمه: او (یاد کړه ای محمده!) هغه وخت چی واخیست الله عهد محکم له ټولو انبیاؤ چی خامخا هغه شی چی درکوم زه تاسی ته چی هغه کتاب او حکمت (شرعی احکام او عمیق اسرار) دی بیا راشی تاسی ته رسول (محمد) چی مصدق (رښتیاکوونکی) دی د هغه کتاب چی له تاسی سره دی نو هرومرو به ایمان راوړئ تاسی خامخا په هغه او هرومرو مدد به کوی تاسی خامخا ورسره، وویل (الله دوی ته) آیا اقرار وکړ تاسی په دغه (ایمان او نصرت) او واخیسته (قبوله کړه) تاسی پر دی (ایمان او نصرت) ټینګه وعده زما؟ وویل دوی اقرار وکړ مونږ (په دی)، وفرمایل (الله) نو تاسی شاهدان اوسئ (پخپل نفس او اتباعو) او زه هم له تاسی سره له شاهدانو څخه یم (پر تاسی او په هغوی باندی په دی اقرار کی).

په دی توګه ګورو چی پخوانیو پیغمبرانو د اسلام د پیغمبر تر بعثت د مخه د هغه د ملاتړ او د هغه د پیروی وعده ورکړی ده لکه کله چی حضرت عیسی علیه السلام دوباره ځمکی ته راکوزشی، د اسلام شریعت او د حضرت

محمد صلی الله علیه و سلم د ین تطبیقوی.

۳ ـ له دین نه د سیاست د جلاکیلو دریم عامل د دی دین د زده کړو او لارښوونو په باب د یو شمیر مسلمانانو ناپوهي ده، څوک چې اسلام سم وپیژنی او له عالي اهدافو او ژوندبخښونکو ارزښتونو نه یې خبر شي، هیڅکله هم دا نه وایي چې دین دی له سیاسته جلا وی، دی طبقی خلکو زیاتره، دغه خبری د اسلام له دښمنانو نه اوریدلی دی، او د اسلام له دوستانو سره په ارتباط کې نه وو او له هغو نه یې نه دی اوریدلي چې سیاست د دین یوه برخه ده! د اسلام پوهانو هم ددی وجیبې په ادا کولو کی لکه څرنگه چې لازم دی خلک د اسلام په باب پوه کړی، او هغوی له خپلو مسؤولیتونو او دینی زده کړو سره آشنا کړی او هغوی پردی پوه کړی چې سیاست د دین یوه عمده برخه ده، لازمه پاملرنه، نه ده کړی. عوام او هغه روښانفکران؟! چې د دین له علمه بې خبره دی او د دین د دښمنانو او کفارو له نظریاتو نه متاثره شوی دی هغوی چې کله په خپل هیواد کی ظلم او تیری او ناخوالی گوری او چې سترگی هم غړوی گوری چې د چارو واگی هم د مسلمانو عناصرو په لاس کی دی، ددی حالت په لیدلو سره یې فکر کی گرځی چې (العیاذبالله) ددی ټولو بدبختیو سرچینه چې ددوی په برخه شوی دین دی او که نه نو دا کفری نړی ولی د پرمختگ او پانگوالی په اوج کی ژوند کوی؟ هلته نظام، ژوند او اصولیت واکمن دی او اسلامی هیوادونه له گډوډی او بی نظمی سره لاس او گریوان دی او په فقر او بیوزلی کی ژوند کوی! که هغوی په اسلام پوهیدلای هیڅکله یې هم دغسې خبره نه کوله.

۴ ـ له سیاسته د دین پر بیلتون د عقیدی څلورم عامل پر مسلمانانو د واکمنو نظامونو هلی ځلی دی، هغوی هڅه کړی ده چې خپل رعیت د دین له زده کړو داسې لری وساتی چې ددی مجال پیدا نکړی چې د هغوی پر اعمالو

او ژوند دود ، نیوکی وکړی ، په دی توګه یی هڅه کړی ده چی اسلام په څو تنګو او محدودو شعایرو پوری محدود وساتی او خلکو ته ووایی چی اسلام همدا دی او بس او تاسی د لمانځه ، روژی او نورو عباداتو په ادا کولو کی ازاد یاست او سیاست له دین سره هیڅ ربط نه لری او ددی لپاره چی ښه وکړای شی چی ددین فعالیتونه کنترول کړی ، داسلامی شؤونو په نامه یی وزارتونه جوړ کړی او دا کار زیاتره په کمونستی نظامونو کی رایج دی ، او داسلامی نړی پیروان د هغوی په پیروی عین کار کوی ، او دا کار ددی مفهوم لری چی دین په نورو وزارتونو لکه د بهرنیو چارو ، اقتصاد ، ټولنیزو چارو ، فرهنګ ، ښوونی او روزنی او نورو پوری اړه نه لری.

کله هم که څوک وغواړی چی ددین مسایل په سیاست کی ګډ کړی ، او د حکومت او نظام په باب د اسلام له نظره وغږیږی ، غالباً دا ځواب یی غوږ ته رسیږی چی لمونځ وکړه ، ستا یی له سیاست سره څه کار! او کله هم د واکمنو نظامونو ظلم او تیری ددی باعث شی چی خلک د حکومت او نظام په باب خبری ونه کړی او خبره دی ته ورسیږی چی هیڅوک هم جرأت نه کوی خپلی بر حقی غوښتنی بل ته ووایی؛ ځکه پوهیږی چی ددی خبرو نتیجه به ورته څه وی!

۵ - له دین نه د سیاست پرجلاتوب د اعتقاد تر ټولو خطرناک عامل ، همغه تش په نامه مسلمان واکمنان دی او ښایی ددی علت چی زیاتره با سواده ؛ خو له دین نه بی خبره ځوانان د کفر او الحاد او غیر اسلامی تنظیمونو په لمنو کی سقوط کوی ، همدا دی ، دا ځوانان د افغانستان په څیر یوه هیواد لپاره په سلګونو سر خوږی پیدا کوی؛ ځکه فکر کوی همدا خبری چی واکمن یی کوی داسلام خبری دی؛ ځکه خپله په اسلامی ټولنه کی ژوند کوی او د مسلمان په نامه یادیږی او خطبی یی هم په نومونو لوستل کیږی او مسلمانان د واکمن د پایښت او ټینګښت لپاره دعا هم کوی کله چی ځوانان

دا عيني واقعيت گوري پر دې معتقد کيږي چې که دين دی همدا دی؛نو د دې خبرې معنا دا ده چې دين د وروسته پاتې کيدو ، دربه درۍ ، فقر او بيوزليتوب سبب دی؛ نو ځکه له دين نه خپل برائت اعلانوي، او دښمني ورسره پيلوي.
له بلې خوا په رښتينې بڼه د دين د تبليغ لپاره ، پوره امکانات او پر مخ تللې وسايل موجود نه وو او د ځمکې پر مخ هم داسې هيواد چې د اسلام رښتينې تمثيل وکړای شي، او مسلمان امت له دې بدبختيو نه وژغورلای شي، نه و موجود ؛ نو ځکه دغه ټول عوامل د دې باعث شول چې د اسلامي نړۍ ځوانان د کفر او الحاد په دام کې راگير شي، او پر دې معتقد شي چې دين له سياسته جلا دی؛ خو له دې غافل او بې خبره چې دين تر ټولو د مخه د دې نظامونو بدلون غواړي او د يوه رښتيني اسلامي حکومت د راوستلو لپاره انقلاب له خپلو دندو نه شميري.

۶- له سياست نه د دين پربيلتون د عقيدې شپږم دليل، پخپله د سياست د مفهوم او معنا نه روښانتيا ده، يو شمير خلک وايي چې سياست له مکر، چل، نيرنگ، غولوني او . . . نه عبارت دی او کوم کسان چې له خلکو سره رښتيني چلند کوي هغوی په ساده توب او ناپوهي تورنوي او هر څوک چې د چارو په پر مخ بيونه کې دروغ ووايي له غولوني نه کار واخلي او خپلو اهدافو ته د رسيدو لپاره له نامشروعو وسايلو نه کار واخلي هغه سياستوال، هوښيار او پوه گڼي، په داسې حال کې چې کله چيرې د سياست مفهوم په ځير سره وڅيړل شي او خلک له لغوي او اصطلاحي پلوه د هغه په معنا او مفهوم پوه شي، د هغه په رڼا کې دين مطالعه کړي او پر دې باور وکړي چې دين مهمې چارې پر غاړه لري په هغه حال کې به يې خامخا نظر بدليږي او د دين او سياست په يو ځايوالي به ټينگار کوي او سياست به د دين له ارکانو نه يو رکن او منکر به يې کافر وگڼي.

**د سیاست تـعریف او مـفـهـوم:**

سیاست عربی کلمه ده چی معنا یی یو کار په سهی توگه سرته رسول، د رعیت ښه پالنه او سرپرستی ده او علماو د سیاست څخه مختلف تعبیرونه کړی دی: چا ریاست بللی او چا هم واکمنی گڼلی او ځینو د رعیت پالنه او ځینو هم د چارو په ښه توگه سرته رسول بللی دی.

یوی ډلی ویلی دی چی سیاست له هغو اصولو او مقرراتو نه عبارت دی چی رعیت یا اولس پری اداره کیږی، یوه لیکوال سیاست دا ډول تعریف کړی دی:

سیاست هغه علم دی چی په مختلفو ځایونو او وختونو کی د واک او اړیکو بنی او ددی واک د استعمال د څرنگوالی لوری ونیبی.

د پاریس د پوهنتون یوه استاذ سیاست دا ډول تعریف کړی دی:

سیاست د قدرت او نفوذ د اعمال هر ډول رینبو پیژندنه او څیړنه ده.

د لویدیځ یو فیلسوف برتراندراسل ( Bertrand Rucel ) سیاست له واک سره نژدی گڼی او واک یا قدرت دا ډول تعریفوی:

« د مطلوبه آثارو څرگندولو ته قدرت یا واک وایی ».

د پاریس د تولنپوهنی یو استاذ، سیاست په تولنه کی د ناانډولو پیښو په باب تصمیم نیول گڼی.

ځینو امریکایی استاذانو ویلی دی چی کولای شو سیاست د دولتی چارو د سرته رسونی یا د تولنیزو علومو یوه څانگه چی د حکومت د سازمانونو په تیوری پوری مربوطه ده تعریف کړو.

ځینو ویلی دی چی: « سیاست هغه علم دی چی مونږ ته راښیی چی

څـوک گـټـيـالی کـيـږی؟ څـه گـټی؟ چيـرته يی گـټی؟ څـه ډول يی گـټی؟ او ولی يی گټی؟ ».

د پوهانو يوی ډلی ويلی دی چی سياست د چاپيريال، ټولنی، د ځان او هغی ټولنی چی دی په کی ژوند کوی او په هغی پوری ارتباط لری د گـډ برخليک په باب د انسان له خبرتيا نه عبارت دی.

يو ايرانی عـالم وايی: سياست د اولسونو پيوستون او د هغه پيوستون څرنگوالی دی، سياست هغه دی چی يوه ډله په ټولنه کی د ځان لپاره د ژوندانه او پر مـخـتـگ لاره پرانيـزی، او د هغی ټولنی لـه ډلو سره يی چلند د پوهی او بصـيـرت له مـخی وی کـه د يوه گـاونډی له لوری يی هسـتی او پاينبت ته خطر متوجه وی، هغه د مخه گوری او د خپل تدبر له مخی يی مخه نيسی.

يو بل څوک وايی: سياست يعنی د حکمت په غوښتنه مشترک کارونه.

ځينو نورو ويلی دی چی د سـيـاست اطلاق پر هغو قـوانينو کيـږی چی د عامه مصالحو او آدابو د رعايت او د رعيت د چارو د تنظيم لپاره وضع شوی وی.

خو د سياست يو جامع او هر اړخيز تعريف چی زيات نظريی، معناوی او مفاهيم په کی راونغښتل شی داسی دی: سياست له حکمت او تدبير سره گډی تگلاری ته وايی چی په رعيت او حکومت پوری اړوندی چاری په مطلوبه بڼه تنظيم کړی او د گاونډيانو او مختلفو ټولنو په منځ کی د يوه ملت يا يوی ټولنی د سوکالی، نيکمرغی او پر مختگ ضامن وی.

له سياسته د اسلامی پوهانو د تعبيرونو په رڼا کی داسی نتيجی لاس ته راتلای شی چی: سـياسـت په واکمنـی پوری د اړوندو چارو تنظيم او په داسی معقوله توگه د شريعت د اصولو او مبادیو په چوکاټ کی داسی اولسپالی ته وايی چی د دنيا او آخرت د نيکمرغی ضامن وی.

په عـمومی توگه د سـياست له تعريفونو او تعبيرونـو نه څرگنديږی هغه

موضوعات چې سياست ورته پام اړولې عبارت دي له: د حکومت له پاره د مشر ټاکل، د خلکو ازادي او د خلکو په نمایندگۍ بين المللي تعاملات، انتخابات او د مالي، تربيتي، تبليغاتي، عسکري او جزائي چارو د تنظيم له پاره د معقولې لارې انتخاب او غوره کول.

اوس ددې تعبيرونو او تعريفونو په رڼا کې گورو چې دين، سياست په غېږکې رانغښتې دي او که نه؟ يا په بله وينا دين له سياست نه جلا دي او يا ددين يوه عمده برخه ده.

* * *

# سيـاست د ديـــن يـوه بـرخـه ده

مسلمانان په دې عقيده دي چې اسلام له سياست سره نه شليدونکې پيوند لري او هغه ته يې خاصه پاملرنه کړې چې د ځمکې پر مخ د انسان د ژوندانه له پيله يې د هغه چارې تنظيم کړې چې تر ټولو مهم يې د يوې سالمې ادارې جوړول او هغو چارو ته ځان رسول دي چې سياست هغې ته اهتمام کوي چې پدې اړه د بيلګې په توګه لاندې دلايل وړاندې کولای شو.

۱ـ خدای تعالی د حضرت آدم عليه السلام تر خلقت د مخه پرښتو ته په خطاب کې وفرمايل:

﴿وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الأَرْضِ خَلِيفَةً ﴿٣٠﴾﴾ [البقرة: ۳۰]

ترجمه: او (ياد کړه ای محمده!) هغه وخت چې وويل پروردګار ستا پرښتو ته چې بيشکه زه ګرځوونکې يم په ځمکه کې د يوه خليفه.

يعنې هغه څوک د ځمکې پر مخ پيدا کوم چې زما د خليفه په توګه هغه

نظام چې د بشر له فطرت سره موافقت لري د ځمکې پر مخ پیاده کړي د لته گورو چې د ین، د ځمکې پر مخ د لومړني انسان تر پیدا ینبت د مخه، له ځانه سره د هغه نظام د تطبیق او پیاده کولو برنامه او پروگرام لري چې دانسان د خالق له لوري يې د انسان له فطرت سره سم هغه ته ورکړي دی .

کله چې الله تعالی له جنته د آدم علیه السلام درابنکته کیدو فرمان صادر کړ؛ نو ورته یې وویل:

﴿قُلْنَا اهْبِطُوا مِنْهَا جَمِيعًا فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّي هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَايَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾﴾ [ البقرة : ٣٨ ]

ترجمه: وو یل مونږ چې کوز شئ له جنته ټول، پس که راغی تاسی ته له ما ځنی کوم هدایت پس هر څوک چې پیروي وکړي د هدایت ځما پس نه به وي هیڅ ویره پر دوی باندې او نه به دوی (هیڅیری) خپه کیږي ( او جنت ته به ځي ) .

دا آیت پر دی دلالت کوي چې که د خدای جل جلاله نظام او لاربنوونې په انساني ټولنه کې تطبیق شي او عملي بڼه غوره کړي هغه ټولنه به له امن او سوکالۍ نه برخمنه او د هیڅ ډول غم، ویرې او وحشت مخ به ونه ویني او د دې بدبختۍ عامل چې نن يې انساني ټولنه له گریوانه رانیولې ده په ځمکه کې، د خدای تعالی د نظام نه تطبیق دی .

الله تعالی په بل ځای کې حضرت داؤد علیه السلام ته په خطاب کې فرمایلي دي:

﴿يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُم بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ الْهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ اللَّهِ ﴿٢٦﴾﴾ [ ص : ٢٦ ]

ترجمه: ای داؤ ده بیشکه مونږ گرځولی مو یې ته خلیفه په ځمکه کې

(چي لوی سلطنت مو درکړی دی) پس حکم وکړه په منځ د خلکو کی په حق سره او متابعت مه کوه د هوی (د نفس په احکامو کی) پس گمراه به کړی (دغه هوی) تا له لاری د الله.

په دی مبارک آیت کی گورو ،داؤد علیه السلام ته په داسی حال کی چی د خلافت منصب ورکړای شوی دی، په صراحت سره ویل کیږی چی د خلکو تر منځ په حق سره حکم وکړه، یعنی په هغه څه چی د الله تعالی له خوا در ته نازل شوی دی او د هوی او نفسانی غوښتنو پیروی مه کوه او د الله تعالی د امر او فرمان تابع اوسه او که نه په بی لاری به سرشی.

دلته گورو چی خدای تعالی د حکم موضوع په آسمانی ارشاداتو او لارښوونی پوری منحصر کړی او د حکم تر ټولو مهمه برخه لکه له نامه نه یی چی څرگنده ده، په حکومت او سیاست پوری اړوندی چاری دی او بشر ته یی که پیغمبر هم وی حق نه دی ورکړی چی په خپله خوښه په هغه کی تصرف وکړی په همدی توگه یی داعراف په سورت کی د موسی علیه السلام له قوله په حکایت کی فرمایلی دی:

﴿ قَالَ عَسَىٰ رَبُّكُمْ أَن يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٢٩﴾ ﴾ [الأعراف: ١٢٩]

ترجمه: وویل (موسی) نژدی ده چی رب ستاسی هلاک کړی دښمن ستاسی او خلیفه کړی تاسی په دغی ځمکی «ملک د مصر یا شام کی پس له هلاکولو د قبطیانو» بیا به گوری (الله) چی څرنگه عمل کوئ تاسی «شکر کوئ که کفران، طاعت کوئ که عصیان؟ چی هم هغسی جزا درکړی».

له استخلاف نه وروسته عمل، اوکړه، په خپله د حکمرانی، سیاست، چارواکی، نظم او دسپلین مفهوم ارائه کوی.

همداراز يې فرمايلي دي:

﴿وَرَبُّكَ الْغَنِيُّ ذُو الرَّحْمَةِ إِن يَشَأْ يُذْهِبْكُمْ وَيَسْتَخْلِفْ مِن بَعْدِكُم مَّا يَشَاءُ كَمَا أَنشَأَكُم مِّن ذُرِّيَّةِ قَوْمٍ آخَرِينَ ﴿١٣٣﴾﴾ [الأنعام: ١٣٣]

ترجمه: اورب ستاغني (بې پروا) دی (له بندګانو اود دوی له عبادتونو) څښتن (خاوند) د رحمت دی (د عذاب په ژر نه لیږلو) که اراده وفرمايي نو بوځي به تاسې او خليفه (ځاى نيوونکي ستاسې) به کړي وروسته له تاسې هر هغه چې اراده فرمايي لکه چې پيدا کړي يې تاسې له اولادې د قوم نورو نه.

او د قرآن کريم په بل ځاى کې فرمايي:

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ﴿٥٥﴾﴾ [النور: ٥٥]

ترجمه: وعده کړې ده الله له هغو کسانو سره چې ايمان يې راوړی دی له تاسې او کړي يې دي ښه (عملونه) چې قسم دی خامخا به خليفګان کړي (الله) دوی په ځمکه کې لکه چې خليفګان کړي يې وو هغه کسان چې پخوا وو له دوی نه او خامخا ثابت قوي به وګرځوي هرومرو دوی ته دين د دوی هغه (دين د اسلام) چې غوره کړی دی (الله) دوی ته او هرومرو بدل به ورکړي هرو مرو دوی ته وروسته له ويرې د دوی له دښمنانو امن (او اطمينان) عبادت به کوي دوی ځما شريک به نه پيدا کوي له ما سره هيڅ څيز، او هر څوک چې کافر شو پس له دغو لويو انعاماتو پس دغه کسان هم دوی (غټ) فاسقان دي.

دا آيت دا خبره روښانوي چې قدرت، سياست او زعامت د صالحو

مؤمنانو حق دی.

په بل ځای کې یې فرمایلي دي :

﴿وَهُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلائِفَ الأَرْضِ وَرَفَعَ بَعْضَكُمْ فَوْقَ بَعْضٍ دَرَجَاتٍ لِيَبْلُوَكُمْ فِي مَا آتَاكُمْ إِنَّ رَبَّكَ سَرِيعُ الْعِقَابِ وَإِنَّهُ لَغَفُورٌ رَحِيمٌ ﴿١٦٥﴾﴾ [ الأنعام : ١٦٥ ]

ترجـمـه: او دغـه (الله) هغـه ذات دی چې گـرځـولي ئې يئ تاسې خليفگان د ځمکې او پورته کړي يې دي ځينې ستاسې د پاسه د ځينو (نورو په) درجو مرتبو کې د دې دپاره چې وازمويي تاسې په هغو (حکمونو) کې چې درکړي يې دي تاسې ته، بيشکه رب ستا ډير ژر دی عذاب (د ده پر هغه چا چې اراده وفرمايي) او بيشکه الله خامخا ښه بښوونکی دی ( د شاکرينو) ډير رحم والا (په شکر کوونکو د اجر او ثواب په انعام سره) .

او همداراز فرمایي:

﴿ثُمَّ جَعَلْنَاكُمْ خَلائِفَ فِي الأَرْضِ مِنْ بَعْدِهِمْ لِنَنظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ ﴿١٤﴾﴾ [ يونس : ١٤ ]

ترجمه: بيا مونږ وگرځولي تاسې (اې محمدي امته!) خليفگان په ځمکه کې وروسته له (هلاک د) هغو څخه د پاره د دې چې وگورو مونږ (په ښکاره هم) چې څرنگه عمل کوی تاسې ( د نيکۍ که د بدۍ) .

او فرمايلي يې دي:

﴿فَكَذَّبُوهُ فَنَجَّيْنَاهُ وَمَن مَّعَهُ فِي الْفُلْكِ وَجَعَلْنَاهُمْ خَلائِفَ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُوا بِآيَاتِنَا فَانظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُنذَرِينَ ﴿٧٣﴾﴾ [ يونس : ٧٣ ]

ترجـمـه: نو نسبت دد روغـو وکـړ دوی نوح ته پس نجـات ورکـړ مـونږ دغـه (نوح) ته او هغه چا ته چې وو له ده سره په بيړی کې (له غرقه) او وګرځول مونږ دوی خليفګان (د غرق شويو په ځمکې کې )او غرق کړل مونږ ( په طوفان کې ) هغـه کسـان چې تکذيب يې کړی و د آيتونو زمونږ نو وګوره چې څرنګه شوه آخره خاتمه د ويروليو شويو ( يعنې هلاک شول ) .

او همداراز فرمايي:

﴿هُوَ الَّذِي جَعَلَكُمْ خَلَائِفَ فِي الْأَرْضِ ﴿٣٩﴾﴾ [ فاطر : ٣٩ ]

ترجـمـه: دغــه (الله) هم هغــه ذات دی چې ګــرځــولی ئې يئ تاسې خليفګان (د تيرو خلکو ) په ځمکه کې .

دا ټول آيتونه چې د خلافت يا استخلاف موضوع په کې ذکر شوی ده ، پردې دلالت کوي چې خدای تعالی بشر ته د پيغمبرانو په واسطه لارښوونې استولې دي چې خپل ژوند د هغو په رڼا کې تنظيم او عيار کړي او واکمنې يې بايد ددې لارښوونو په چوکاټ کې عياره شي .

۲ ـ بل دليل چې په ډيره روښانه توګه د دين په چوکاټ کې د سياست پر تنظيم ټينګار کوي، او سياست د خلکو د ژوندانه مهمه برخه تشکيلوي او دين هغـه تنظيم کـړی دی چې په هغـه کې د « تمکين » کلمـه ذکر شوی ده، او تمکين لکه چې په عربي ژبه او علمي اصطلاحاتو کې راغلی دی، واک ته د رسولو معنا لري او واک يا قدرت په خپله د سياست مهم او محوري بحث تشکيلوي لکه چې الله تعالی قدرت او صلاحيت ته د حضرت يوسف عليه السلام تر رسونې وروسته حکايت کې فرمايي:

﴿وَكَذَلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي الْأَرْضِ ﴿٥٦﴾﴾ [ يوسف : ٥٦ ]

ترجمه: او په مثل ددغه (مذکوره نعمت او احسان) ځای (قدرت) ورکړ مونږ یوسف ته په ځمکه (د مصر) کې .

په بل ځای کې فرمایې:

﴿الَّذِيْنَ إِنْ مَّكَّنّٰهُمْ فِي الأَرْضِ أَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَءَاتَوُا الزَّكٰوةَ وَأَمَرُوْا بِالْمَعْرُوْفِ وَنَهَوْا عَنِ الْمُنْكَرِ وَلِلَّهِ عَاقِبَةُ الأُمُوْرِ﴿٤١﴾﴾ [الحج: ٤١]

ترجمه: (دغه مهاجر مظلومان) هغه کسان دي چې که چیرې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه کې (په دښمن باندې د غلبې په اعتبار) نو قائموي دوی (سم اداء کوي په سره له ټولو حقوقو) لمونځ او ورکوي به زکات او امر حکم به کوي (خلکو ته) په معروف (په نیک شرعي کار) سره او منع کوي به (خلق) له بد کار څخه او خاص د الله په اختیار کې ده آخره خاتمه د ټولو کارونو .

دلته ګورو چې خدای تعالی د هغو کسانو په باب چې دده د دین مرسته کوي، فرمایي چې که هغوی واک ته ورسوو، لمونځونه کوي، زکات ورکوي، خلکو ته په معروف امر کوي او له منکر نه یې منع کوي.

الله تعالی په بل ځای کې د بني اسرائیلو د مستضعفینو په باب فرمایي:

﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ ﴿٥﴾ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الأَرْضِ ﴿٦﴾﴾ [القصص: ٦]

ترجمه: او اراده وکړه مونږ د دې چې منت احسان کیږدو پر هغو کسانو چې ضعیفان کړی شوي وو په ځمکه (د مصر) کې او چې وګرځوو مونږ دوی امامان (د دارینو مقتدایان) او وګرځوو مونږ دوی وارثان (د ملک د فرعون) او

چې قدرت ورکړو مونږ دوی ته په ځمکه (د مصر اوشام) کې .

. په دې آيت کې د ځمکې پر مخ تمکين، د امامت او رهبرۍ تر وعدې وروسته راغلی دی، چې دا پخپله پردې خبره واضح دليل دی چې الله تعالی غوښتي دي، خپل پاک زړي او مظلوم بندګان واک ته ورسوي او هغوی ته د الله تعالی حکم همدا دی چې تولې چارې د ځمکې پر مخ له آسماني لارښوونو سره سمې تنظيم کړي او د خدای تعالی د لارښوونو سره سمه واکمني وکړي.

۳ـ د «حکم» کلمه د قرآن کريم په څو ځايونو کې راغلی ده، دا کلمه د حکومت له کلمې سره ګډ اصل او مقصد لري الله تعالی خپلو پيغمبرانو ته حکم کړی دی چې د هغه څه پر اساس چې ده ورته نازل کړي دي، حکم وکړي، يعني د ژوندانه چارې، حکومتي نظام بين المللي يا نړيوالي اړيکې او د جنګ او سولې حالات، ټول د الله تعالی د دين په چوکاټ کې تنظيم کړي، ايا سياست او هغه څه چې په سياست پورې اړه لري له دې مفاهيمو وراخوا بل څه کيدای شي؟

دبيلګې په توګه، الله تعالی فرمايي:

﴿إِنَّا أَنزَلْنَا إِلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِتَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ بِمَا أَرَاكَ اللَّهُ وَلَا تَكُن لِّلْخَائِنِينَ خَصِيمًا ﴿١٠٥﴾﴾ [النساء: ١٠٥]

ترجمه: بيشکه مونږ نازل کړی (ليږلی) مو دی تا ته (ای محمده!) کتاب (قرآن) په حقه سره د پاره ددې چې حکم وکړې ته (ای محمده!) په منځ د خلکو کې په هغه طريقه سره چې ښودلی ده تا ته الله او مه کيږه له جانبه د خيانتګرو جګړه کوونکی (د بې ګناهو سره) .

په بل آیت کی یی حکم یوازی او یوازی په الله تعــالی پوری چی د پیــغـمـبـرانو په وسـیـله یی بندګانو ته رسـولی چی د هغی پیـروی وکـړی، مختص کړی دی.

﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ يَقُصُّ الْحَقَّ وَهُوَ خَيْرُ الْفَاصِلِينَ ﴿٥٧﴾﴾ [ الأنعام: ٥٧ ]

ترجمه: نشته حکم مګر (خاص) الله ته دی بیانوی حقه (خبره) او دی خیر (بهتر) د فیصله کوونکو (یا د بیانوونکو).

په دی مفهوم سره چی هیڅوک د حکم او فرمان په اړوندو چارو کی نشـی کولای له ځانه د هغه څه پر خلاف چی الله تعالی حکم کړی دی څه شی صادر یا نافذ کړی لکه چی د یوسف په سورت کی یی عین مطلب دوباره په دی عبارت ذکر کړی دی، دا آیت هم تایید وی چی حکم د الله حق دی.

﴿ إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ ﴿٤٠﴾﴾ [ یوسف: ٤٠ ]

ترجمه: نه دی حکومت (دهیچا) مګر خاص د الله دی.

او د همدی سورت په بل ځای کی فرمایی:

﴿إِنِ الْحُكْمُ إِلاَّ لِلَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَعَلَيْهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُتَوَكِّلُونَ ﴿٦٧﴾﴾ [ یوسف: ٦٧ ]

ترجمه: نه دی حکم (په قضا سره) مګر خاص الله ته دی خاص پر هم ده توکل کړی دی ما، او هم په هم ده باندی نو توکل وکړی توکل کوونکی.

او په دی باب چی د ژوندانه او سیاست چاری چی حکومت او واکمنی د هغی یوه مـهــمــه برخـه تشکیلوی، باید د دین په چوکاټ او الهی اوامـرو او احکامـو په رڼا کی تنظیم شـی په دی برخه کی دومره تاکید شـوی دی چی کـه څوک په « ما أنزل اللهُ » حکم نه کوی، کافر، فاسق او ظالم یی بللی دی.

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَاأَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ (٤٤)﴾ [المائدة: ٤٤]

ترجمه: او هر چا چي ونه کړ حکم په هغه شي چي نازل کړی (ليږلی ) دی الله نو دغه کسان همدوی دي کافران .

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَاأَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ (٤٥)﴾ [المائدة: ٤٥]

ترجمـه: او هر چا چي ونه کړ حکم په هغـه شي چي نازل کړی (ليږلی دی) الله نو دغـه کسان هم دوی دي ظالمان .

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَاأَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ (٤٧)﴾ [المائدة: ٤٧]

ترجمه: او هر چا چي ونه کړ حکم په هغـه شي چي نازل کړی دی الله نو دغه کسان هم دوی دي فاسقان.

۴ـ بل مـطلب چي الله تعـالی د قـرآن کـريم په څـو ځـايونو کي د هغـه يادونـه کړی ده ، دا ده چي الله تعـالی د آسـمـانونو او ځـمکي باچـايي خـپله ګـڼلې ده ، ايا سليم عـقل دا منلای شي چي خدای تعـالی انسـان پخپـل ملک کي پيـدا کړی او بيا دخپلو چارو په تنظيم کي يې بې لارښوونـې پريږدي، په داسي حـال کي چي چا تـه باچاهي ورکول او يـا يې ترې اخـسـتل يوازي د الله جل جلاله په واک کي دي.

الله تعالی فرمايي:

﴿قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَن تَشَاءُ وَتَنزِعُ الْمُلْكَ مِمَّن تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَن تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَن تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (٢٦)﴾ [آل عمران: ٢٦]

ترجـمـه: ووايه (ای محـمـده!) يا (الله) مـالکه د سلطنت (واکداره د

باچاهي!) ورکوی ته سلطنت هر هغه چا ته چې اراده وکړی (یا الله د ورکولو یې) او بیرته اخلې سلطنت له هر هغه چا څخه چې اراده وکړی (د بیرته اخیستو یې) او عزت ورکوی هر هغه چا ته چې اراده وکړی (یا الله د عزت یې) او خوار ذلیل کوی هر هغه څوک چې اراده وکړی (د ذلت یې) په لاس (دقدرت) ستا (هر راز) خیر (ښیګنې) دی بیشکه ته «یا الله» پر هر شي باندې (چې اراده وفرمایې) ښه قادر یې (هم په ورکولو هم په اخیستلو هم په عزت هم په ذلت).

او دا مطلب چې الله تعالی طالوت د باچا په توګه واستاوه او جسمي او معنوی استعداد او وس یې ورکړ پخپله پر دې روښانه دلیل دی چې هغه د الله لارښوونې د ځمکې پر مخ عملي کړې او د خدای تعالی یو فرمان چې خپل لښکر ته یې استولی و هغوی ته ابلاغ کړ چې قرآن کریم یې دا ډول یادوی:

﴿فَلَمَّا فَصَلَ طَالُوتُ بِالْجُنُودِ قَالَ إِنَّ اللَّهَ مُبْتَلِيكُم بِنَهَرٍ فَمَن شَرِبَ مِنْهُ فَلَيْسَ مِنِّي وَمَن لَّمْ يَطْعَمْهُ فَإِنَّهُ مِنِّي إِلَّا مَنِ اغْتَرَفَ غُرْفَةً بِيَدِهِ ﴿٢٤٩﴾﴾ [البقرة: ٢٤٩]

ترجمه: نو کله چې راووت طالوت سره د لښکرو (نو) وویل طالوت چې بیشکه الله ازموینکی ستاسې دی په یوه ویاله (نهر) سره نو هر هغه څوک چې (اوبه) وڅښي له هغې ویالې (نهر) څخه نو نه دی له (تابعانو) زما او هر هغه څوک چې و نه څکي دا (اوبه) نو بیشکه دی له (تابعانو) زما دی مګر (خو له تابعانو زما دی) هغه څوک چې اخلي یو ورغوی اوبه په لاس خپل سره.

قرآن کریم د یوسف علیه السلام نه په حکایت کې فرمایي:

﴿رَبِّ قَدْ آتَيْتَنِي مِنَ الْمُلْكِ وَعَلَّمْتَنِي مِن تَأْوِيلِ الأَحَادِيثِ فَاطِرَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ أَنتَ وَلِيِّي فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ تَوَفَّنِي مُسْلِماً وَأَلْحِقْنِي بِالصَّالِحِينَ ﴿١٠١﴾﴾ [یوسف: ١٠١]

ترجمه: ای ربه زما په تحقیق راکړی دی ده ما ته له باچاهی (او تصرف د مصر) او ښوولی دی ما ته له ګرځولو د خبرو (لکه تعبیر د خوبونو بیان د کتابونو)، ای پیدا کوونکیه د آسمانونو او د ځمکی (بی له نمونی) هم ته یی ولی (دوست واکدار کار جوړوونکی) زما په دنیا او په آخرت کی، وفات کړه ما په داسی حال کی چی مسلمان یم او یو ځای می کړه (په مرتبه د کرامت کی) له صالحانو سره.

په داسی حال کی چی یوسف علیه السلام پیغمبر و؛ نو که یی د دین پر اساس د مصر د باچایی چاری تنظیم کړی نه وای نو په کوم قانون او نظام یی پر مخ بیولی؟ سلیمان علیه السلام پیغمبر و، او خدای تعالی هغه ته باچایی ورکړه او هغه د خدای تعالی د لاربنوونو سره سم د باچایی چاری تنظیمولی دا مطلب په هغه لیک کی چی د سبا ملکی «بلقیس» ته یی استولی و ښرګند یږی.

﴿إِنَّهُ مِن سُلَيْمَانَ وَإِنَّهُ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ﴿٣٠﴾ أَلَّا تَعْلُوا عَلَيَّ وَأْتُونِي مُسْلِمِينَ ﴿٣١﴾﴾ [النمل: ٣٠ - ٣١]

ترجمه: بیشکه (دغه لیک) د سلیمان (له طرفه راغلی) دی، او بیشکه (ددی لیک مضمون دا دی چی شروع) په نامه د الله چی خورا (ډیر) مهربان ډیر رحم والا دی (مقصد ځما دا دی) چی لویی (او کبر) مه کوئ تاسی پر ما او راشئ تاسی ما ته مسلمانان غاړه ایښودونکی (الله ته).

او په پای کی د «بلقیس» له قوله داسی حکایت کوی:

﴿رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي وَأَسْلَمْتُ مَعَ سُلَيْمَانَ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿٤٤﴾﴾ [النمل: ٤٤]

ترجمه: وويل (بلقيس) اى ربه څما بيشکه ما ظلم کړى دى پر ځان خپل او اسـلام مې راوړى دى سـره لـه سليمـانـه خـاص (هغـه) الله تـه چې رب (پالونکى) د عالميانو دى.

داټول دلايل ددى ښـکـاره دلـيـل دى چې دخلکو دژوندانه چارى چې عـمـده اجـزا يې په سـيـاسـت پورى اړوندى چارى دى، د تاريخ په اوږدو کې د دين په واسطه تنظيم شـوى دى، او داسـلام کلمـه او د خداى حکم او قـانون ته تسليم والى چې په تيرو عبـاراتو کې په روښـانه توګـه ذکـر شـو، پر دى حقيقت شاهدى ورکوى.

٥- بل مهم دليل چې پر سياسي او حکومتي چارو د دين د احتوا شاهد دى، پخپله د دين کلمه ده، دا چې د دين مفهوم د ډيرو نورو مفاهيمو تر څنګ چې احتوا کړى يې دى په نننيو اصطلاحاتو کې تر ټولو عمده مفهوم، همغه نظام او قانون دى لکه چې په يوسف سورت کې راغلى دى:

﴿كَذَلِكَ كِدْنَا لِيُوسُفَ مَا كَانَ لِيَأْخُذَ أَخَاهُ فِي دِينِ الْمَلِكِ إِلاَّ أَن يَشَاءَ اللَّهُ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَّن نَّشَاءُ وَفَوْقَ كُلِّ ذِي عِلْمٍ عَلِيمٌ ﴿٧٦﴾﴾ [يوسف: ٧٦]

ترجمـه: همـدارنګه تدبيرښوولى و مـونږ يوسف ته، نه و دغـه (يوسف داسې) چې ونيسي (مريبې يې له ښوونې د الله) ورور خپل په دين (قـانون) د باچا (مـصـر) کې مګر چې اراده وفـرمـايله الله (دغـه تدبيـر يې ورونښود)، پورته کـوو مـونږ (په علم او حکمت سـره) مـرتبې د هر چا چې اراده وفـرمـايو مونږ، او د پاسه د هر خاوند د علم لوى عالم دى.

په دى آيت کې د «دين» کلمه مـستقيـماً او په صراحت سره د نظام او قانون په معنا راغلى ده او ښکاره ده چې د قانون او نظام عمده برخه واکمنى او

په ســيــاست پوري اړوندي چاري تشکيلوي. الله د قــرآن کــريم د نزول په وروستيو مراحلو کي پر انسان د خپل احسان بارولو په مقام کي فرمايي:

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلامَ دِينًا ﴿٣﴾﴾ [المائدة: ٣]

ترجمه: نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسي ته دين ستاسي (اصولاً او فــروعــاً) او تمام (پوره) مي کــړ پر تــاسي (اى مــؤمنــانو!) نعــمت (د دين په اکمــال) او غوره کړ مــا تاسي ته اسلام لــه جهتــه د دين (ډير پاکيــزه په ټولو اديانو کي).

ښکاره ده چي د دين تکمــيل او د نعــمت اتمام هلــه کــيــداى شي چي د انســاني ژوندانه ټول اړخونه د دين تر څارني لاندي راشي.

په بل ځاى کي فرمايي:

﴿إِنَّ الدِّينَ عِندَ اللَّهِ الإِسْلامُ ﴿١٩﴾﴾ [آل عمران: ١٩]

ترجــمــه: بيشکه دين (چي په اديانو کي غــوره دى) پــه نزد د الله دين د اسلام (يعني محمدي شريعت) دى.

او همداراز يي فرمايلي دي:

﴿وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الإِسْلامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ وَهُوَ فِي الآخِرَةِ مِنَ الْخَاسِرِينَ ﴿٨٥﴾﴾ [آل عمران: ٨٥]

ترجمه: او هر څوک چي غواړي غير له اسلامه (چي توحيد او د الله احکامو ته انقياد دى) بل دين نو له سره به ونه مانه شي حال دا چي وى به دي په آخرت کي له زيانکارانو (چي د اسلام د پرينښودلو په سبب به تل په دوزخ کي پاتي کيږي).

کله چي د دين يو مفهوم، نظام، قانون او د ژوندانه لاري چاري وي؛ نو څنگه کيداى شي چي وو ايو دين له سياسته جلا دى! د دي خبري معنا به دا وي چي وو ايو «العياذ بالله» دين له انساني ژوندانه سره هيڅ سر و کار نه لري، کله چي خالق د مخلوقاتو ژوند او هستي، تنظيم نه کړي، څنگه به معقوله وي چي وو ايو مخلوق له خالقه پرته بل څوک ښه تنظيمولاى شي، الهي دين، هغه دين دى چي نه يوازي بشريت؛ بلکي ټول مخلوقات يي تابع دي او پيروي يي کوي:

﴿أَفَغَيْرَ دِينِ اللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُ أَسْلَمَ مَن فِي السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ﴿٨٣﴾﴾ [آل عمران: ۸۳]

ترجمه: آيا نو غير له دين د الله څني غواړي ( دا کافران بل دين ) حال دا چي (خاص) الله ته غاړه ايښى ده هر هغه چي په آسمانونو کي دى (له علوياتو) او په ځمکه کي دى (له سفلياتو سره له آسمانونو او ځمکي) په خوښه يا په زوره او بيا (خاص) هم ده ته بيرته بيولي کيږي (دا ټول خلق د مجازاتو له پاره نو ښايي چي ټول، هدايت او اسلام ځانته غوره کړي).

او د ابراهيم او يعقوب عليهما السلام نه په حکايت کي فرمايي:

﴿يَا بَنِيَّ إِنَّ اللَّهَ اصْطَفَىٰ لَكُمُ الدِّينَ فَلَا تَمُوتُنَّ إِلَّا وَأَنتُم مُّسْلِمُونَ ﴿١٣٢﴾﴾ [البقرة: ۱۳۲]

ترجمه: اى زامنو زما بيشکه چي الله غوره کړى دى تاسي ته دين (د اسلام) نو له سره مه مرئ تاسي مگر په هغه حال کي چي تاسي مسلمانان يي (پر اسلام تر نزعي ثابت اوسئ!).

يعني الله تعالى دا لاره، نظام، قانون او دين ستاسي لپاره غوره کړي، بايد د مرگ تر ورځي پوري په ډير جديت سره د هغي پيروي وکړي او دنيا، د دي دين د اطاعت په حال کي ترک کړئ.

او په بل ځای کی فرمايي:

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾﴾ [الصف: ٩]

ترجمه: دغه (الله) هغه ذات دی چی رالیږلی یی دی رسول خپل په هدايت صافه لاره او په دين حق لپاره ددی چی غلبه ورکړی (الله) دغه (حق دين) ته پر دينونو ټولو باندی اګرکه بده وګڼی (دغه غلبه) مشرکان.

الله تعالی نه يوازی دا چی پيغمبرانو عليهم السلام ته ويلی دی چی خلک د دين په چوکاټ کی تنظيم او رهبری کړی؛ بلکی تأکيد يی پری کړی دی، چی پر ټولو نظامونو او دينونو ددی دين د غلبی لپاره هلی ځلی وکړی، او پر دی اساس يی فرمايلی دی:

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴿٣٩﴾﴾ [الأنفال: ٣٩]

ترجمه: او وجنګيږی (ای مؤمنانو!) له دغو «کفارو» سره تر هغه پوری چی نشی پاتی فتنه «فساد په ځمکه کی» او شی دين «حکم» ټول خاص الله لره (او نور ټول باطله اديان ورک شی).

په دی آيت کی له «كُلُّهُ» کلمی نه ځرګندېږی چی د ژوندهيڅ برخه له دين نه بهره نه ده، او دين د ژوند ټولی برخی احاطه کړی دی؛ خو له دی روښانه دلايلو سره سره هم د اسلام دښمنان او هغه کسان چی له اسلامه بی خبره دی، دين له سياسته جلا بولی.

۶- بل دليل چی دين په سياسی او حکومتی چارو کی شامل بولی، دا دی چی الله تعالی د عظيم الشان قرآن په څو ځايونو کی پيغمبر او

مسلمانانو ته حکم کوي چې د عدل لاره غوره کړئ او طبیعي خبره ده چې عدل او انصاف د حکومت او سیاسي نظام په سیوري کې پیاده کیږي نه له خلکو نه په ګوښه توب کې.

پر همدې اساس تاریخ، ځینو امامانو او مشرانو ته د عادل او ځینو ته د ظالم لقب ورکړی دی، د بیلګې په توګه حضرت عمر رضي الله عنه ته د عادل او حجاج ته د ظالم او سفاک لقب ورکړل شوی دی دا چې خدای تعالی پیغمبر او مسلمانانو ته په عدالت حکم کړی دی دا پخپله د دې معنا لري چې، سیاست او واکمني د دین جزء او د صالحو مسلمانانو شرعي تکلیف لکه چې الله تعالی خپل خواږه پیغمبر ته فرمایي:

﴿قُلْ أَمَرَ رَبِّي بِالْقِسْطِ ﴿٢٩﴾﴾ [الأعراف: ۲۹]

ترجمه: ووایه (ای محمده! دوی ته) امر (حکم) کړی دی رب زما په قسط «عدل انصاف» سره (چې توحید او ښه کارونه دي نه په افراط نه په تفریط).

الله تعالی په دې باب چې پیغمبر باید په عدل سره قضاوت وکړي فرمایي:

﴿وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُم بِالْقِسْطِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ ﴿٤٢﴾﴾ [المائدة: ٤٢]

ترجمه: او که حکم (پریکړه) دې کوله نو پریکړه وکړه په منځ د دوی کې په عدل (انصاف) سره بیشکه الله دوست ګڼي عدل کوونکي (په حکم کې چې ثواب ورکوي دوی ته).

او په بل ځای کې یې فرمایلي دي:

﴿وَأُمِرْتُ لِأَعْدِلَ بَيْنَكُمُ ﴿١٥﴾﴾ [الشورى: ١٥]

ترجـمـه: او امر (حكم) كـړى شـوى دى مـا ته چې عـدل وكـړم په منځ ستاسى كې.

او همدارنګه په نساء سورت كې مسلمانانو ته په خطاب كې فرمايي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَن تُؤَدُّوا الأَمَانَاتِ إِلَىٰ أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُم بَيْنَ النَّاسِ أَن تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ ﴿٥٨﴾﴾ [النساء: ٥٨]

ترجـمـه: بيـشكه الله امـر كـوى تاسـى ته (اى مـؤمنانو!) دد ى چې وسـپـارى تاسـى امـانتـونه اهل د امــانـاتو ته او كله چې حكم كـوى تاسى (اى قـاضـيـانو! اى حـاكـمـانو!) د خلكو په منځ كې نو (امر كـوى الله چې) حكم وكړى په انصاف سره!

**٧**- په قرآن كريم كې د نړۍ له نورو قومونو سره د مسلمانانو د اړيكو د څرنګوالي په باب زيات لارښوونكي سبقونه راغلي دي چې له چا سره دوستي او له چاسره ناسته ولاړه ولرى، د نورو دينونو له پيروانو سره څه ډول معامله وكړى په جنګ او سوله كې له كومو اصولو پيروي وكړي او د دين له لارښوونو نه د سرغړونې په صورت كې بايد د كومو عواقبو په تمه وي؟

دا ټول پردې دلالت كوي چې دين نه يوازې د مسلمانانو په كورنيو چارو كې رغوونكې نقش لري؛ بلكې په بهرنيو چارو او نړيوالو اړيكو كې هم لازمې لارښوونې لري چې دا ټول په سياست كې د دين د دخالت څرګندونه كوي.

**٨**- شورى چې د دولت د چارو يوه عمده برخه تشكيلوي، مخكې تر دې چې نور دينونه او اولسونه ورسره اشنايي پيدا كړي، الهي دين د ځمكې پر مخ د انسان د پيدا ينبت له پيله تر اوسه شورى ته د خپلو لارښوونو په متن كې ځاى وركړى دى د خپلو قومونو د مؤمنو خلكو په اړه د انبياو عليهم السلام كيسى

او بالاخره پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د الله جل جلاله ډیر صریح حکم چې په چاروکې باید له خپلو یارانو سره مشوره وکړي، دا ټول پردې دلالت کوي چې شوری د یوه اسلامي نظام د سیاسي چارو یوه عمده برخه تشکیلوي.

لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الأَمْرِ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ ﴿١٥٩﴾﴾ [آل عمران: ۱۵۹]

ترجمه: او مشوره وکړه له دوی سره (ای محمده! په کار) امر کې نو کله دې چې ټینګه اراده وکړه (ای محمده! د یوه کار کولو ته) نو توکل (اعتماد) وکړه پر الله باندې، بیشکه الله خوښوي توکل کوونکي (چې بریالي کوي یې او د رشد او صلاح لاره ورښیي).

او فرمایلي یې دي:

﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ ﴿٣٨﴾﴾ [الشورى: ۳۸]

ترجمه: او کار ددوی په مشورت سره وي په منځ ددوی کې.

په دې ترتیب ګورو چې شوری د پاک زړو مسلمانانو د یادونې وړ مشخصاتو له جملې نه ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه اوږده حدیث کې چې امام احمد هغه له ابن عباس نه روایت کړی دی فرمایلي دي:

يَقُوْلُ رَسُوْلُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « مَنْ بَايَعَ اَمِيْراً مِنْ غَيْرِ مَشْوَرَةِ الْمُسْلِمِيْنَ فَلابَيْعَةَ لَهُ وَلا الَّذِيْ بَايَعَهُ ».(۱)

ترجمه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: که چا له کوم امیر سره د مسلمانانو له مشورې پرته بیعت وکړ، نه د هغه امیر بیعت اعتبار لري او نه د هغو کسانو بیعت چې له هغه سره یې کړی دی.

(۱) مسند أحمد ج: ۱ ص: ۵۵.

داهل عقد وحل شوري چي د اسلام په تاريخ کي د مسلمانانو دژوندانه د يوه مهم اصل په توګه مطرح وه، د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر رحلت وروسته او د مبارک جسد تر تدفین د مخه سمدلاسه په سقیفه بني ساعده کي دایریږي، دا پخپله دا ښیي چي شوری د خلکو له ټولنیز ژوندانه سره نه شلیدونکي پیوند لري، ددې ټولو دلایلو سره سره آیا ناپوهانو او د اسلام دښمنانو ته داسي ځای پاتي کیږي چي ووایي دین له سیاست سره څه کار لري.

۹- په سیاسي ډګر او بشري ټولنو کي تر ټولو مهمه موضوع د امیر یا اولوا الامر ټاکنه ده، اوس باید وګورو چي کوم سیاسي مکتب او کوم بشري فکر په دې برخه کي تر اسلام د مخه دی.

کله چي د جليل القدرو پيغمبرانو د قومونو او اولسونو په اړه د هغو حکایتونه، تر بحث او څیړنی لاندي ونیسو ګورو چي هغوی د خپلو قومونو چاري په لاس کي درلودی او دا موضوع څو ځایه په عظیم الشان قرآن کي راغلی ده، چي موږ یې د بحث د لنډولو پخاطر له ذکر نه تیریږو.

حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د امیر او سرپرست د اړتیا په باب دومره تأکید کړی دی چي د نصیحت له مخي یې ځینو صحابه وته وویل:

لَقَدْ قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ لبَعْض أصْحَابه: « إذَا نَزَلْتَ ببَلَدٍ وَ لَيْسَ فيْه سُلْطَانٌ فَارْحَلْ عَنْهُ » . (۱)

ترجمه: په تحقیق سره وویل رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو ځینو صحابه وته: کله چي یوی داسي ځمکی ته ورکوز شی چي هلته واکمن نه وی، له هغه ځایه کډه وکړه!

د حدیث مطلب دا دی چي چیرته امیر او مشر موجود نه وی هغه ځای د استوګنی وړتیا نه لري، باید سړی سمدلاسه له هغه ځایه کډه وکړي چي حیوان

(۱) منهاج الصالحین ص: ٤٣٢ .

صفته انسانان یی آل ومال چور و چپاول نکړی.

بل ځای کی فرمایی:

وَعَنْ أَبِي سَعِيْدٍ وَأَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالا: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اذا خَرَجَ ثَلاثَةٌ فِي سَفَرٍ فَلْيُؤَمِّرُوا أَحَدَهُمْ». (۱)

ترجمه: له ابو سعید اوابو هریره رضی الله عنهمانه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: کله چی دری تنه په سفر ووځی نو یونفر پرځان امیر تعیین کړی.

په اسلامی ټولنه کی د صحابه و تر منځ د امیر د ټاکنی مسأله دومره مهمه وه چی کله د خدای پیغمبر رحلت وکړ؛ نو صحابه و د هغه د مبارک جسد د تدفین مسأله د امیر تر ټاکنی پوری وځنډوله، کله چی د مسلمانانو امیر وټاکل شو د مبارک جسد د تدفین مراسم ترسره شول.

د دی ټولو روښانه دلایلو سره بی بصیرته او مغرض او بی دینه عناصر اوغولیدلی او بی خبره مسلمانان وایی: د دین یی له سیاسته سره څه کار!

۱۰- پرپخوانیو دلایلو سربیره، بله مسأله چی په سیاست کی د مسلمانانو مداخلی ته حتمی بڼه ورکوی، د دین د احکامو تنفیذ او اجرا ده، یعنی د شریعت د حدودو او احکامو تنفیذ او د شرعی مقرراتو اجرا، د اسلامی حدودو ساتنه او د دعوت خپراوی څه ډول او د چا په وسیله عملی کیدلای شی؟ او دا موضوع د عقل او منطق له مخی ایجابوی چی مسلمانان باید په اسلامی ټولنه کی خپله حکومت ولری، او له هغه پرته به څوک د حلالو او حرامو او امر ونهی له حریم نه دفاع وکړی؟

(۱) منهاج الصالحین ص: ۴۳۲.

**۱۱**- لکه چې څرګنده ده، د سیاسي علومو او هیوادونو د تګلارې او مرعی الاجرا قوانینو په بحث کې، سیاست پر دوو (کورنیو او بهرنیو) برخو ویشي چې بهرنۍ برخه یې د هیواد د بهرنیو اړیکو د څرنګوالي، د ګاونډیانو او نورو هیوادونو د خپلمنځي اړیکو د ښه تدبیر او اړیکو تنظیم، د جنګ او سولې په باب د چارو ترتیب، او د اولسونو او هیوادونو تر منځ چارو ته ځان رسوي.

کورنی سیاست په عمده توګه په څو برخو ویشل کیږي چې له مالي، تعلیمي، تربیتي، نظامي او فرهنګي سیاست نه عبارت دي.

اوس ګورو چې ددې برخو په جوړولو او تنظیم کې کوم نظام او فکري مکتب تر اسلام د مخه دي او تر اوسه هم د کوم نظام او مکتب مبادي او اصول، او د ژوندانه تګلاره د اسلام د اصولو او مبادیو په پرتله نوښت او صلاحیت لري؟

قرآني آیتونه او نبوي احادیث د مال او ملکیت د ښه تنظیم او هغې ته د اړتیا، د مال د ګټلو د مشروعي لارې، پیرودلو او پلورلو د جواز، سوداګرۍ، مضاربت، اجارې، د سود د حرمت، اختلاس، غلا او قمار د نامشروعو عوایدو مخنیوي، په همدې توګه، د عسکرو او پوځ د منظمې روزنې په باب د یوه سهي او با هدفه ځواک تشکیل، د اولاد د روزنې سالم نظام، د هیواد د وګړو سهي توجیه، د ګټورو خبرونو د تبلیغاتو تګلاره، د امنیت د تأمین او د خلکو د ځان، مال او عزت د ساتنې پخاطر د مجرمینو لپاره د مناسبو جزاګانو وضع کول، دین، هیواد او نورې چارې چې دا کتاب یې له احتوا نه عاجز دی، او دې ته ورته چارو په باب ځانګړې لارښوونې لري کله چې د غــه تولې چارې په سیاست پورې تړلې وي؛ نو څنګه کولای شو د هغو د توجیه او لارښوونو په

اړه د دین نقش نالیدلی وګڼو، په داسې حال کې چې هم په ماضي کې او هم اوس دين په دې ټولو چارو کې دخیل دی او د قیامت تر ورځې پورې به په دا ټولو چارو کې خپل رغنده نقش تر سره کړي؛ نو اوس د دې ټولو دلایلو په وړاندې کولو سره ایا معقوله ده چې ووایو دین له سیاست سره څه کار لري؟

**۱۲** - تر ټولو ښه دا ده چې تاریخ مخې ته کښیږدو او د راشده خلفاو مثالي دور او ترهغې را وروسته دوري ولولو اوبیا وګورو چې کوم دين او کوم فکر او مکتب د اسلام په پرتله په دې باب وړاندې دی؟ ښکاره ده چې هیڅوک په دې کې اختلاف نشي کولای، چې د اسلام زرینې دورې د حکومتي چارو په باب ساري نه درلود، کـه په دې دین کې سیاست، تنظیم او اصولیت نه وای څنګه ممکن وه چې دا حکومتونه څو پیړۍ دوام وکړي، او د عدل او انصاف په پیاده کولو سره، د ودانولو په چارو کې او خلکو ته په خدمت او د هغو د ستونزو په حل کې، د يوې نمونې حیثیت غوره کړي او تدبیر یې په دې باب تر دې ځایه دی چې نن هر څوک دا هیله لري چې د غسې يو حکومت په سترګو وويني.

حتى غیر مسلمان هم چې کله وغواړي د تقوی، پاکوالي، عدل او انصاف او پر عدل ولاړ نظام يو مثال وښيي؛ نو خامخا وايي لکه د ابوبکر او عمر رضی الله عنهما او یا د دوی په څیر نور حکومتونه.

**۱۳** - د دې فصل په پای کې باید ووايو چې اصلاً دین د دې لپاره راغلی چې حکومت وکړي او انسان د انسان له بندګۍ نه ازاد کړي او هغه قلمرو ته يې ننباسي چې الله ته له بندګۍ پرته بل معیار او ارزښت نه لري.

اسلام د ژوندانه نظام دی، هغه نظام چې ريښې یې د ژوند تر وروستيو دقايقو پورې غځېدلې دي، هغه نظام چې سړی باید په ټولو چارو کې ځان

ورته وسپاري او له مقرراتو او لارښوونو نه يې پرته له کومې استثنا پيروي وکړي، هغه نظام چې د خپل رسالت د خپراوي لپاره يې جهاد فرض کړی دی چې ټول بشر له دې نعمت نه برخمن شي، او د جهاد هدف د خدای تعالی د کلمې لوړول او د هغه د رضا لاس ته راوړل دي د خدای تعالی د کلمې د لوړولو مفهوم دا دی چې د ځمکې پر مخ يې قانون پياده شي، او د ده نظام پر ټولو نظامونو بر لاسی وي، او د ژوند پر ټولو برخو حاکم وي.

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايلي دي:

﴿هُوَ الَّذِي أَرْسَلَ رَسُولَهُ بِالْهُدَىٰ وَدِينِ الْحَقِّ لِيُظْهِرَهُ عَلَى الدِّينِ كُلِّهِ وَلَوْ كَرِهَ الْمُشْرِكُونَ ﴿٩﴾﴾ [الصف: ٩]

ترجمه: دغه (الله) هغه ذات دی چې رالیږلی یې دی رسول خپل (محمد) په (ښوونه د) سمې لیاری او دین حق سره (دین د اسلام دی) لپاره د دې چې غلبه ورکړي (پورته کړي هغه دین) پر دینونو ټولو باندې اګر که بده وګڼي (دغه غلبه) مشرکان.

فکر کوم د دې ټولو روښانو دلایلو په وړاندې کولو سره هیڅ مغرض او اسلام دښمن او بې خبرو وګړو ته دا مجال نه دی پاتې چې ووایي دین له سیاسته جلا دی او یا دین له سیاست سره څه کار لري!

* * *

# له سیاسته د دین پر جلا والی داعتقاد حکم

څوک چې پر دې باور وي چې دين له سياسته جلا دى او يا دين د سياسي چارو د تنظيم صلاحيت نه لري، د قرآن په حکم کافر دى، که هغه مسلمان وي، د دې عقيدې په لرلو سره مرتد ګڼل کيږي، په لاندې دلايلو:

۱ـ الله تعالی فرمايلي دي:

﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ ﴿٣﴾﴾ [المائدة: ٣]

ترجمه: نن ورځ مکمل (پوره) کړ ما تاسي ته دين ستاسي (اصولاً او فروعاً).

دا چې دا آيت د دين د کمال بيانوونکی دی او دا کمال د قيامت تر ورځې پورې دوام لري که چيرې د دين کمال لنډ مهالي وای د وروستي دين صفت به نه ورکول کيده؛ نو څوک چې وايي دين له سياسته جلا دی، او د ژوندانه سياسي چارې دين نه تنظيموي، هغه د دين له کمال نه منکر دی او د کمال منکر کافر دی.

۲ـ الله تعالی په همدی آیت کی د هغی پر دوام فرمایی:

﴿وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِيناً ﴿٣﴾﴾ [المائدة: ٣]

ترجـمـه: او غوره کړ ما تاسي ته اسلام له جهتـه د دین (ډیر پاکیزه په ټولو ادیانو کی).

نو څوک چی پر دی معتقد وی چی دین د سیاسی چارو او د هغی د تنظیم صلاحیت نه لری، د الله تعالی پر اختیار او رضا یی د انتقاد گوته ایښی ده، په داسی حال کی چی الله تعالی د انسان خالق او د هغه پر رازونو، طبیعت او فطرت او غوښتنو ښه پوه دی، پر دی اساس یی دا دین زمونږ د دنیوی او اخروی خیر ښیگنی لپاره غوره کړی دی او د خدای پر رضا او خوښه انتقاد ښکاره کفر دی.

۳ـ څوک چی په دی عقیده وی چی په نورو چارو کی دین منو؛ خو په سیاست کی د مداخلی اجازه نه ورکوو.

د هغوی په باب د الله تعالی دا وینا صدق کوی:

﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ فَمَا جَزَاءُ مَن يَفْعَلُ ذَلِكَ مِنكُمْ إِلاَّ خِزْيٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيَامَةِ يُرَدُّونَ إِلَى أَشَدِّ الْعَذَابِ وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٨٥﴾﴾ [البقرة: ٨٥]

ترجـمـه: آیا پس (منئ او) ایمان راوړی تاسی پر ځینو (احکامو د) کتاب (چی فدیه ده) او کافران کیږی په ځینو نورو (احکامو د کتاب چی بی گناه وژنی په گناه سره مرسته کوی د دوی مغلوبان له وطنه شړی) پس نه ده سزا د هغه چا چی کوی دا (کارونه) له تاسی څخه مگر خو رسوایی ده په ژوند

د دنیا کي او په ورځ د قیامت کي ګرځول کيږي دوی ډير سخت عذاب د (دوزخ) ته او نه دی الله غافل له هغه څه چي کوی يې تاسي (ای يهودانو!).

۴- څوک چي پر دی عقیده وی چي د ين له سیاسته جلا دی، معنا يې دا ده چي حکومت باید له دينه د جلا اصولو او مبادیو په چوکاټ کي جوړ شي؛ لکه ترکيه او دهغی مثال چي نتيجه يې د الله تعالی د حدودو، مقرراتو او لارښوونو ځنډول دی؛ غير اسلامی حکومت هيڅکله هم اسلامی مقررات نه نافذوی ځکه چي عملاً او عمداً د دين د مقرراتو او احکامو پر تعطيل يا ځنډولو عقيده لرل کفر دی.

۵- الله تعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً ﴿٢٠٨﴾﴾ [البقرة: ۲۰۸]

ترجمه:ای هغو کسانو چي ايمان يې راوړی دی (يعنی ای مؤمنانو) ننوځی! په اسلام کي (دهغه له ټولو شرايطو سره) ټول.

مفسرينو د ﴿ ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً ﴾ معنا داسي تفسير کړی ده چي په درست اسلام کي د ننه شي او څوک چي عمداً د اسلام يوی برخي ته ننوځي او په بله برخه کي ورته غاړه نه ږدي، مسلمان نه دی.

۶- په داسي حال کي چي حکومت غير اسلامی وی يعنی سياست له دينه جلا وی، اوامر او نواهي، د روا او ناروا احکام د هغه چا له خوا صادريږي چي د هوی او هوس تابع وی او د دين تعليماتو ته غاړه نه ږدی، په دی صورت کي به د خدای حلال حرام او حرام به يې حلال کړی چي داپخپله کفر دی، او هغه کسان چي وايي د دين له سياست سره څه کار دی، د دی خبری معنا پر

کفر اعتقاد دی .

۷ـ اسلام د ژوندانه په ټولو چارو کې خدای تعالی ته په خوښه او بې له قید او شرطه د تسلیمیدو په معنا دی؛ نو څوک چې په یوه برخه کې ځان تسلیم گڼې او په بله برخه کې ترې سرغړوی، او هغه کافي نه گڼي مسلمان ورته نه شي ویل کیدای.

۸ـ الله تعالی فرمايي:

﴿وَقَاتِلُوهُمْ حَتَّىٰ لَا تَكُونَ فِتْنَةٌ وَيَكُونَ الدِّينُ كُلُّهُ لِلَّهِ ﴿٣٩﴾﴾ [ الأنفال: ٣٩ ]

ترجمه: او وجنگیږئ (ای مؤمنانو!) له دغو «کفارو» سره تر هغه پوري چې نشي پاتې فتنه «فساد په ځمکه کې» او شي دين «حکم» ټول خاص الله لره ( او نور ټول باطله اديان ورک شي ) .

او که څوک پر دې معتقد وي چې د دين يوه برخه د الله او بله د وخت د واکمن ده، لکه عيسويانو چې د پاپانو په وړاندې ويلې وو چې د دين يوه برخه په خدای او بله يې په قيصر پورې مربوطه ده، دا پخپله ښکاره کفر دی.

۹ـ الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللَّهُ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ ﴿٤٤﴾﴾ [ المائدة: ٤٤ ]

ترجمه: او هر چا چې ونه کړ حکم په هغه شي چې نازل کړی (ليږلی) دی الله نو دغه کسان هم دوی دي کافران.

او په نورو آيتونو کې (ظالمون) او (فاسقون) راغلي دي يعنې څوک چې د خدای تعالی له حکم سره سم حکم نه کوي، هغه کافر، ظالم او فاسق دی طبيعي ده چې کله دين له سياسته جلا وبولو په هغه صورت کې واکمن او

حاکم د دين له اصولو او قوانينو پرته منځ ته راځي او غوره کيږي کله چې دغسې يو انسان پر دې باور وي چې دين له سياست سره څه کار لري هغه پر له «ما أنزلَ اللهُ» پرته حکم کوي چې په نتيجه کې د قرآن په حکم کافر دی؛ نو څوک چې په دغسې يوه نظام باور ولري او ووايي چې دين له سياست سره څه کار لري، کافر دی.

۱۰ ـ له سياسته د دين پر جلاوالي باور لرل د دين له يوې لويې برخې، قرآني نصوصو او نبوي احکامو نه انکار دی؛ ځکه چې دين د مؤمنو انسانانو د ژوندانه د نظام، حکومت، عدالت او انصاف او سياسي چارو د سمبالښت لپاره راغلی، او په دې برخه کې روښانه لارښوونې لري؛ نو ځکه يې له سياسته جلا ګڼل ښکاره کفر دی.

نو څوک چې وايي دين له سياست سره څه کار لري؟ او يا دا چې دين او مذهب د حکومت کولو وس نه لري دا خلک په دغه عقيده چې د دين په باب يې لري کافر دی، که دا خبره له اسلام او مسلمانانو سره د دښمنۍ په خاطر کوي، او يا دا چې د جهل او ناپوهۍ په نتيجه کې د دې خطا مرتکب کيږي د کفر په کنده کې ورلويږي.

* * *

# دبشريت دخـوښـی سیا سی نظام څو مهم ټکی

اوس گورو چی د پر له پسی پیړیو د تجربو او مختلفو نظامونو د مطالعی په نیتجه کی د دنیا زیاتره خلک د ځان لپاره کوم ډول نظام خوښوی چی پری حاکم وی څو د هغوی نظام، له هغه نظام سره چی اسلام د مسلمانانو د چارو د تنظیم لپاره، له ځانه سره راوړی دی پرتله کړو او وگورو چی تو پیر په کوم ځای کی دی ؟عقل، منطق او د بشر خیر ښیگڼه څه ډول نظام غواړی ؟

د یوه سیاسی نظام د منځ ته راوړنی لپاره بی پری څیړنی په لاندی خبرو اتفاق ته سره نژدی دی:

۱ـ د دولت رئیس باید د خلکو په واسطه او د هغوی په خوښه وټاکل شی.

۲ـ د دولت رئیس باید د هغو مواصفاتو له مخی چی د ده د ریاست قابلیت او وړتیا تضمین کړی، غوره کړای شی.

۳ـ د دولت رئیس باید د علم، پوهی، تقوی، روغتیا، امانت،د کار استعداد او پر خپلو ژمنو د وفا له پلوه د ملت پر ټولو وگړو غوره وی.

۴- ددولت رئیس باید په ورسپارل شویو چارو کی د الهی قانون دنظام پابند وی.

۵- د دولت رئیس باید داسی مرستیالان ولری چی دده په څیر د ایجابی صفتونو لرونکی وی او لکه څرنگه چی لازمه ده استعداد، اهلیت او کفالت ولری.

۶- ددولت رئیس د چارو د پر مخ بیونی لپاره باید داسی والیان او لوړ رتبه چارواکی وټاکی چی دعلم، پوهی، تقوای او امانت داری په ډگر کی د ملت د نورو وگړو په پرتله اهلیت او ورتیا ولری او ددولتی مامورینو په مقررولو کی تنظیمی، قومی، نژادی او ژبنی تمایلات په پام کی ونه نیسی.

۷- ددولت رئیس باید د هیواد د قانون په وړاندی د هیواد ټول اتباع یو ډول وگڼی، د هغوی حقوق او وجایب په عادلانه توگه په پام کی ونیسی، اویو پر بل لوړ ونه گڼی.

۸- ملت یا اولس باید ددولت د رئیس اجراآت او اعمال وڅاری.

۹- ملت باید تر هغی ددولت درئیس اطاعت وکړی چی له الهی قانون سره سم عمل کوی او د خپلی دندی په اجرا کی تاغیری ونه کړی او که څوک په ناحقه سره د دا ډول امیر پر خلاف بغاوت کوی باید په زور سره اطاعت ته اړ کړی شی چی د بی مسؤولیته خلکو له خوا د ټولنی نظم خراب نه شی.

۱۰- که چیری ددولت رئیس یا د هغه کوم چارواکی کومه خطا او نامشروع عمل کوی، د هیواد هر وگړی حق لری چی هغه خپلو تیروتنو ته متوجه کړی، او پرینږدی چی خپلی غلطی او انحراف ته دوام ورکړی.

۱۱- ددولت رئیس باید مکلف وی چی د ځان او خپلو چارواکو یا

مامورینو په باب د رعیت ملاحظی او نیوکی واوری او اصلاح یی کړی.

۱۲ـ ددولت رئیس باید له هغه چا سره چی پر انحرافاتو یی انتقادونه کړی کینه ونه لری او د غچ اخستنی په لته کی نه وی او د ستونزو د حل په باب بی پروایی ونه کړی.

۱۳ـ که چیری ددولت رئیس خپل انحراف ته دوام ورکړ، ملت حق لری چی هغه په زور سره د اصلاح یا سمون خواته راکاږی.

۱۴ـ د رعیت هیڅ وګړی حق نه لری ددولت پر رئیس بی ځایه انتقادونه وکړی او د هغه شخصیت ته زیان ورسوی که د رعیت له کوم کس نه داسی کار ولیدل شو، باید دهیواد ټول وګړی هغه پوه کړی او د اصلاح په لته کی یی شی.

۱۵ـ که ددولت رئیس د قانون او د خلکو د سالمو انتقادونو پر خلاف عمل وکړ، او د خلکو نیکو خبرو ته یی غوږ کښینښود، او په خپل سر یی خپلی تګلاری ته دوام ورکړ اولس حق لری چی هغه خپلی دندی نه ګوښه کړی او د قانون په برخه کی هم باید ایجابات په پام کی ونیول شی او قانون باید د انسانی کرامت ضامن، دټولنیز عدالت تأمین، دهیواد امنیت، د خلکو د سر، مال اوناموس ساتنه دهغه په سیوری کی ممکنه شی، خلک دشریعت په چوکاټ کی د بیان ازادی ولری، او د ټولنی د سالمی رهبری او دهیواد د پر مختګ لپاره لاره اواره شی او دژوندانه د لومړیو اړتیاو تأمین په کی په پام کی ونیول شی.

کله چی له یوه عاقل، منصف او د پوهی او فکر له خاونده وپوښتی ښایی درته ووایی چی د غسی یو نظام به د دغسی خصوصیاتو له درلودلو سره یو ایدیال او نمونه نظام وی چی هر څوک د دغسی نظام د پیاده کیدو هیله لری.

اوس وګورو چې اسلام په دې باب څه وايي؟ او آيا د هغو نظامونو په اړه چې د اسلامي ټولنو تاريخونو پخپلو زړونو کې ثبت کړي دي، دې مطالبو ته ور ته مطالب موندلای شو که نه، چې وګورو په کومو شيزونو کې سره نژديوالی لري او په کومو شيزونو کې سره اختلاف لري پخوا تر دې چې د اسلامي نظام په پيژندنه پيل وکړو، د اسلام پر يو مختصر او ورغنې عمل چې هر عاقل او بالغ مسلمان ترې خبر دی، خبرې کوو او د دې عمل په رڼا کې په اسلام کې سياست ور سره پر تله او شرح کوو.

* * *

# د جماعت لمونځ

د جماعت لمونځ، چې مسلمان یې د یوه کلي په کچ (سطحه) د ورځې پنځه ځلې ادا کوي د مسلمانانو د یو والي او پیوستون تر ټولو ښه مظهر دی، که څه هم چې دا عمل په ښکاره هر چا ته ساده ښکاري؛ خو کله چې سړی ورته ځیر شي، د هغه ګټي، مثبتې او ایجابي نتیجې وڅیړي پوهیږي چې دا عمل برسیره پر هغې چې د مسلمانانو د یووالي رمز دی، یو له بله د مسلمانانو د خبریدنې مرکز او یو دبل ستونزو ته د ځان د رسونې وسیله هم ده، پخپله د اسلامي نظام یو انعکاس، یو نوی درس او ښوونکی دی، لوستونکی د دې موضوع له شرحې او تفصیل نه وروسته په دې حقیقت پوهیږي، چې اسلام نه یوازې د یوه هیواد او یوې لویې بشرې ټولنې په کچ دې خواته پام کړی؛ بلکې د کورنیو او انساني ټولنو په کچ یې هم چې د یوه کلي او محلې چاپیریال نه عبارت دی خپل پام را اړولی او د هغې په اړه یې اصول او ضوابط وضع کړي دي، چې د ملت او امت په سطح د یوه سیاسي نظام

منعکسوونکی دی په دی توګه:

۱ ـ لمونځ فرض او په جمعی سره موکد سنت دی، یعنی د هغه له شرطونو او آدابو سره په جمع لمونځ کول، یو اسلامی عمل دی، ددی لپاره چی خلک دغه عمل ترسره کړی، باید کومی لاری په پام کی ونیسی او کوم پروګرام او بهیر تعقیب کړی؟

د جماعت لمونځ لکه هرډله ییز عمل لکه د مخه مو هم چی وویل یو لړ اصولو او مقرراتو ته اړتیا لری، چی باید له هغی سره سم اجرا شی او له هغی نه پرته هماهنګی له منځه ځی او هغه عمل د اختلال او بی نظمی ښکار کیږی او په سهی توګه یی د سرته رسونی امکانات له منځه ځی کاملاً لکه هرډله ییز کار چی خلک د هغه کار په سرته رسونه کی یوه آمر ته اړتیا لری، چی هغه کار د هغه په حکم پیل او پای ته ورسیږی او په ډله ییزه توګه اجرا شی.

اوس ګورو، کله چی د کلی خلک وغواړی لمونځ په جمع سره وکړی لکه څرنګه چی مقررات، اصول او ضوابط یی د فقهی په کتابونو کی په تفصیل سره راغلی دی، دیوه امام د پیدا کولو په لټه کی کیږی، چی په دی ډله ییز عمل کی د هغوی امامت وکړی او دا عمل د هغه په امامت سره پیل او سر ته ورسیږی او ددی لپاره هڅه کوی داسی څوک وټاکی چی نسبت نورو ته د ښو شرایطو خاوند او د امامت د صلاحیت لرونکی وی؛ نو ځکه هڅه کوی داسی څوک وټاکی چی د لمانځه پراحکامو تر نورو عالم، قرائت یی تر نورو سهی، تقوا یی تر نورو ښه، په خلکو کی یی محبوبیت تر نورو زیات، او له هره پلوه یی ددی عبادت د سرته رسونی لپاره کفایت او اهلیت تر نورو زیات وی که نوموړی کس دغه مواصفات ونه لری، خلک ورپسی اقتدا نه کوی او د جماعت لمونځ د هغه په امامت سره نه ادا کوی.

۲ـ که دا امام د لازمو شرایطو لرونکی نه وی، امامت په سهی توګه سرته نه شی رسولای، او په نتیجه کی عمل په سهی ډول سرته نه شی رسیدای، پردی سربیره د خلکو علاقه ورسره کمیږی او ددی عبادت د سرته رسونی لپاره چی باید په ډله ییزه توګه سرته ورسول شی او موکد سنت دی، نه حاضریږی او ډیر ځله خو د کلی او محلی د خلکو تر منځ د اختلافاتو لامل هم کیږی .

دلته ګورو چی د کلی د امام په ټاکنه کی د سیاسی چارو مهم مظهر یعنی مشوری ته اړتیا پیدا کیږی، مشوره د ټولنیزو چارو اساس تشکیلوی او د کلی د خلکو تر منځ یی چی د انسانانو د ټولنی یو کوچنی واحد دی وجود ته اړتیا لیدل کیږی او دا پخپله دا مطلب تأییدوی چی په یوه اسلامی ټولنه کی د رایی استبداد او خپل نظر پر نورو تپل، ځای نه لری او کارونه باید له پیله تر پایه په یوه کوچنی واحد کی د مشوری پر اساس تر سره شی کله چی امام د خلکو په اتفاق سره وټاکل شی بیا په لمانځه کی پر ته له کوم امتیاز او تفاوته یو د بل تر څنګ دریږی، او په هغه پسی اقتدا کوی .

دلته حالت داسی نه دی چی د پانګوالو او واک خاوندانو ته په لومړی صف او بیوزلو او بیچاره خلکو ته په وروستیو صفونو کی ځای ورکړل شی : بلکی په دی صف کی لکه د حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم په لارښوونه کی چی راغلی دی، هر سړی پر خپل ځای ودریږی، او دنیوی مسایل او جاه و جلال هیڅکله په کی مطرح نه دی؛ امام خپل مخ لمونځ کوونکو ته اړوی او په صف کی تش ځای نه پریږدی هغو کسانو ته چی په علم کی د امام همو زنه وی په امام پسی ځای ورکوی که امام فتحی ته ضرورت ولری چی هغه ته فتحه ورکړی او که امام ته کوم ضرورت پیښ شو او ویی نشوای کړای چی لمونځ سرته ورسوی د امام په نیابت محراب ته وړاندی شی او پاتی لمونځ تکمیل کړی.

کله چی امام د صفونو له حالته ډاډه شو، لمونځ د تکبیر په لوړ اواز

پیلوی، او نور په هغه پسی د هغه پیروی کوی، تر هغې چې لمونځ د تاکل شویو لارښوونو سره سم دوام مومی، هیڅوک حق نه لري چې د امام له پیروۍ نه سر وغړوی؛ بلکې په ټولو حرکتونو کې د امام پیروی کوی او مقتدی نه شي کولای په هیڅ حرکت کې له امامه مخالفت وکړي او په دې توګه ترڅو چې لمونځ د امام په امامت پای ته رسیږي پر مقتدي د امام اطاعت واجب دی.

که امام پخپل امامت کې سهو شو، او تیرووت، هغوی چې د امام شاته ولاړ دي باید امام خپلې تیروتنې ته متوجه کړي او که دده پام هم نشو بیا نو د هر لمونځ کوونکي وظیفه ده چې امام خپلې تیروتنې ته متوجه کړي او پرېنږدي چې امام خپلې تیروتنې ته دوام ورکړي. که احیاناً امام د مقتدیانو تنبیه او تذکیر ته متوجه نه شو او ویې نه شوای کړی چې خپله تیروتنه تلافي کړي د لمانځه له پای ته رسیدو نه وروسته ګوري چې که ترک شوی عمل د فرضو حکم درلود د لمانځه اعاده فرض، او که واجب و اعاده یې واجب او که سنت و، اعاده یې سنت ده.

دا چې مقتدیان د امام د تنبیه حق لري، دا پخپله دا ښیي چې مقتدی باید د لمانځه په جریان کې دقیقاً مراقب وي، چې له یوې خوا یې د خدای تعالی حضور ته در یدل زیانمن نه شي او له بلې خوا د امام قرائت تعقیب کړي هسې نه چې امام تیروځي او امام حق نه لري چې د مقتدي په تنبیه ناخوښه او یا په غوسه (غصه) شي په تیره دا چې د مقتدي تنبیه په حقه وي؛ نو په هغه حالت کې ټول مقتدیان د هغه د تأیید پخاطر د هغه پلوي کوي او که مقتدي پخپله تنبیه کې په حقه نه و، امام د هغه تنبیه ته ارزښت نه ورکوي او خپل عمل ته دوام ورکوي او د لمانځه له پای ته رسیدني وروسته مقتدي خپلې تیروتنې ته متوجه کوي.

که امام داسې وي چې د مقتدیانو سهي تنبیه او تذکیر ته توجه ونه کړي

او يايي تيروتني او غلطي دي حد ته ورسيږي چي خلک د خپل لمانځه پر صحت شکمن شي اويا په امام کي منل شوي شرطونه ونه ليدل شي، په هغه صورت کي نوموړى امام لرى کوي او پر ځاى يي بل امام ټاکي ؛ ځکه د امام د امامت موده نه ده ټاکل شوي چي د تيولو قرارداد ونو په څير يي سرته ورسوي بلکي دهغه ټاکنه د جماعت په چارو کي د اولويت پر اساس وي که څه هم چي له ټاکني نه يي يوه ورځ هم نه وي تيره شوي بايد امامت يي تجديد شي او خپل ځاى بل چا ته پريږدي د کلي خلک په هغو برخو کي چي لازمه ده له امام سره مشوره کوي دا کـه په دين پوري اړوندي چاري وي لکه د لمانځه د وختونو ټاکنه، د جومات دداخلي چارو ترتيب او يا نوري چاري او خپلي گټوري مشوري هغه ته ورکوي، په ديني چارو کي له هغه نه پوښتني کوي او خپل ځوابونه ترلاسه کوي، امام پخپل جومات پوري اړوند خلک څاري چي څوک لمونځ کوي او څوک يي نه کوي، عذرونه يي پوښتي، د ناروغانو پوښتنه يي کوي، او کله هم که څوک له کوم عذره پرته جومات ته رانه شي لومړى هغه ته نصيحت کوي او تنبيه کوي يي او که نه بيا يي يوي داسي مرجع ته چي هغه ته مناسبه جزا ورکړاى شي، معرفي کوي.

امام د کلي د خلکو په منځ کي د يوه لارښود او مشر حيثيت لري د هغوي دخپلمنځي شخړو په اواري کي د يوه مصلح نقش ترسره کوي، ديني مسايل ورزده کوي په معروف ورته امر کوي او له منکره يي منع کوي.

اوس لمونځ په دغه کيفيت سره چي بيان مو کړ د پوهو او با عقله خلکو د خوښي له نظام سره يوي خواته پږدو او بلي خواته د اسلام سياسي نظام ته گورو چي د يوه کوچني مودل په توگه د جماعت په لمانځه کي منعکس شوى! ايا د جماعت لمونځ د خپل نظم او انسجام ترڅنگ چي لري يي د کلي د امام په ټاکنه او د رهبري په سيستم کي په اسلام کي يوه کوچني نمونه نه ده ؟ باور دى چي د

پوهې او سليم عقل خاوندان د هغې حقانيت ته غاړه ږدي، معقولې غوښتنې او د انساني اړتياو سرته رسيدنه د اسلام د سياسي نظام په تطبيق کې ګوري او په دې توګه د مغرضينو خوله له خاورو ډکيږي، او د غوليدليو او بې علمو خلک ذهنونه د دښمنانو د چل او نيرنګ له ناپاکيو نه پاکيږي.

کله چې لوستونکي په سياست پورې د اړوندو چارو په باب ديني کتابونو ته مراجعه وکړي، ګوري چې د دې برخې زياتره پوهان، او د دې موضوع ليکوال، په دې حقيقت پوه شوي دي چې د يوه کلي د امام د ټاکنې تګلاره د ملت او امت په سطح د امام د ټاکنې يوه کوچنۍ بيلګه ده او د جماعت نظام، د اجرا څرنګوالي يې، د ملت او امت په سطح د اسلام د سياسي نظام يوه نمونه ده، همدا علت دی چې يو شمير عالمانو د کلي امامت د «صغرى امامت» او د امت امامت د «کبرى امامت» په نامه ياد کړی دی.

* * *

## دجماعت نظام، او دامت د سياسي نظام ترڅنګه د هغه مطالعه

د جماعت په ځانګړې کی د اسلام د سیاسی نظام د څرنګوالی انعکاس په لاندی توګه وړاندی کیږی:

۱ـ لکه چی خلک د ملت یا اولس په سطحه رهبر، مشر او رئیس ته اړتیا لری، دا اړتیا د کلی په سطحه هم مطرح ده.

۲ـ لکه څرنګه چی د قوم سپین ږیری او پوه خلک د کلی د امام په باب سره مشوره کوی، او یوی موافقی ته سره رسیږی، په همدی توګه د یوه هیواد خلک د ملت په سطحه مشران او پوه خلک پخپلو کی سره کښینی او د اهل عقد وحل د شورا په حیث یو کس د خپل مشر یا رئیس په توګه ټاکی.

۳ـ همغسی چی شریعت د امام د ټاکنی لپاره یو لړ شرطونه او مواصفات ټاکلی چی د هغی په پام کی لرنی سره امام غوره کیږی او د کلی مشران د ټاکنی پر وخت هغه شرطونه په پام کی نیسی په همدی توګه د کبری امامت په ټاکنه کی هم د اهل عقد و حل شوری یو لړ شرطونه او مواصفات چی

وجود يي د ملت د رئيس لپاره ضرور دی په پام کې نيسي، او په کوم کس کې چې دغه شرايط زيات وي همغه ددې دندې لپاره ټاکي.

۴ ـ کله چې د کلي د امامت او امت د امامت شرايط سره څنګ په څنګ کښېږدو ګورو چې په زياترو وختو کې سره يو شي وي او پر ته له ځانګړو موارد و نه چې سره توپير لري، نور به هيڅ ډول توپير په کې ونه ګورې؛ د بيلګې په توګه علم، تقوی، انصاف، د حواسو سلامتيا، اهليت، خپلې دندې ته التزام، د خلکو تر منځ محبوبيت او دې ته ورته نور مواصفات چې تفصيل به يې د اسلام د سياسي نظام د پيژندنې په بحث کې راشي.

۵ ـ لکه چې د کلي امام ژمنه (تعهد) کوي چې د امامت په اړه د ټولو وضع شويو شرايطو په اړه التزام لري، او له وضع شويو اصولو اخوا ته ګام نږدي، په همدې توګه د هيواد رئيس هم د خپل انتخاب پر وخت له ملت سره ژمنه کوي چې خپله ورسپارل شوې دنده به د ټاکل شويو شرطونو او مقرراتو سره سم پر مخ بيايي او د اوامرو او نواهيو د اجرا پابند به وي، او د شريعت له حدودو به تيرې نه کوي.

۶ ـ د کلي خلک د امام تر ټاکنې وروسته همدا چې امام په لمانځه کې مخکې کيږي تر هغې چې تيروتې نه وي په لمانځه کې حاضر خلک د هغه د حرکاتو او سکناتو اطاعت کوي، همدا ډول کله چې د دولت امام يا رئيس وټاکل شي، ټول ملت د خپلو نمايندګانو له لارې چې د اهل عقد و حل په نامه ياديږي له هغه سره بيعت کوي، او تر هغې به يې اطاعت کوي او حکم به يې مني چې د شريعت له اصولو سره سم عمل وکړي او د اسلام له چوکاټ او اصولو نه اخوا ګام کښينږدي.

۷ ـ لکه څرنګه چې امام د لمانځه تر پيل د مخه صفونه سموي او د باچا او ګدا، فقير او غني تر منځ توپير نه کوي، په همدې توګه د هيواد رئيس

پخپل قلمرو کې د عدل او انصاف په خپراوي کې د ملت د افرادو تر منځ هیڅ ډول توپیر نه کوي، بیوزلي او بډاي زورور او کمزوري، زوړ او ځوان ټول په یوه سترګه ګوري او له دې پلوه چې ټول یې د اوامرو په پیروي کې په یو شان چمتو وي، ځان کاملاً ډاډه کوي.

۸ ـ لکه چې مقتدیان حق لري په لمانځه کې د امام د تیروتنې پر وخت هغه ته فتحه ورکړي او تیروتنه یې ورياده کړي، او د لزوم په صورت کې لمونځ بیا وکړي یعنې که چیرې تیروتنه یې د تلافي وړ نه وي، په همدې توګه که چیرې د هیواد رئیس په کوم کار کې تیروځي، دا که سهواً وي یا عمداً ملت کولای شي د غه تیروتنه وریاده کړي، او هغه د خپلې تیروتنې تدارک ته اړ باسي؛ خو دا تنبیه باید په داسې بڼه وي چې فساد، شور، غوغا او فتنه ورڅخه راپورته نشي لکه چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

قَالَ عَيَاضِ بْنِ غَنَمٍ يَا هَشَامِ بْنِ حَكِيْمٍ قَدْ سَمِعْنَا مَا سَمِعْتَ وَ رَأَينَا مَا رَأَيتَ أَوَلَمْ تَسْمَعِ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَن أَرَادَ أَن يَنْصَحَ لِسُلْطَانٍ بِأَمْرٍ فَلَايُبدِلَهُ عَلَانِيَةً وَلَكِن لِيَأْخُذ بِيَدِهِ فَيَخْلُو بِه،فَانْ قَبِلَ مِنْهُ فَذَاكَ وَإِلا كَانَ قَدْ أَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ». (۱)

ترجمه: عیاض بن غنم وویل: ای هشام بن حکیمه! مونږ واوریدل هغه څه چې تا هم واوریدل، او مونږ ولیدل هغه څه چې تا هم ولیدل آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم وینا دې نه ده اوریدلې چې ویل یې: که چاوغوښتل کوم واکمن ته نصیحت وکړي باید د خلکو په مخ کې یې ورته ونه کړي؛ بلکې باید له لاسه یې ونیسي او ګوښه ورته نصیحت وکړي، که واکمن نصیحت واورید نو همغه مطلب دی چې په لاس راشي او که یې ونه مانه، ده خپل مسؤولیت ترسره کړ.

---

مسند أحمد ج:۳ ص:۴۰۳ .

دا حق نه یوازی دا چی د ملت افرادو ته ثابت دی ؛ بلکی پری واجب دی چی حق بیان کړی او پرینږدی چی امام بی لاری شی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی:

« أَلسَّاكِتُ عَنِ الْحَقِّ شَيْطَانٌ أَخْرَس » .

ترجمه: څوک چی د حق ویلو نه ډډه کوی، د ګونګ شیطان حیثیت لری.

په بل ځای کی یی د ظالم پاچا په وړاندی حقه خبره کول، تر ټولو ستر جهاد بللی دی، کله چی سلطان یا اولوا الامر رعیت ته له شریعته مخالف فرمان صادر کړی، رعیت حق لری چی له اطاعته یی سرو غړوی، رسول الله صلی الله علیه وسلم په دی باب فرمایلی دی:

عَنْ عِمْرَانَ بْنِ الْحُصَيْنِ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لاطَاعَةَ لِمَخْلُوقٍ فِي مَعْصِيَةِ الْخَالِقِ ».(۱)

ترجمه: له عمران بن حصین رضی الله عنهما څخه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: د الله په نافرمانی کی د مخلوق طاعت نشته.

۹ـ لکه چی امام د مقتدی له سهی فتحی نه، نه په غوسه کیږی او خپله تیروتنه جبیره کوی، حق نه لری چی خپلی تیروتنی ته دوام ورکړی، او یا د هغه چا په وړاندی چی دی یی خپلی تیروتنی ته متوجه کړی عقده واخلی، او د غچ اخستنی په لټه کی شی، په همدی توګه اولوا الامر ته نه ښایی چی د رعیت په وړاندی چی دی یی خپلی تیروتنی ته متوجه کړی دی عقده واخلی، او یا د غچ اخستنی په لټه کی شی، خو په خواشینی سره باید ووایو چی د مسلمانانو په اوسنی ټولنه کی د دی پر خلاف اعمال لیدل کیږی چی دواکمنانو دا کړنلاره

(۱) المعجم الکبیر ج: ۱۸ ص: ۱۷۰ .

د اسلامی شریعت له لارښوونو سره مخالفت لری، اسلام دیوه اسلامی هیواد رعیت ته حق ورکوی چی د خپل اولواالامر چی د شریعت پر لاره روان وی اطاعت وکړی او له هر ډول عمل نه چی د حکومت د کمزوری باعث کیږی ډډه کوی، او که چیری له اسلامی شریعت نه پښه کږه ږدی، هغه دی سمی لاری ته راولی .

کله چی د اسلام د لومړی خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه هغی خطبی ته چی دخلیفه په توګه ترټاکنی یی وروسته ورکړه پام وشی، ګورو چی په څو کلمو کی یی خپل او د رعیت مکلفیتونه او مسؤولیتونه څه ډول په ګوته کړی دی او یا کله چی حضرت عمر رضی الله عنه خطبه ورکوی او خپل رعیت ته وایی چی که عمر بی لاری شو څوک به یی په لاره کړی! یو اعرابی له خپله ځایه پاڅیږی او ورته وایی چی کوږوالی به دی په دی توره سم کړم، حضرت عمر رضی الله عنه پر ته له دی چی له دی خبری نه په غوسه شی، وایی:

« خدای ته شکر دی چی دعمر په رعیت کی یی داسی څوک پیدا کړی چی د عمر کوږ والی په توره سموی » .

په دی توګه کله چی د اسلام د تاریخ پاڼی را واړوو ګورو چی کله به هم چا پر خلیفه یا اولواالامر کوم انتقاد کاوه، خلیفه به یا قانع کوونکی ځواب ورکاوه او یا به یی خپله تیروتنه منله، لکه چی یوه ورځ حضرت عمر رضی الله عنه په جومات کی د ښځو د مهرونو د ډیروالی او تحدید په باب خبری وکړی او تاکید یی وکړ چی باید د ښځو د مهرونو اندازه وټاکل شی د حاضرینو له منځه یوه ښځه پورته شوه او ورته یی وویل ای عمره! ته په کوم دلیل دا خبره کوی په داسی حال کی چی الله تعالی فرمایی:

﴿وَآتَيْتُمْ إِحْدَاهُنَّ قِنطَارًا فَلَا تَأْخُذُوا مِنْهُ شَيْئًا أَتَأْخُذُونَهُ بُهْتَانًا وَإِثْمًا مُّبِينًا ﴿٢٠﴾﴾ [ النساء : ٢٠ ]

ترجمه: حال دا چې ورکړی وی تاسې یوی ته ددوی ډیر مال (په مهر کی هم) نو مه اخلئ تاسی (ای میړونو! بیرته) له هغه مال نه هیڅ شی آیا اخلی به تاسی دغه (مال) په ناحقه (په دروغو بی موجبه) او په ګناه ښکاره (ظلم ظاهر سره).

ددی خبری په اوریدو سره عمر رضی الله عنه خپلی تیروتنی ته متوجه شو، دوهم ځل منبر ته پورته شو او ویی ویل عمر تیروتی دی او د دی ښځی خبره حق ده.

په همدی توګه یوه ورځ حضرت عمر رضی الله عنه پر منبر پورته شو، او له معمول سره سم یی په خطبه کی وویل: « اسْمَعُواْ وَ أَطِيْعُواْ » یعنی خبره می واوری او اطاعت می وکړی یو سړی له خپله ځایه پورته شو او ورته ویی ویل نه دی خبره اورم او نه دی اطاعت کوم حضرت عمر رضی الله عنه وویل چی ولی؟ سړی وویل کله دی چی د غنیمت مال وویشه موږ هریوه ته دی داسی ټوکر تری راکړ چی د یوه پر ځان هم جوړ نه شی او تا پخپله ترینه څنګه دومره لوی جامی اغوستی دی؟

عمر رضی الله عنه خپل زوی عبد الله ته وویل: پاځه! او ځواب یی ورایه! عبد الله پاڅیده او ځواب یی ورکړ: « حقیقت دا دی چی خلیفه او زوی ته یی په همغه اندازه ټوکر رسیدلی وچی تاسی ته رسیدلی؛ خودا چی خلیفه له بهرنیو هیأتونو سره کتنی لری ما عرض وکړ چی دا لنډی جامی تا ته نه ښایی او نه له هغه ټوکر نه زما جامی جوړیدی نو ما هم خپله برخه خلیفه ته ورکړه چی له دواړو برخو نه یو کمیس جوړ شی، او خلیفه یی واغوندی » هغه انتقاد کوونکی له خپله ځایه پاڅید او ویی ویل « اوس د اوریدنی او منلی حق لری ».

۱۰ ـ که مقتدی امام ته بی ځایه فتحه ورکوی او امام یی تنبیه ته پاملرنه نه کوی او خپل لمانځه ته دوام ورکوی، تر لمانځه وروسته مقتدی له

حقیقته خبروي او هغه خپلې تیروتنې ته متوجه کوي که مقتدي قناعت نه درلود ، معتمدو کتابونو او لویو عالمانو ته مراجعه کیږي که بیا هم نه قانع کیږده په دې صورت کې د هغه د فتنې اشتباه منځ ته راځي؛ نو د کلي خلک راټولیږي او هغه ملامتوي.

په حکومـــتي چارو کې هم چې کله د ملت له وګــړو نه څـــوک پر اولواالامر بې ځایه انتقادونه وکړي او د هغه عمل محکوم کړي او د دلایلو له مخې یې انتقاد بې ځایه و؛ خو له هغې سره سره هم نه قانع کیږده ؛ نو په دې صورت کې دغسې یو کس غلط هدف لري او هدف یې دا دی چې بې امنې او فتنه راولاړه کړي، په داسې حالت کې باید هغه سړي په ګوته او ملامت کړای شي او جزا ورکړای شي چې د هغه چا تر منځ چې هدف یې تذکیر او یادونه ده او د هغه چا تر منځ چې فتنه راولاړوي توپیر وشي که انتقاد د سمون او خیر غوښتنې په خاطر و نه د فساد لپاره ، لکه د حضرت عمر رضي الله پر کمیسه انتقاد ، نو چې کله هم انتقاد کوونکي حق واوري هغه ته تسلیمیږي او د خوښۍ څرګندونه کوي، او پوهیږي چې له بر او تقوی سره د مرستې لپاره یې خپله دنده سرته رسولې ده.

**۱۱** ـ امام په جومات کې د مقتدیانو له حاله خبریږي که څوک جومات ته نه وي حاضر شوی د علت پوښتنه یې کوي چې چیرته پرسفر تللی که ناروغ دی او یا هم کوم بل عذر د هغه د راتګ مخه نیولې ده په هر حال که یې عذر درلود ځان او نور د هغه مرستې ته هڅوي او که چیرې تخلف یې د تنبلۍ او لټې نتیجه وه لومړی ورته نصیحت او بیا یې تنبیه کوي او په پای کې ورته یوه مناسبه جزا ټاکي په دې توګه اولواالامر هم ځان د خپل رعیت له حاله خبروي او د امینو او واک لرونکو ادارو په مرسته د رعیت د پوښتنې او حال احوال معلومولو دنده لري، د رعیت احوال ځانته معلوموي او په نتیجه کې

بیوزلو او بې وسو خلکو ته د مرستې لاس ورغځوي او د مظلومـانو د فـریاد پوښـتنه کـوي هغـو چې د قـانون لـه دایرې نه پښـه ایسـتلې او عـامـه امنیت ګـډوډوي، او یا د چا په عـزت او ابرو تیـرې کـوي او یا یې مـال له خطر سـره مخ کوي، په دې صورت کې اولوا الامر د جرم د حجم په تناسب ورته جزا ټاکي.

حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د رعیت د احوال او پوښتنې او ورته د ځان رسونې په باب فرمایلي دي:

وَعَنِ ابْنِ عُمَرَرَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اَلا كُلُّكُمْ رَاعٍ وَ كُلُّكُمْ مَسْؤُلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ ...» . (۱)

ترجمـه: لـه ابن عمر رضی الله عنهما نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: متوجه اوسی چې هر یو د تاسې شپون دی او هر یو د تاسې د خپل رعیت په باب پوښتیدونکی دی.

او په بل ځـای کې یې فـرمـایلي دي: « چا ته چې د مسـلمـانانو چارې ورو سپارل شي، او هغه د رعیت چارو ته ځـان ونه رسـاوه او شپه یې بې غـمه تیره کړه، زما له امته نه دی »د راشده خلیفه ګانو او نورو مسلمانانو تاریخ د مسلمـانانو او رعیت چارو ته د ځـان رسونې په اړه د یوه ژوندي احسـاس ښې نمونې وړاندې کـوي لکه چې د شپې له خوا د مدینې په کوڅو او شاوخوا کلیو کې د حضرت عمر رضی الله عنه ګرځیدل د دې احساس یوه ښکاره بیلګه ده.

۱۲ ـ د جومات امام وظیفه لري چې د کلي د خلکو بچیانو ته اسلامي زده کړه ورکړي او د دین په چارو کې یې په عـقیـدتي او عـبـادتي مسـایلو پوه کړي. په همدې توګه د مسـلمـانانو اولوا الامر دنده لري چې د علم او فرهنګ او د هیواد د بچیانو د سالمې روزنې لپاره د ښوونې او روزنې زمینه مساعده کړي

(۱) متفق علیه .

هیواد د جهل له تیارونه د علم د رڼا په لوري بوځي، چې د دې کار لپاره د جوماتونو، مدرسو او ښوونځیو او علمي او روزنیزو واحدونو تاسیس ورته د هغه د کارونو یو مهم جزدی او د ژوندانه د چارو د ستونزو د اوارولو لپاره باید سهي اقتصادي پلانونه وضع شي او خلک مسؤولیت لري چې په دې برخو کې له حکومت سره لازمي همکاري وکړي او د دې لپاره چې دا عمل په ښه توګه سرته ورسیږي باید اولوا الامر پخپله له خلکو سره په تماس کې شي ستونزې یې له نژدې نه وګوري، او چې کله هم وغواړي یو مطلب خلکو ته ورسوي باید پخپله خلکو ته وینا وکړي؛ ځکه د دې خبرې له بل هر چا نه که څه هم له ښه اسلوب نه برخمن نه وي، ډیر اغیز لري لکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چا ته به چې غوښتل یې ایمان راوړي پخپله د دین ښوونه کوله، او تر هغه وروسته راشده خلیفه ګانو هم همدا کار کاوه او پخپله یې د امامت او جمعې د خطبو چاري پر غاړه درلودې.

۱۳ـ بالاخره د همدې ورته والي په خاطر چې د جومات د امامت او ملت د رهبری تر منځ موجود دی، شریعت حکم کوي، چې څوک د خلکو د رهبری او کبري امامت دنده پر غاړه ولري، دا چې د لمانځه وخت را ورسیږي دا که د پنځو وختونو لمونځونه وي یا د جمعې او یا هم د اخترونو، پخپله اولوا الامر دې مخکې شي او لمونځ دې ورکړي. او طبیعي ده چې هر څوک د حکومت او خپلې دندې په محدوده کې د اولوا الامر حیثیت لري، حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د رسالت او پیغمبری دنده درلوده د ژوند تر وروستیو شیبو پورې یې د امامت چاري پخپله سرته رسولې او د هغه تر رحلت وروسته راشده خلیفه ګانو د هغه تګلاری ته دوام ورکړ حضرت عمر رضی الله عنه په داسې حالت کې شهید شو چې خلکو ته یې جمع ورکوله، طبیعي ده چې هغه مهال به چې چا د امامت دنده درلوده د جهاد د قوماندانۍ دنده یې هم درلوده.

۱۴ - کـه چیری د جـومـات امـام پخپله دنده کی بی پروایی او ناغیـړی کـوی، لازم شرطونه رعـایت نکړی او د خلکو خبرو او مکررو غـوښتنو ته غوږ نه ایښودلو ته دوام ورکړی او خلک یی په اصلاح کی بی وسه شی؛ نود ګوښه کولو په باب یی تصمیم نیسـی ؛ له امامته یی لری کوی او بل څوک پر دی دندی ټاکی او د اولوالامر په باب هم کله چی د ملت سرپرست پخپله دنده کی پاتی راشی اود پوهو خلکو خبری ورته ورسی او بیاد خیراوصلاح لاره پریږدی؛ نو د ملت نمایندګان چی د اهل عقد وحل د نمایندګانو په بڼه کی حاضر دی د هغه په باب تصمیم نیسی، که یی د هغه ګوښه کول مناسب وګڼل، هغه ګوښه او بل څوک یی پرځای ټاکی او داهل عقد و حل دشورا دنده هم همدا کار دی .

اوس د لمانځـه د امامت او ملت د سرپرستی یا کبری امامت پرتله کول چی د دواړو بهیر (جریان ) مو څنګ په څنګ کښیښود ، دی مطلب ته رسیږو لکه څرنګه چی لمونځ داسلام په سیاسی نظام کی یو کوچنی مثال دی، اداره او د هیواد سیاسی نظام هم د خلکو حق دی او په هغه کی لکه د جماعت د لمانځه په بحث کی مو چی ذکر کړه ، په دی برخه کی هم ملت نیغ په نیغه له حکومت او اجراآتو سره یی کار لری او ممکنه نه ده چی ملت له حکومت او حکومت له ملته جلا او په یوازی توګه کوم کار پر مخ بوځی اوس ګورو چی ایا د پوهو خلکو د اکثریت غوښتنی په اسلامی نظام کی پیاده شوی دی او که نه!

اوس نو هر بی پری فهیم، متفکر او عالم انسان، اسلامی نظام لکه د مخه مو چی شرح کړ، مطالعه کړی ؛نو خامخا به پردی خبره اعتراف وکړی چی داسلام سیاسی نظام، د اولس ایدیالی غوښتنی له ځانه سره لری او د اولس ارمانی غـوښتنی په کی تر سره کیږی په دی نظام کی د خلکو ټول حقونه، د خلکو د سر او مال، حیثیت او ابرو ، ازادی او عدالت تضمین او د ظلم او استبداد او اختناق مخه نیول شوی ده او خلک د بیان له ازادی او

معقولو سیاسي حقونو نه برخمن دي، څوک نه شي کولای له دي نظامه د ځان په گټه کار واخلي او یا د نورو حقونه تر پښو لاندې کړي په دي نظام کي ټول خلک سره وروڼه دي مرییتوب او یوه انسان ته د بل انسان سر ایښودل په کي نشته، په دي دین کي ټول خلک د الله تعالی بندگان دي ټولو هغه ته سر ایښي، د پرمختگ په لار کي یي سره لاسونه ورکړي او ټول په یوه ارام او ډاډه زړه د دنیوي اخروي نیکمرغي په لور گامونه اخلي دا هسي تشه او خیالي خبره نه ده؛ بلکي هغه حقیقت دي چي د اسلام له ویاړه ډک تاریخ یي له پیړیو راایسي شاهد دي؛ لکه چي مستندو روایتونو پرته له دي چي څه تري کم یا پري ورزیات کړي، دغه حقایق وروستنیو نسلونو ته انتقال کړل او که داسي نه واي؛ نو ممکنه نه وه چي د روم او فارس امپراتوري په لږ وخت کي ورته په گونډو شي او په راتگ، سره یي خپل ځای هغه ته پریږدي .

دځمکي پرمخ د اسلام چټکه خپریدنه د توري او زور محصول نه و؛ بلکي د توري وظیفه د دعوت له لاري نه د خنډونو لري کول وو، چي محروم او مظلوم اولسونه خپله تنده د اسلامي دعوت په ژوند بخښونکو اوبو کښینوي، او د مرییتوب زنځیرونه له خپلو لاسونو نه مات کړي هغه وخت چي خلکو ته د اسلام دعوت ورسید او حقیقتونه ورته روښانه شول، اسلام ورته حکم وکړ:

﴿لا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَد تَّبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ ﴿٢٥٦﴾﴾ [البقرة: ٢٥٦]

ترجمه: نشته هیڅ زور په (منلو) د دین کي په تحقیق سره ښکاره شوی ده سمه لاره (د ایمان) له گمراهی (کفر) څخه.

او ورته یي فرمایلي دي:

﴿وَقُلِ الْحَقُّ مِن رَّبِّكُمْ فَمَن شَاءَ فَلْيُؤْمِن وَمَن شَاءَ فَلْيَكْفُرْ ﴿٢٩﴾﴾ [الكهف: ٢٩]

ترجمه: ووايه ( اى محمده! دوى ته چې اسلام او قرآن) حق دى له رب ستاسي، پس هر څوک چې اراده (دايمان) وکړي نو ايمان دې راوړي! او هر څوک چې اراده (دکفر) وکړي نو کافر دې شي.

داسلام د صدر مسلمانانو او مجاهدينو دين په دې روحيه خلکو ته ورساوه او د خپل درانه پيغمبر صلى الله عليه وسلم پيغام يې په دې توګه نړيوالو ته انتقال او خلکو ته يې حق ورکړ چې په قناعت او د نفس په خوښه او رضا سره په الله جل جلاله ايمان راوړي ځکه ايمان چې د قناعت له مخې او په خوښه سره نه وي الله تعالى ته هيڅ اهميت او ارزښت نه لري اسلام د خپلې همدغې پراخ نظرى له مخې د خلکو زړونو ته لاره وکړه، او حقپال زړونه او حق ليدونکي نظرونه يې ځان ته را جلب کړل، او د مختلفو قومونو او ملتونو خلک ډله ډله او فوج فوج ددې ژوند بخښونکي دين له کاروان سره ملګرى شول او ښه راغلاست يې ورته ووايه او که احياناً يې د مجاهدينو په وړاندي په جنګ لاس پورې کړ، دا جنګ د ملتونو په خوښه نه و؛ بلکې د هغوى تور زړو مشرانو لکه خس او خشاک د جنګ اور ته وروړاندې کړل چې تريوه وخته پورې د هغوى د جاه او جلال ساتنه وکړي او چې کله حقيقت ورته څرګند شو بيا په منډه ورسره ملګري شول او زياترو يې د خپل ضمير اواز ته لبيک ووايه.

دا مطلب مونږ ته ديوه بل اساسي حقيقت د موندلو لپاره لار راښيي او هغه دا چې يوازې ارماني او ايډيال نظام چې خلک يې غواړي خپل ژوند د هغه په چوکاټ کي تنظيم کړي د اسلام ژوند بخښونکي نظام دى او بس.

ددې لپاره چې د انسانانو برداشتونه سره توپير لري، تحليلونه يې يوشانته نه دي او استعدادونه او د پيښو په اړه يې تحليلونه سره توپير لري

د اوضاع او شرایطو او چاپیریال اختلاف په دې اختلاف کې مهم رول لوبوي او برسیره پر هغې، د انسان علم د الله تعالی د وینا له مخې، محدود دی لکه چې فرمایي:

﴿وَمَا أُوتِيتُم مِّنَ الْعِلْمِ إِلَّا قَلِيلاً ﴿٨٥﴾﴾ [الإسراء: ٨٥]

ترجمه: او نه ده درکړې شوې تاسې ته (برخه) له علم (پوهنې) څخه مګر لږ.

الله تعالی انسان پیدا کړی دی او د هغه له پټو رازونو خبر دی، هغه ته یې د هغه د فطرت او اړتیا سره سم استعداد ورکړی دی؛ نو کوم نظام یې چې ورته غوره کړی دی، د ژوند تر ټولو غوره نظام دی، لکه چې الله تعالی فرمایي:

﴿وَرَضِيتُ لَكُمُ الإِسْلاَمَ دِيناً ﴿٣﴾﴾ [المائدة: ٣]

ترجمه: او غوره کړ ما تاسې ته اسلام له جهته د دین (ډیر پاکیزه په ټولو ادیانو کې).

په دې توګه په غوڅ ډول ویلای شو چې:

اسلام د دې لپاره راغلی دی چې انسانان د انسان له بندګۍ نه وژغوري او د رښتینې خالق په لور یې وبلي او د هغه د ژوندانه نظام چې له طبیعت او فطرت سره یې هماهنګ دی ورته وښیي دا نظام چې په دنیا او اخرت کې د انسان د سعادت ضامن دی او هغه مقصود منزل ته چې د الله رضا او ابدي نیکبختي ده رسوي چې په دې توګه باید سیاسي قدرت د اسلام په لاس کې وي او سیاست او تنظیم باید په اسلام توجیه او رهبري شي.

په پای کې یو ځل بیا په تاکید سره وایو چې له دینه د سیاست د بېلتون عقیده د اسلام او مسلمانانو پر خلاف د دښمنانو له تبلیغاتي اهدافو څخه دی

او غواړي چې دين له ژوندانه نه جلا کړي او که څوک پوهيږي او دا ډول خبرې له خولې نه راوباسي دا د کفر عقيده ده او که د ناپوهي له وجې وي پر مسلمانانو لازمه ده چې ځان د دين له تعليماتو نه خبر کړي .

دا وو د دين او سياست او د اسلام د سياسي نظام په باب لنډ معلومات چې مثال مو يې د جماعت په لمانځه کې وښود او د « اسلام د سياسي نظام » او د هغه د عمده ارکانو د تشريح په اړه به إن شاء الله بله رساله د لوستونکو مخې ته کېښيږدم.

( وَمِنَ اللّٰهِ التَّوْفِيْق )

* * *

* *

*

اسلام او سیاست

استاد سیاف

* اسلام دنیا او آخرت پوری اړوندو چارو کی په وګړنیز او ټولنیز ژوندانه کی په ذهنی او قلبی توګه د خپلی خوښی له مخی بی له قید او شرطه د عالمیانو پالونکی ته چی د عبادت یوازنی وړ ذات دی له غاړی ایښودلو نه عبارت دی.

* دغه برنامه چی الله تعالی د انسان لپاره ټاکلی ده او ددین په بڼه یی د اسلام په نامه د خپل استازی په وسیله ورلیږلی او د هغه پیروی د ژوندانه په ټولو برخو کی واجب او لازم ده او بل هر نظام او پلان چی له الله تعالی پرته د بل چا له خوا د انسان د نیکمرغی لپاره وضع شی بی مفهومه او ناکامه ده او نه شی کولای بشر هغی مطلوبی نیکمرغی ته چی دی ورپسی روان دی، ورسوی؛ بلکی د عقل، منطق او تجربی په حکم به یی ژوند له اختلال او هرج و مرج او بدبختی سره مخ شی او پای به یی تباهی او بربادی وی.

* د اسلام منل او بی له قید او شرطه الله جل جلاله ته غاړه ایښودل او په وروستنی آسمانی دین التزام چی له اسلام نه عبارت دی د انسانی ژوندانه د ټولو ستونزو د حلولو او اوارولو کلی ده.

* کله چی خلقت، امر او دستور د الله تعالی وی نور څوک حق نه لری چی د انسان لپاره د ځان له خوا نظام او قانون جوړ کړی او د هغه رعایت واجب العمل وګرځوی.

* خدای تعالی، پیغمبر صلی الله علیه وسلم پر دی مکلف کړی دی چی پیغام یی ټول بشریت ته ورسوی او انسان د خپل همنوع له بندګی او د وضعی نظامونو له ظلم او تیری نه یی وژغوری او د اسلام د ژوند بخښونکی سیوری په لور، لار ورونښیی.

(د کتاب له متن څخه)